

# شیعه پېژندنه

Ketabton.com

لیکوال: نصیراحمد "ستانکزی"

۱۴۰۳هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب نوم: شیعه پېژندنه

لیکوال: نصیراحمد عاصم "ستانکزی"

کمپوزر: په خپله لیکوال

د چاپ شمېر:

د چاپ کال: ۱۴۰۳هـ ش

برېښنالیک: Nasirahmadstanikzai2019@gmail.com

شماره :0782271992-0765100136

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهریست


سریزه........................................................................................۱
شیعه لغوي مانا.......................................................................۲
شیعه په اصطلاح کې...........................................................۲
د شیعه ګانوظهور او پیدایښت.............................................۳
د حضرت علي چوپتیا..........................................................۴
د شیعه ګانو ډلې....................................................................۴
امامیه.............................................................................................۵
د جعفریه انشعابي ډلې.............................................................۵
زیدیه..............................................................................................۶
اسماعیلیه........................................................................................۷
کیسانیه............................................................................................۸
د شیعه ګانو امامان........................................................................۹
د امامانو لنډه پېژندنه.....................................................................۹
د امام د اثبات دلایل....................................................................۱۳
شیعه ګان د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په وخت کې...........................۱۵
د شیعه ګانو استقامت....................................................................۱۵
د شیعه ګانو حکومتونه...................................................................۱۶
د اهل سنت او اهل تشیع توپیر په څو کرښو کې...........................۱۷
د شیعه ګانو تعداد.........................................................................۱۸
شیعه ګانو ته ولې روافض وایي.....................................................۱۸
د شیعه ګانو اخترونه.....................................................................۱۹
د غدیر اختر.................................................................................۱۹
د جمعي اختر...............................................................................۲۰
فقه او شیعه..................................................................................۲۰
د شیعه ګانو مذهبي ځایونه.........................................................۲۱
عربستان........................................................................................۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

عراق..................................................................۲۲
ایران..................................................................۲۳

د شیعه ګانو د مذهب اصول – اصلي صول

۱. توحید..........................................................۲۴
۲. نبوت............................................................۲۵
۳. معاد او قیامت................................................۲۶
۴. امامت............................................................۲۶
۵. عدل..............................................................۲۶

فرعي حکام

۶. عصمت..........................................................۲۶
۷. علم غیب.......................................................۲۷
۸. ولایت...........................................................۳۲
۹. مهدویت........................................................۳۴
د امام مهدی صاحب ظهور څه وخت او چیرته کیږی.................۳۴
۱۰. غیبت..........................................................۴۲
۱۱. انتظار.........................................................۴۴
۱۲. رجعت.........................................................۴۵
۱۳. بداء............................................................۴۹

دوهم فروع – عبادي احکام

۱،لمونځ، ۲،روژه، ۳،زکات ۴،جهاد ۵،حج او خمس................۵۳

غیر عبادي احکام

۷. امربالمعروف، نهي له منکر........................................۵۷
۹. تولي او تبري..................................................۵۹

دریم اخلاقي - فضایل

۱. کظم غیظ......................................................۶۰
۲. سخاوت........................................................۶۲
۳. توکل............................................................۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

رزایل

۴. تکبر................................................................۶۴
۵. ریا....................................................................۶۶
۶. حسد...................................................................۶۹
۷. چغلي..................................................................۷۴
په ملائکو د شیعه ګانو ایمان.............................................۷۴
زیارت او شیعه ګان.....................................................۷۵
تقیه.....................................................................۷۶
قمه زني.................................................................۸۶
سینه زني................................................................۸۶
د شیعه ګانو مهمي پيښي او ورځي......................................۸۷
د محرم ویر.............................................................۸۷
د فاطمیي ورځي.........................................................۸۸
اربعین...................................................................۸۸
تاسوعا...................................................................۸۹
عاشورا..................................................................۸۹
د مباهلي آیت...........................................................۹۰
عیدالزهراء(د زهراء اختر)..............................................۹۲
د شعبان نیمایي (نیمه شعبان)..........................................۹۳
د حسیني ماشومانو راتولیدنه...........................................۹۳
افغانستان ته د شیعه مذهب راتګ......................................۹۳
په افغانستان کي شیعه مذهب:..........................................۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

**الحمدالله رب العالمین، و الصلاة و السلام علی إمام الهداة المرسلین، و علی آله و أصحابه الذین أناروا الدنیا بنور الدین، و علی من تبعهم بإحسان و نشر الهدی إلی یوم الدین اجمعین.**

د اسلام له پیل راهیسې بیا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له رحلت وروسته د اسلام زیاتو دښمنانو غوښتل چې یاد دین بدنام او تخریبي کړنې ورکې رامنځته کړي، خو د الله جل جلاله په فضل او مهربانۍ سره دا مبارک دین نه یوازې دا چې بدنام او ضعیفه شو بلکې نور هم غښتلی او مخ پر ودې روان شو. خو لږ شانته د مسلمانانو بې غورۍ او بې اتفاقۍ د دې لامل شوه چې مسلمانان په ډلو سره وپاشل شول. د اختلافونو په پیل کې د مسلمانانو ترمنځ اختلاف دومره نه ؤ لکه چې نن کومې مرتبې او پایلې ته رسېدلی ده لکه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته د خلافت او امامت پر سر چې د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت علي رضي الله عنهما د پلویانو ترمنځ کوم اختلافات پیداشول په دومره کچه نه ؤ چې یو په بل د کفر ټاپې ولکوي، خو نن چې مونږ او تاسو ګورو نه یوازې دا چې یو په بل تکفیري ټاپې لګوو بلکې یو د بل وینو او سرونو ته هم ناست یو. دا چې دومره اختلافات د کومو لورو او څنګه پیداشو په دې نیمګړي کتاب کې به یې ووېیژنو.

لومړی د الله جل جلاله څخه شکر اداء کوم، چې ماته یې د دې توفیق راکړ، تر څو د نورو لیکوالانو په څېر د مطالعې خوښونکو د معلوماتو د ډېریدو او لا غښتلتیا لپاره یو څه را ټول او یو اثر ترې جوړ کړم. دا چې زموږ او ستاسو په مورنۍ ژبه پښتو کې نسبت نورو ژبو ته هر ډول په ځانګړي توګه معلوماتي کتابونو په کمه اندازه پیدا کیږي، نو پر موږ ټولو خصوصاً د ادب لارویانو ته لازمي ده چې خپلې ژبې ته د خدمت په موخه او د لا پیاوړتیا لپاره هلې ځلې وکړو، یو خو به مو معلومات زیات شي او له بله پلوه به مو خپلې ژبې ته یو څه کړې وي. نو په دې اساس ما هم وغوښتل چې د (شیعه پیژندنه) په نامه یو اثر چمتو کړم او تر تاسو یې در ورسوم.

د دې کتاب د چمتو کولو لپاره مې له مختلفو کتابونو، مقالو او انټرنیټي سایټونو څخه استفاده کړې ده. په دې اثر کې د قرآن عربي متن او پښتو ژباړه د خپل هېواد د نامتو عالم قیام کشاف چې د کابلي تفسیر په نامه یادیږي را اخیستل شوې ده.

دا چې دا زما لومړی اثر ده، کېدای شي یو څه کمی او زیاتی پکې شوی وي. لومړی د الله جل جلاله ښښنه او مغفرت راته وکړي بیا تاسو. إن شاء الله زه به نور هم تر ډېره برېده هڅه او کوښښ وکړم چې ستاسو (مطالعې خوښونکو) ته په دې شان نور کتابونه ترتیب او تألیف کړم. ما ته دې هم الله جل جلاله توفیق راکړي چې په دې ډګر کې نور هم پر مخ ولاړ شم.

په درنښت

نصیراحمد "ستانکزی"

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شیعه لغوي مانا

شیعه په لغت کې دوو معناو ته کــارول کیږي، لـومړی پر یوو مطلب د څو نفرو توافق او همغږي او دوهم پیروي کول د یو شخص یا ډلې د بل شخص یا ډلې څخه. په عربي ژبه کې یو، دوه یا ډیرو پیروانو او تابعدارانو ته وایي په قرانکریم کې دا لفظ څـو واري د دغه معناو لپاره کارول شوی ده. وَدَخَلَ الْمَدِينَةَ عَلٰـى حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَـا فَوَجَدَ فِيهَـا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِـلَانِ هٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَ هٰذَا مِنْ عَدُوِّه. [سورت القصص ۱۵ آیت]

ژباړه: یوه ورځ موسی علیه السـلام د مصر ښارته په داسې وخت کې داخل شو چې د ښار خلك په غفلت کې وو(د غرمې په خـوب ویده وو). هلته هغه د دوو تنـو جنګ ولید. دا یو د هغه د خپـل قوم څخه ؤ او دا بل (قبطي) د هغه د دښمن په قوم پوري مربوط ؤ.

## شیعه په اصطلاح کې

شیعه د مسلمانانو هغې ډلې ته وایي چې په خلافت او امامت د علي رضی الله عنه ایمــــان لـري. د یوشیعه عــــالم په وینا د شیعه لفظ سره که (الف، لام) یعنې الشیعه وویـل شـو د حضـــرت علي رضي الله عنه پیروانو یا هغه چاته ویل کیـږي چې ورروسته له پیغمبر صلی الله علیه وسلـم څخه د حضرت علي رضـي الله عنه په امامت او ولایت ایمان ولري. یا شیعه هغه چاته وایي چې د اهل بیت سره مینه لري او حضرت علي رضـي الله عنه له حضرت ابوبـــکر صدیق،عمر او عثمان رضـي الله عنهما څخه مقدم او غوره ګني.

د شیعـه ګانو په وینا د حضــرت علي رضی الله عنه پیـروانو ته د شیعه لفظ د لــومړي ځل لپاره رسـول الله صلی الله علیه وسـلم وکـارو، دوی وایي چـې سیوطي له جابر بن عبدالله انصـاري، ابن عباس اوعلــي رضـي الله عنه څخه روایت کــړی ده، چې رسـول الله صلی الله علیه وسلم د د دغه آیت (إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ أُولٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ. [سورت البینه: ۷]

ژباړه: کومو خلکو چې ایمان راوړی او ښه عملونه یې کــړي دي، هغوی په رښتیا سره تر ټولو خلکو ډیر غوره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تفسير کې حضرت علي رضي الله عنه ته په اشـارې سره وويل: ته او ستا پلويان(شيعه ګان) به د قيامت په ورځ له رېښتينو خلکو څخه ياست.

## د شيعه ګانو ظهور او پيدايښت

د مسلمانانو ترمنځ چې کوم اختلافات پيدا شول د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وخت کې نه ؤ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم له رحلت څخه وروسته داسې اختلافات د مسلمانو ترمنځ را پيداشو چې مسلمانان يې په څو ډلو وويشل. د رسول الله صلى الله عليه وسلم له رحلت څخه وروسته يو لوی اختلاف د خلافت او امامت پر سر ؤ.

يو ډله په دې عقيده وه چې امامت د نبوت په څېر يو الهي مقام او منصف ده، د امام شرايط دا ده چې له ګناه څخه معصوم او پاک دي او له الله جل جلاله څخه پرته بل څوک پر دغه صفت نه پوهيږي. د امام د ټاکلو لار الهي نص ده چې په قرآن او نبوي احاديثو کې شوی ده. د دغو نصوصو په اساس حضرت علي رضي الله عنه د رسول الله ځايناستی ټاکل شوی ده. حضرت علي رضي الله عنه او يوه ډله مشران صحابه چې د انصارو او مهاجرينو څخه ؤ د دغې نظرې پلويان ؤ، شيعه ګان د همدغې ډلې پيروان دي.

بله ډله چې په سر کې يې حضرت ابوبکر صديق او عمر رضي الله عنهما ؤ په دې عقېده ؤ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل ځايناستی نه ده ټاکلی، دا کار يې خپله مسلمانانو ته پريښی ده، د انصارو او مهاجرو يوه ډله په سقيفه بني ساعده کې سره راټول شوي ؤ، تر څو د رسول الله صلى الله عليه وسلم ځايناستی يا خليفه وټاکي په اخر کې حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د مسلمانو خليفه وټاکل شو.

## د حضرت علي رضي الله عنه چوپتيا

شيعه ګان وايي چې په هغه وخت کې د نړۍ سياسي او اجتماعي وضعيت په داسې شکل ؤ چې حضرت علي رضي الله عنه او پيروانو يې د خپلې عقيدې ښودلو او عملي کولو لپاره په خصمانه اقداماتو لاس پورې کوو، خو د اسلام موجوديت ته د خارجي دښمنانو(د ايران او روم امپراطورۍ) او

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخلي دښمنانو(منافقینو) له لوري ورته خطر متوجې ؤ. نه يې غوښتل چې اسلام ته صدمه ورسيږي. حضرت علي رضي الله عنه له صبر څخه کار اخيسته خو په مناسب وخت او موقع کې د دوی په وينا دغه ناوړه عمل بيانوو، نه يې غوښتل چې په خپلو منځو کې سره دښمني وکړي خو د اسلامي ټولنې په مخته تک، هدايت او د اسلام دين په خپرولو کې يې زيات کوښښ کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شیعه ګانو ډلې

د شیعه ګانو په مذهب کې ډیرې ډلې راغلې دي، چې عبارت دي له دولس امامه، زیدیه، اسماعیله، کیسانیه، غالیان او واقیفه. بیا په دې کې ځینې ډلې په مختلفو فرقو ویشل شوي دي. لکه د زیدیه ډله چې په لسو فرقو همداشان کیسانیه چې په څلور فرقو(شاخو) ویشل شوې ده. باید وویل شي چې ډیرې ډلې یې منقرض شوي دي، بحث پرې کول ګټه نلري، اوس مهال چې کومې ډلې موجودې دي عبارت دي له دولس امامه، زیدیه، اسماعیله چې هر یوه به یې تر بحث لاندې ونیسو.

### لومړۍ: دولس امامه یا جعفریه

دولس امامیه ډله چې (اثنا عشره) ورته وایي، یوه له لویو ډلو د شیعه مذهب څخه دی. دغه ډله د شیعه ګانو پنځه اتیا سلنه تقریباً یوسلو پنځوس میلیونه جمعیت تشکیلوي د دغې ډلې په وینا وروسته له وفات د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه دولس امامه چې لومړی یې حضرت علي رضي الله عنه او وروستی یې حجت بن الحسن (امام مهدي) دی چې تر اوسه ژوندی ده او غیب ده، او د حضرت عیسی علیه السلام د راڅرګندتیا سره هم محاله را څرګندیږي په دنیا کې به عدالت روالي او دجال به له مینځه څخه وړي. دوی په دې باور دي چې دولس امامه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیاسي او معنوي ځایناسي دي، امامان نه یواځې په اسلامي امت په عدالت سره حکومت کوي، بلکې په دې قادر دي چې د شریعت حفظ او تفسیر وکړي او د قرآن په باطني مانا هم پوهیږي، د دغې ډلې په وینا امامان معصوم دي. دغه ډله په رجعت او بداء خاصه عقیده او باور لري. دوی وایي چې کله امام مهدي را څرګند شي ځینې مړي به بیرته (جعت) وکړي یعني را ژوندي به شي او دغه را ژوندي شوي انسانان د شیعه ګانو دوستان او د اهل بیت دوښمنان دواړه وي تر څو په دې دنیا کې هم د خپل کړي عمل سزا وویني. او بداء دې ته وایي چې الله جل جلاله د مصلحت په خاطر هغه امر ته چې پیغمبر او امام ته یې کړی تغیر ورکوي او پر ځای یې د بل څه امر ورته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ډلې لوی محققان او عالمان: شیخ مفید ۳۳۸-۴۱۳ ق، شیخ طوسی ۳۸۵-۴۶۰ ق، خواجه نصیرالدین طوسی ۵۹۷-۶۷۲، علامه حلی ۶۴۸-۷۲۶.

د ایران شیعه ګان چې نوي په سلو کې د دغه هېواد جمعیت تشکیلوي د دغې ډلې لارویان دي او رسمي مذهب یې همدا اثنی عشره ده. همدارنګه په عراق او آذربایجان کې هم شته. په بحرین، لبنان، هند، پاکستـــان، افغانستان سعودي عربستان ، بنګلادش، کویت، عمان، امارات، قطر، نیجریه، چاد او تانزانیا هیوادونو کې اقلیت مذهب دی.

د جعفریه لفظ د شپږم امام جعفر(امام صادق) نه تر دولسم امام پیروانو ته کارول کیږي. دا ځکه چې له امام جعفر څخه د شیعه فقهې زیات مسایل روایت شوي دي نو په دې وجه شیعه فقهې ته جعفري فقه او شیعه مذهب ته جعفري مذهب وایي.

## د جعفریه انشعابي ډلې

واقفه: د غالیانو یوه ډله چې د عبدالرحمن بن محمد چې د شیعه مذهب متکلم ؤو پیروان ؤ، په دې عقیده دي چې امام جعفر(صادق) نه ده شهید شوی بلکې غایب شوی او بیرته را څرګندیږي.

بله ډله چې بهره داوودیه له شاخو څخه ؤه، د اسماعلیانو څخه جلا او اهل سنت ته اوښتي ؤه، په نهمه پیړې کې په دې ډلې کې یو کس چې د شیراز اوسېدونکی ؤ نوم یې جعفر ؤ په دې وجه ورته جعفریه وایي.

## دوهمه: زیدیه ډوله

دغه ډله د زید چې د امام سجاد زوی ته منسوبه ده. د دوی په عقیده یواځې حضرت علي، حسن او حسین رضي الله عنهما د امامت لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري غوره شوي دي. له دغو دریو امامانو پرته که د بي بي فاطمې رضي الله عنها له اولادې څخه څوک عالم،زاهد او سخاوتمند ؤ او قیام یې وکړ امام ده. په زیدیه ډله کې ځیني یې د حضرت ابوبکراو حضرت عمر رضي الله عنهما خلافت قبلوي او ځیني ورسره مخالف دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یمن زیدیان هغه څوک دي چې د حضرت ابوبکر او عمر رضي الله عنهما خلافت او امامت مني. جارودیه، صالحیه او سلیمانیه دغه درې فرقې د زیدیه ډلی مهمې او اصلي فرقې دي. د (المِلَل والنِحَل) کتاب لیکونکي شهرستاني په خبره زیدیان په کلام کې له معتزله په فقه کې د حنفي مذهب او له څلور واړو اهل سنت مذاهبو څخه متأثره دي. د یمن هېواد د شل میلوني نفوس څخه پنځه دیرش نه تر څلویښت سلنه پورې زیدیان تشکیلوي.

## دریمه : اسماعیلیه

دې ډلې ته شپږ امامه، قرامطه، سبعیه، باطنیه هم وایي.

اسماعیلیان هغه څوک دي چې تر امام صادق پورې امامان ورته د منلو دي وروسته له صادق د هغه مشر زوی اسماعیل د امام په توګه مني، دوی د امامیه ډلې له امام صادق څخه وروسته نور امامان نه مني، وروسته له امام صادق څخه د ده مشر زوی اسماعیل او محمد چې د اسماعیل زوی ده د امام په توګه مني او وایې چې همدغه (محمد) امام مهدي ده.

دغه ډله د اسماعیل څخه وروسته په نورو امامانو کې په یو نظر نه دي ځینو چې واقیفه یا خالص اسماعیله ورته واي ویلې چې خپله اسماعیل مړ شوی نه ده بلکې غیب شوی ده، تر هغه نه مړ کیږي چې د ځمکې حاکم نشي. بله ډله چې قرامطه ورته وایي د اسماعلیل په مرګ قایل دي وایي: آمامت د اسماعیل حق ؤ د هغه له مرګ څخه د هغه زوی محمد ته انتقال شو. یو بله ډله چې مبارکیه ورته وایي محمد بن اسماعیل امام مهدي بولې، دوی وایي د امامانو لړۍ نه ده دریدلې بلکې تر ننه جاري ده.

شیخ مفید چې د امامیه ډلې مخکښ عالم ده وایي: اسماعیل د امام صادق مشر زوی ؤ، امام صادق له هغه سره زیاته مینه درلوده، اسماعیل کله چې پلار یې ژوندی ؤ، په عریض (مدینې ته نږدې یو دره ده) وفات شو، خلکو یې جنازه امام صادق ته چې په مدینه کې ؤ راوړه او په بقیع حضیره(هدیره) کې خاور ته وسپارو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام صادق د خپل زوی په مرګ ډېر غمجن ؤ، روایت دی چې په لوڅو پښو د خپل زوی تابوت پسې روان ؤ، په څو ځایو کې د ده په امر تابوت له اوږو ښکته شو، او په هر ځل امام صادق د ده مخ لوڅو او هغو خلکو ته چې د ده د امامت او ځایناستي ګمان یې درلود وښایي چې د اسماعیل مرک یقیني ده او د ده د ژوندي پاتې کیدو شک تري لرې شي، په دې سره ډېر کسان د اسماعیل له امامت څخه تېر شول او په کمه اندازه کسان چې نه د امام صادق خپلوان اونه د خبرو یې راویان ؤ په دې باور ؤ چې اسماعیل ژوندی ده او وروسته له خپل پلار څخه امام ده.

د امامیه ډلې په اند چې قرامطه ډلې امام له نوي شریعت او رسالت سره معرفي کوو او د حضرت محمد صلیﷲعلیه وسلم شریعت یې منسوخ کړی وو د دوی په اند دا یوه سیاسي ډله ؤه نه مذهبي.

د اسماعیلیه ډلې لومړي حکومت په ۲۹۷ قمري کال کې جوړ چې فاطمیون نومېده، خو په ۵۶۷ قمري کال کې د صلاح الدین ایوبي لخوا ړنګ شو.

اوس مهال دغه ډله په دوو آغاجانیه او بُهرطیه طایفو ویشل شوې ده.

اسماعیلیان په ظاهره(ښکاره) ډول په شریعت باندې تمسک صحیح نه بولي. د جنت او دوزخ په جسماني شتوالي ایمان نه لري او د ارواحو په پیل او پای ایمان لري. د امامیه په څېر په لمونځ روژې، او خمس باور لري، د اوو آسمانونواو ځمکو شتون اوو امامانو ته اشاره ده. د شریعت د باطن ګرایي په اساس اسماعیلیان وایي چې عیسی علیه السلام د یوسف نجار زوی ؤ او د قران دا خبره چې عیسی علیه السلام پلار نه درلود په دې مانا ده چې معلم یې نه درلود. له قیامت څخه مانا د خپل وخت د غیب امام قائمیدل دي.

## څلورمه: کیسانیه

دا ډله د محمدحنفیه پیروان دي چې د امام حسن او حسین ناسکه ورور د بي بي فاطمي رضي الله عنها زوی ؤ هغه خپله ځان امام نه بولو خو پلویانو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له مرکه افسانه جوړه کړه، هغه يې غايب او امام مهدي ترې جوړ چې يوه ورځ به را څرګنديږي.

## د شيعه ګانو امامان

د شيعه ګانو د هغو امامانو نومونه او خصوصيات چې په احاديثو کې راغلي دي، عبارت دي له:

۱ـ حضرت على بن ابى طالب رضي الله عنه

۲ـ حضرت حسن بن على رضي الله عنه

۳ـ حضرت حسين بن على رضي الله عنه

۴ـ على بن حسين (امام سجاد)

۵ـ محمد بن على (امام باقر)

۶ـ جعفر بن محمد (امام صادق)

۷ـ موسى بن جعفر (امام كاظم)

۸ـ على بن موسى (امام رضا)

۹ـ محمد بن على (امام جواد)

۱۰ـ على بن محمد (امام هادى)

۱۱ـ حسن بن على (امام عسكرى)

۱۲ـ حجت بن الحسن (امام مهدى)

## د شيعه ګانو د دولسو امامانو لنډه پيژندنه

**لومړی:** امير المومنين حضرت علي رضي الله عنه چې په ابو الحسن هم مشهور ده، کنيه يې حيدر، مرتضي، وصي او ولي ده، زمونږ د ګران پيغمبر حضرت محمد صلى الله عليه وسلم د تره زوی او زوم ده، د راشدينو خلفاؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه څلورم خليفه ده. په شپږ سوه ميلادي کال په مکه معظمه کې پيدا شو دا چې شيعه ګان يې د پيغمبرصلی الله عليه وسلم ځايناستی بولي، نو د امامت موده يې ۲۹کاله وه، خو اصل خبره دا ده چې حضرت علي رضي الله عنه د ابوبکرصديق، عمر او عثمان رضي الله عنهما څخه وروسته د اسلام څلورم خليفه ؤ چې د خلافت موده يې پنځه کاله وه. په ۶۶۱ ميلادي کال کې د ۶۱ کالونو په عمر په کوفه کې د خوارجي عبدالرحمن بن ملجم لخوا د زهري تورې په واسطه په داسې حال کې شهيد کړای شو چې په لمانځه ولاړ ؤ او د عراق د نجف په ښار کې خاورو ته وسپارل شو.

**دوهم:** حضرت امام حسن رضي الله عنه چې په ابو محمد هم مشهور ده لقب يا کنيه مجتبی ده ده چې په ۶۲۴ ميلادې کال کې په مدينه منوره کې پيدا شوی ده. د ګران پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د لور بي بي فاطمي رضي الله عنه لخوا لمسۍ او د حضرت علي رضي الله عنه زوی ده. حضرت حسن رضي الله عنه په کوفه کې د خپل پلار ځايناستی وټاکل شو. د امامت موده يی ۹ کاله ده، په عراق باندې له اوو مياشتو خلافت وروسته يې حضرت معاويه رضي الله عنه ته د يو تړون په اساس واک وسپاره. د شيعه ګانو په باور حضرت امام حسن رضي الله عنه په ۶۷۰ ميلادي کال کې د ۴۷ کالونو په عمر د خپلې ميرمنې لخوا د حضرت معاويه رضي الله عنه په دستور مسموم شو. چې قبر يې د مدينې په بقيع کې ده.

**دريم:** سيد الشهداء حضرت امام حسين يا ابوعبدالله رضي الله عنه چې د حضرت علي رضي الله عنه زوی او د امام حسن رضي الله عنه ورور په ۶۲۶ ميلادي کال کې په مدينه منوره کې زيږېدلی ده. لس کاله ی د امامت موده وه، په ۶۸۰ ميلادي کال کې د يزيد لخوا په کربلا کې د ۵۷ کالونو په عمر شهيد شو او د عراق په کربلا کې خاورو ته وسپارل شو.

**څلورم:** علي بن حسين يا ابومحمد چې سجاد، زين العابدين هم ورته وايي. په ۳۸ هجري او ۶۵۸ ميلادې کال کې په مدينه منوره کې نړۍ ته سترګې غړولي دي. د شيعه ګانو د علماؤ په نظرعلي بن حسين په ۹۵ هجري او ۷۱۲ ميلادي کالونو کې د ۵۷ کالونو په عمر د وليد بن عبدالملک په امر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسموم شو، مقبره يې د مدينې په بقيع کې ده. د نوموړي د امامت موده ۳۲ کلونو ته رسيږي.

**پنځم:** محمد بن علي يا ابو جعفر، بَاقِرُالعلوم، په ۵۷ هجري او ۶۷۷ ميلادي کال د امويانو د خلافت په دور په مدينه کې نړۍ ته سترکې غړولې دي. د اهل سنت او اهل تشيع علماؤ په اند د خپل وخت له بهترينو فقهاو څخه شميرل کېده او زيات شمير شاګردان يې درلودل، شل کاله د مسلمانانو امام وو،دا هم د نورو په څير۷۳۳ ميلادي کې د شيعه ګانو په اند د هشام بندعبدالملک په امر د ابراهيم بن وليد لخوا مسموم شو د ده مقبره هم په بقيع د مدينې کې ده.

**شپږم:** جعفر بن محمد يا ابو عبدالله چې په صادق هم پيژندل کيږي په ۷۰۲ ميلادي کال کې په مدينه کې زيږېدلی ده، دا هغه څوک ؤ چې جعفري فقهه يې تأسيس کړه او ډير علماء يې ترييت کړل. ۳۳ کاله يې امامت وکړ. جعفر بن محمد د ۶۷ کالونو په عمر ؤ چې په ۷۶۵ ميلادي او ۱۴۸ هجري د ابو جعفر عبدالله منصور لخوا مسموم شواو په مدينه کې خاورو ته وسپارل شو.

**اووم:** موسی بن جعفر يا لومړی ابوالحسن چې په کاظم هم پيژندل کېده، په ۷۴۴ ميلادي کال په مدينه کې زيږيدلی ده.۳۴ کاله يې د امامت دوره وه په ۷۹۹ميلادي کې په عراق کې د هارون الرشيد لخوا بندي او وروسته مسموم شو په بغداد کې د کاظمينو حرم کې خاورو ته وسپارل شو.

**اتم:** علي بن موسی يا دوهم ابوالحسن چې امام رضا هم ورته وايي، د عباسيانو د خلافت په دوره کې په ۷۶۵ ميلادي کال کې په مدينه کې زيږيدلی ده، د مامون رشيد وليعهد وټاکل شو،۱۸ کاله امام پاتې شوی ده. د مسلم او غير مسلم علماؤ سره د مباحثاتو له امله ډير مشهور شو بلاخره د شيعه ګانو په باور په ۸۱۷ ميلادي کال کې د ۵۵ کالونو په عمر د مشهد په طوس کې د مامون الرشيد مسموم شو او د ايران په مشهد کې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نهم:** محمد بن علي يا ابو جعفر چې د جواد او التقي په نامه هم يادېږي په ۸۱۰ ميلادي کال کې په مدينه کې زیږېدلی ده دا هم په ۷۳۵ ميلادي کال کې د ۲۵ کالونو په عمر د مامون الرشيد د زوم لخوا د ابو اسحاق محمد په امر سره په عراق کې مسموم شو. د بغداد په کاظمين کې قبر ده، د امامت موده يې اتلس کلونو ته رسيږي.

**لسم:** علي بن محمد يا دريم ابوالحسن چې په الهادي او التقي هم مشهور ؤ په مدينه کې په ۸۲۷ ميلادي کال د عباسيانو د خلافت په دوره کې پيدا شوی ده. ۳۳ کاله يې امامت وکړ په ۸۶۸ ميلادي کال کې کله چې علي بن محمد ۴۲ کلن شو په د عراق په سامرا کې د ابوعبدالله محمد معتز لخوا مسموم شو او الته د عسکرينو په حرم کې خاورو ته وسپارل شو.

**يوولسم:** حسن بن علي يا حسن عسکري چې ابومحمد هم ورته وايي په ۸۴۶ ميلادي کال په مدينه کې زيږېدلی ده د شيعه ګانو په اند دعباسيانو لخوا د زياتو بنديزونه سره مخ ؤ. ۲۸ کلن ؤ چې ۸۷۴ ميلادي کې د ابو محمد معتمد لخوا مسموم شو او د عسکرينو په حرم کې خښ شو، اوو کاله د مسلمانانو امام پاتې شوی ده.

**دولسم:** حجت بن الحسن، ابوالقاسم يا المهدي او الغايب په ۸۶۸ ميلادي کال کې په سامرا کې زيږيدلی ده. د امام مهدي په شتون شيعه ګان، سنيان او صوفيان باور لري خو دا چې همدغه مهدي ده، په دې کې يې سره اختلاف ده. د شيعه ګانو په اند مهدويت له ۲۶۰ هجري قمري کال راهيسې ژوندی ده چې تر اوسه پورې غايب ده او تر هغه وخته به غايب وي تر کومه چې الله جل جلاله وغواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د امام د اثبات دلایل

شیعه کان په دې عقیده دي چې امام او د پیغمبرصلی الله علیه وسلم ځـایناستی په شرعي نص سره ټاکل کیږي د حضرت علي رضی الله عنه او د شیعه ګانو د نورو ائمو امامت په شرعي نص سره ثابت شوی ده.

شیعه ګانو د خپلو ائمو د اثبات لپاره د قرآن د آیتونو او نبي کریم صلی الله علیه وسلم احادیث وړاندې کوي.دوی دا آیت (انما انت منذر و لکل قوم هاد)

ژباړه: ته یواځې ویرونکی یعني خبرونکی یې او د هرې ډلې لپاره لارښـود شته. شیعه مفسران وایي چې انذار(ویرونکی) پیغمبرصـلی الله علیه وسلم او لارښود حضرت علي رضي الله عنه ده. ځکه ابن عباس رضي الله عنه وایي چې پیغمبـر صلی الله علیه وسلم خپـل لاس په سینه کیښـود او وفرمـایل زه ویرونکی یم او وروستـه یې د حضـرت علي رضي الله عنه اوږې ته اشاره وکړه او وویل:(وانت الهادي یا علي! بک یهتدی المهتدون من بعدی)اې علي ته هدایت کونکی یې ستا په وسیله له ما څخه وروستـه هدایت شوو ته هدایت کونکی یې.

د الدرالمنثور تفسیر چې د اهل سنتو له مشهورو تفاسیرو څخه شمیرل کیږي د دغه آیت تفسیر په دې ډول کړی؛کله چې دغه سورت نازل شو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل لاس په مبارکه سینه کیښود او وویل: زه ویرونکی یم او وروسته یې د حضرت علي رضي الله عنه اوږې ته اشـاره وکړه او وې فرمایل: (وانت الهادي یا علي). دا ډول روایات د اهل سنتو په نوروتفاسیرو ابن صباغ مالکی په الفصول المهمه او ګنجی شافعی په کفایة الطالب، طبری په خپـل تفسیر، ابن حیان اندلسی په بحر المحیط و نیشابوری په خپل تفسیر حموینی په فرائد السمطین او نورو کې راغلي دي.

همدارنګه شیعه کان (یا أَیُّهَا الَّذینَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَ کُونُوا مَعَ الصَّادِقینَ) او (اطیعوا الله و اطیعوا الرسول و اولی الامر منکم) او داسې نور آیتونه د امام د اثبات لپاره دلیل نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات شمیر احادیث هم د شیعه ګانو په اند د امامت په مسئله کې شته چې ځینې یې دادي:

- ✓ په صحیح مسلم کې له زید بن ارقم څخه نقـل کوي چې د مکې او مدینې په مینځ کې الته چې یوځای کې اوبه وې (خم) نومول شوی ؤ،رسول الله صلی الله علیه وسلم د خطبې ویلو لپاره له مونږ څخه پاڅیده له حمد او ثنا ویلو ور وسته یې داسې وفرمایل: ای خلکـو زه هغه بشـر یم چې نږدې ده د الله جل جلاله حضور ته لاړ شم زه په تاسو کې دوه قیمتي څیزونه پریږدم لومړی د الله جل جلاله کتاب چې په هغه کې هدایت او نـور ده، منګولــې پرې خښې کړئ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم قـران ته د زیـات تشویـق او ترغیب کولو وروسته وویـل: دوهم اهل بیت مې! درته توصیه کــوم چې الله جل جلاله د اهل بیت لپاره له یاده ونه باسی، تـــاسو ته توصیه کوم الله جل جلاله د اهل بیت لپاره له یاده ونه باسی، تاسو ته توصیه کـوم چې الله جـل جلاله د اهـل بیت لپاره له یاده ونه باسی. د شیعه ګانو په اند دلته په اشارې سره یعنې د اهل بیت په باره کې الهي مسؤلیت له یاده مه باسی.
- ✓ د اهل بیت او امامانو په باره کې د شیعه ګانو په اند بل د سفینې حدیث ده، چې په شیعه او سني مذهبو کتـابونو کې را نقـل شوی ده. دغه حدیث تقریباً اتو صحابه کرامو(ابوذر،ابوسعید خدری، ابن عباس انس،عبدالله بن زبیر،عامر بن واثله، سلمة بن الاکوع او علی بن ابی‌طالب) را نقل کړی ده. ابوذر رضي الله عنه دا حدیـــث په دي ډول را نقل کړی ده ما واوریدل چې رســول الله صـــلی الله علیه وسلم وفرمایـل: (مثل اهل بیتی کمثل سفینة نوح فی قوم نوح، من رکبها نجی و من تخلف عنها هلک) زما اهل بیت ستـاسو په مینځ کې د نوح علیه السلام د کشتۍ په څیر دي، څوک چې په هغه کشتۍ کې سپاره شي وبه ژغورل شي او څوک چې ترې جلا شول هلاک به شي.

د دې حدیث په تفسیر کې ځینې شیعه مذهبه علمـــاء وايي: وروستـه له پیغمبر صـــلی الله علیه وسلم به په اسلامي امت د ګمراهۍ داسې طوفـان راشي چې ډیر به هلاک کړي، نو د دې مصیبت څخه د خلاصون لپاره به داسې څــوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

موجـود وي چې تول به وژغوري چې هغه اهل بیت دي. د دوی په وینا له شک پرته له اهل بیت څخه جلالوالی د هلاکت لامل کیږي.د شعیه ګانو په وینا د امامانو د امامت په باره کې زیاد معتبر روایتونه شته خو دلته په همدومره اندازه بسنه کوو.

## شیعه ګان د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په وخت کې

شیعه ګان د پیغمبر صـلـی الله علیه وسلم د رحلـت څخه څه موده وروستــه رابښکاره شول. ځینې روایات دي چې د شیعه لفظ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په وخت څلورو صحابو(سلمان، مقداد، ابوذر او عمار یاسر) ته کارول کېده. دغه د هغو کسانو له ډلې څخه ؤ چې د خلافت او امامت په مسئله کې حضرت علي رضي الله عنه یې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ځایناستي (خلیفه) په توګه مانه. د شیعه ګانو ځینې علماء په دې عقیده دي چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ژوندانه کې د حضرت علي رضي الله عنه تر شاوخوا څو تنه صحابه کرام ناست ؤ، له دې معلومیږي چې په هغه وخت کې هم شیعه ګان موجود ؤ.

د شیعه ګانو په اند په امامت کې د دوی نظریه د کتاب او سنت له نصوصو څخه مستند شوې ده، نو له دې سره ویل کیږي چې تشیع په حقیقت کې له اسلام سره ملګری او همکار ده، خو په اصل کې دغه مذهب د رسول الله صلی الله علیه وسلم له رحلت څخه وروسته را پیدا شو.

## د شیعه ګانو استقامت:

د شیعه ګانو په اند د حضرت علي رضي الله عنه هغه ملګري او پیروان چې د شیعو په نامه پیژندل کېدل د پیغمبرصلی الله علیه وسلم له رحلت څخه وروسته د اهل بیت د حقوقو بلخصوص د خلافت او مرجعیت د بېرته اخیستلو لپاره اعتراضونه شروع کړل. د شیعه ګانو په وینا زیاتره هغه اشخاص چې په زور، ناپوهی او تطمیع سره دې ته مجبور کړای شوي ؤ چې له حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره بیعت وکړي بیرته یې له بیعت څخه لاس واخیست. سلمان، ابوذر، مقداد، عمار او حذیفة بن یمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څوک وو چې له حضرت علي رضي الله عنه څخه يې تل ملاتړ کوو اوپه مختلفو وختو کې به يې د حضرت علي رضي الله عنه د حق دفاع کوله.
د شيعه ګانو په وينا د حضرت ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهما په وختونو کې شيعه ګان ډير تر فشار لاندې ؤ تر دې ځايه چې حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه حضرت عثمان او معاويه رضي الله عنهما په وخت کې د دې لپاره شکنجه کړ چې رښتيا يې څرګندوله وروسته د (ربذه) دښتې ته وشړل شو تر دې چې الته د غربت له وجې وفات شو. والله اعلم.

مالک اشتر، محمد بن ابی بکر، حجر بن عدی، جويرة بن مسهر، ميثم تمار، کميل بن زياد، رشيد هجری، قنبر .. چې د شيعه ګانو له مشرانو څخه ؤ حضرت معاويه رضي الله عنه په چل او فريب سره د شيعه ګانو په باور شهيدان کړل.

## د شيعه ګانو حکومتونه

د آل‌ادريس، علويانِ طبرستان، آل‌بويه، د يون زيديان، فاطميان، اسماعيليه سربدارانِ سبزوار، صفويه او د ايران اسلامي جمهوريت:

په مراکش او د الجزاير په ځينو برخو کې د آل ادريس لومړی حکومت ؤ چې شيعه ګانو جوړ کړ، دغه په ۱۷۲ ق کال کې د ادريس چې د امام حسن مجتبی لمسی ؤ جوړ کړ، چې دوه پيړۍ يې دوام وکړ.

د علويان حکومت زيدي ؤ. زيديان له ۲۸۴قمري کال څخه تر ۱۳۸۲ قمري کاله پورې پر يمن حکومت وکړ. د قاطميانو او اسماعيلیهٔ اَلَموت حکومت په اسماعيليه مذهب ؤ. د آل بويه حکومت څوک وايي زيدي او څوک وايي امامي ؤ ځيني وايي چې دا حکومت په لومړيو کې زيدي مذهبه ؤ وروسته د اماميه مذهب ته واوښتل.

سلطان محمد خدابنده چې په اولجايتو مشهور ؤ له ۷۰۳ قمري کال نه تر ۷۱۶ قمري کاله پورې د ايلخاني د سلسلې تولواک ؤ د يو څه مودې لپاره يې د دولس امامه شيعه مذهب په ايران کې رسمي حکومت اعلان کړ خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولتي تشکیلاتو د فشار له وجې چې د اهل سنت په پر بنسټ ولاړ ؤ بیرته د اهل سنت مذهب ته تغیر کړ.

د سربداران در سبزوار حکومت هم شیعه مذهبه ؤ. د شیعه مذهب مخکښ عالم په اند د دغه حکومت رهبران او حاکمان دقیقاً معلوم نه دي، دومره جوته ده چې د دوی مذهبي رهبران شیعه مذهب ته نږدې صوفیان ؤ ورو ستي حاکم یې خواجه علي مؤید د خپل دولت رسمي مذهب امامیه ټاکلی ؤ.

د صفویانو حکومت چې په ۹۰۷ قمري کال کې د شاه اسماعیل لخوا تأسیس شو د دې حکومت رسمي مذهب دولس امامه ؤ دغه مذهب په ایران کې تر دې حده خپور شو چې ټول ایران یې په کامل ډول شیعه کړ. د ایران اوسنی دولت(د ایران اسلامي جمهوریت) هم دولس امامه ده.

## د اهل سنت او اهل تشیع توپیرپه یو څو کړنو کې

شیعه ګان او سنیان په ټوله ورځ کې اولس رکعته فرض لمونځ کوي چې په پنځو وختونو(سهار، ماسپښین، مازدیګر، ماښام او ماخوستن)کې اداء کیږي. سنیان هر یو لمونځ په خپل وخت سره اداء کوي خو شیعه ګان بیا د ماسپښین مازدیګر، ماښام او ماخوستن لمونځونه په یو وخت سره اداء کوي.

د سنیانو او شیعه ګانو د تعلیم اصلي محور قرآن ده، دوهم سنت د پیغمبرصلی الله علیه وسلم دي، چې د ټولو مسلمانانو په نظر د اسلامي ژوند اصلي مسیر را په ګوته کوي. شیعه ګان د پیغمبر له سنتو(حدیثو) سره د شیعه امامانو خبرې هم حجت بولي. د دوی ترمنځ یو توپیر دا ده چې شیعه ګان امام د الله جل جلاله او مسلمانانو ترمنځ د منځګړي په توګه د ډیر قدرت او روحاني اختیاراتو لرونکی بولي. د دوی په وینا امام یواځې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سیاسي ځایناستی نه بلکې معنوي او سیاسي ځایناستی ده، په دې دلیل شیعه ګان نه یواځې د سنیانو په څیر حج ته ځي بلکې د یوولس امامانو مقبیرو ته د زیارت کولو لپاره ځي.

شیعه ګان او سنیان د دین په اصولو توحید، نبوت، او معاد کې سره مشترک دي، همدارنګه قرآن، سنت، لمونځ(په لږ اختلاف سره) روژه، او حج د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړو ډلو لپاره شریک اصول دي. شیعه ګان دوه نور اصول (الهي عدل او امامت) د شیعه مذهب اصول بولي د دوی په اند که څوک له دغو دوو اصولو څخه انکار وکړي د شیعه مذهب څخه خارجیږي.

## د شیعه ګانو تعداد

د (پیو)موسیسي د دین او ژوند د څانګي د راپور پر بنسټ د نړۍ د مسلمانو شمیرلسو څخه تر دیارلسو سلنه پوري شیعه ګانو تشکیل کړی ده چې شمیر یې له یوسلو څلور پنځوس نه تر دوه سوه میلونو پوري تخمین شوی ده، زیاتره په ایران، پاکستان، هند او عراق کې ژوند کوي. په یران آذربایجان، بحرین او عراق کې غالب جمعیت شیعه ده. خاورمیانه، شمالي آفریقا، اقیانوسیه-آسیا ، امریکا، کانادا او چین کې هم شیعه ګان شته دي.

د نومړې موسیسي د راپور په اساس په ۲۰۰۹ م کال کې اویا میلیونه شیعه ګان چې د نړۍ څلوېښت سلنه جوړوي په ایران له ولسو تر شپږ ویشت میلیونه چې لسو نه تر پنځلس سلنه جوړوي په پاکستان، له شپاړلسو نه تر څلورویشت میلیونه چې نهه نه تر څوارلس سلنه جوړوي په هند، له نولسو نه تر دوه ویشت میلیونه چې یولس نه تر دولس سلنه جوړوي په عراق او له اوو نه تر یولسو میلیونو چې دوه نه تر شپږ سلنه جوړوي په ترکیه کې ژوند کوي.

## شیعه ګانو ته ولې روافض وایي

رافضي له رفض یعنې (رد، پرېښودل) څخه اخیستل شوې ده. سنیان(اهل سنت)څکه شیعه ګانو ته دا لفظ کاروي چې له ابوبکر او عمر رضي الله عنهما سره یې بیعت نه وو کړی. یا دا چې زیاترو اصحابو پسې به شیعه ګانو بد رد ویل نو په دې وجه ورته روافض وایي.

رافضي یوه سپکه اصطلاح ده چې ځینې مسلمان یې شیعه ګانو ته کاروي. د شیعه ګانو په وینا دغه اصطلاح د دوی د انشعابي دلې(زیدیه)هغو شیعه ګانو ته وکاروله چې د زید بن علي د امامت څخه یې انکار کوو. غیر زیدي شیعه ګان وایي چې رافضي اصطلاح زید بن علي د هغو کسانو په باره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکاروله چې له ده څخه يې د ژوند په وروستيو شيبو کې وغوښتل تر څو ابوبکر او عمر رضي الله عنهما ته توهين وکړي خو کله چې زيد بن علي د دو خليفه ګانو له توهين څخه امتناع وکړه نو د ده امامت يې رفض(ترک) کړ. په يو بل روايت کې راځې څو تنه مشران زيد بن علي ته راغلل او ورته يې وويل چې د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما په باره کې څه وايې؟ زيد بن علي وويل: ما نه دي اوريدلي چې زما د کورنۍ کوم غړی د دوی له نيکۍ پرته بل څه اوريدلي وي، کله چې هغوی ته حکومت وسپارل شو خلکو سره يې په عدالت چلند کوو، په قران او سنت يې عمل کوو.

د شيعه ګانو د شپږم امام صادق څخه شيعه ګان نقل کوي چې د رفض سابقه د موسى عليه السلام قوم ته ورګرځي لکه څنګه يې چې د فرعون له ضلالت څخه رفض(خلاص)کړل نو په دې توګه شيعه ګانو ته د رافضي اصطلاح کاروي چې له شر څخه يې رفض کړل.

## د شيعه ګانو اخترونه

د شيعه ګانو په مذهب کې څلور اخترونه دي:

لوی اختر، کوچنی اختر، د غدير اختر او د جمعې اختر

### ۳- د غدير اختر

د شيعه ګانو په اند دغه اختر د ذی الحجې په ۱۸ هغه ورځ ده چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم خپل ځايناستی علي رضي الله عنه وټاکو، دوی وايي چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم په غدير کې وروسته له خطبې خپل خليفه د( مَن کُنتُ مولاه فَهذا علیّ مولاه أللهم والِ من والاه و عادِ من عاداه) د حديث په ويلو سره وټاکو. د دوی په عقيده د مائدې سورت دريم آيت (الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِی) هم په دې ورځ نازل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴- د جمعې اختر

د جمعې اختر له څلورو اخترونو څخه د شیعه ګانو یو اختر ده، دوی ته د لوی او کوچني اخترڅخه د جمعې اختر غوره ده. د دوی په وینا امام مهدي د جمعې په ورځ راڅرګندیږي، جمعې ورځې ته ځکه جمعه وایې په دې ورځ مسلمانان د لمانځه د اداء کولو لپاره اجتماع کوي. د شیعه ګانو د شپږم امام په وینا الله جل جلاله له هر څه څخه یو څیز غوره کوي چې د ورځو څخه یې د جمعې ورځ انتخاب کړې ده. د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هم روایت ده چې د جمعې ورځ له نورو ورځو غوره او بهتره معرفي کړې ده. د اهل سنت په باور د جمعې ورځ د عبادت الله جل جلاله ته د نږدیوالي، نیک عمل او د ګناه څخه د توبې ویستلو ورځ ده او په دې ورځ کې عبادت کول له نورو ورځو ډیر ثواب لري، همدارنګه په دې ورځ په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې درود ویل ډیر اجرونه لري. د شیعه ګانو په اند چې د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت ده چې د جمعې په ورځ کې یوه شیبه(ساعت) ده چې که څوک په دې ورځ له الله جل جلاله څخه څه وغواړي نو خامخا به یې ورته عطا کړي.

### فقه او شیعه

قرآن او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنت د ټولو شیعه ګانو په اند د شرعي احکامو اصلي منابع دي، خو له دغو منابعو څخه د استفادې طرز او د فقهې په نورو منابعو کې یې سره اختلاف دی:

زیاتره شیعه ګان یعنې امامیه او زیدیه همدارنګه اهل سنت د قران او سنت سربیره عقل او اجماع هم حجت بولي، خو اسماعلیه ډله بیا په دې نظر نه ده دوی وایي تقلید له هیڅ مجتهد څخه جایز نه ده، شرعي احکام باید په مستقیم ډول له قرآن، سنت او د امامانو له تعالیم څخه پیداکړو

زیدیه ډله له سنت څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اقوال او افعال حجت نیسي او د اهل سنت د حدیثو منابعو همداشان صِحاح سِته ته رجوع کوي. خو امامیه او اسماعلیه ډلې هغه حدیثونو چې له امامانو څخه یې را نقل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي د فقهې سرچينې يې بولي. زيديه ډله د اهل سنت په څېر قياس او استحسان هم حجت بولي، خو اماميه او اسماعيله يې معتبر نه بولي. زيديان په هغو احکامو کې چې اهل سنت او اماميه پکې اختلاف لري د شعيګانو(اماميه) په طرف دي. لکه شيعه ګان د (حَی عَلیٰ خَیرِ العَمِل) د اذان برخه او «الصلاةُ خَيرٌ مِن النَّوم» په اذان کې حرام بولي.

همدارنګه په موقته نکاح کې د اماميه او اهل سنت ترمنځ اختلاف ده، اسماعيله او زيديه ډله له اهل سنت سره موافق ده، يعني اماميه ډله چې موقته نکاح جايز او اهل سنت يې حرامه بولي، زيديه او اسماعيله له اهل سنت سره موافقه ده.

## د شيعه ګانو مذهبي ځايونه

شيعه ګان چې حضرت علي رضي الله عنه اولاد يې وروسته له پيغمبر صلی الله عليه وسلم د امامت او ولايت حقدار بولي، په همدې وجه اهل بيت سره ډيره زياته مينه او محبت لري، هغه ځايونه چې اهل بيت پورې مربوط دي پيروانو ته يې ډير ارزښت لري او په ډيره درنه سترګه ورته قايل دي.

د مذهبي يا مقدسو ځايو څخه هدف هغه ځايونه دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم او اهل بيت پورې په يوه بڼه تړلي وي. زياتره د شيعه ګانو زيارتونه مذهبي ځايونه په عربستان، ايران او عراق کې دي چې په لنډ ډول يې در پيژنو.

## لومړی عربستان

**مدينه :** د يثرب ښار چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ورداخليدو سره د مدينه په ښار بدل شو، د مکې معظمې شمال لوري ته په ۴۵۰ کيلومتری کې پروت ده ، په ۱۴۱۵ هجري کال کې يې نفوس شپږشپيته زره ته رسيده کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه ښار ته په ۶۲۲ ميلادې کال هجرت وکړ زياتره قومونو ايمان پرې راوړ. په دغه ښار کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم مرقد شريف همداشان د نورو مبارکو اصحابو کرامو قبرونه شته دي. شيعه ګانو ته په دې خاطر دغه ښار مقدس او سپيڅلي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د بي بي فاطمې، امام حسن مجتبی، امام زین‌العابدین ، امام باقر او امام صادق قبرونه هم په مدینه کې دي.

## دوهم عراق

عراق چې یو تاریخي او تمدني هېواد ده ډېره اوږده سابقه لري. د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه لښکرو په ۱۴یا ۱۵ هجري کال کې په عراق حمله وکړه په ۱۶ هجري کال کې یې د ساساني لښکرې ماتې کړې او عراق یې فتح کړ. نو عراق هم د اسلامي تاریخ برخه وګرځیده، د عراق خاوره مسلمانانو خصوصاً شیعه ګانو ته سپیڅلي ده ځکه دلته د د شیعه ګانو د څو امامانو، صحابه کرامو تابعینو د سني مذهب امامانو، د نورو ډلو او فرقو د مشرانو قبرونه موجود دي، دلته د یو څو مهمو ښارونو چې مقدس دي په لنډ ډول تر بحث لاندې نیسو.

**نجف اشرف:** دغه ښار د بغداد جنوب غربي لورې ته پروت ده، چې ډېر ګرم او وچه ځمکه لري، شعیګانو ته دغه ښار ډېر فضیلت لري د دوي په وینا د هر مسلمان دا هیله او ارمان وي چې د دغه ښار زیارت وکړي خپل ژوند پکې تیر کړي او پکې دفن شي، په دغه ښار کې د حضرت علي رضي الله عنه حرم دغه ښار ته ځانګړی ارزښت او سپیڅلتیا وربښلې ده. شیعه ګانو لپاره دغه ښار ډېر ارزښت لري د حضرت علي رضي الله عنه مرقد سربیره په دغه ښار کې د وادی السلام قبرونه، د حضرت حجت (امام مهدي) مقام، د حضرت هود او صالح علیه السلام قبرونه، د کمیل بن زیاد نخعی قبر او د شیعه ګانو د علماؤ لکه شیخ طوسي، علامه حلی، مقدس اردبیلي او شیخ انصاري قبرونه همدارنګه تاریخي آثار هم شته.

**کوفه:** د کوفې ښار لومړی ښار ده چې د دوهم خلیفه حضرت عمر رضي الله عنه په امر د سعد ابن ابی وقاص رضي الله عنه په واسطه په اولسم هجري کال فتح کړ، دغه ښار په ۳۶ هجري کال کې د اسلامي دولت پایتخت وګرځید ، دا هغه وخت ؤ چې علي رضي الله عنه د جمل جګړې لپاره مدینه منوره پرېښوده او او عراق ته لاړ، وروسته د نړۍ یو ستر علمي مرکز شو په هغه وخت کې د کوفې نفوس یومیلیون نفرو ته رسیده. نني عصر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوفې خپل موقعیت له لاسه ورکړی او د نجف ښار یوه برخه ګرځیدلې ده. دا چې کوفه د حضرت علي رضي الله عنه د حکومت مرکز ؤ په دې وجه شیعه ګانو ته ډیر ارزښت لري. په کوفه کې نور مقدس اماکن عبارت دي له د کوفې جامع مسجد، د مسلم بن عقیل حرم، د هاني بن عروه قبر، د مختار ثقفي قبر، د حضرت علي رضي الله عنه کور، د میثم بن تمار قبر او د سهله مسجد چې یو له سپیڅلو مسجدونو څخه شمیرل کیږي دي.

**کربلا:** له نجف ښار وروسته کربلا د عراق مقدس ښار ده دلته د عاشورا د پیښې شهیدان خښ دي، د حضرت امام حسین له شهادت وروسته د کربلا د ښار تاریخ پیلیږي، له هغه وخته دغه ښار شیعه ګانو ته محترم ښار شوی، هغه ځایونه چې شیعه ګان ورسره د زړه له تله تعلقات لري عبارت دي له د حضرت ابا عبدالله الحسن حرم، قتلګاه، د زینبه تپه، د ابوالفضل العفاس حرم، د حبیب بن مظاهر قبر، د حر قبر، د طفلان مسلم قبر او د حضرت حجت(امام مهدي)مقام.

**کاظمین:** د عراق دریم سپیڅلی د کاظمین ښار ده، چې د بغداد شمال غربي او د دجله سیند غرب لوري ته پروت ده، د دجلې سیند دغه ښار له بغداد څخه جلا کوي، دغه ښار ځکه شیعه ګانو ته مقدس ده چې په دې ښار کې د امام کاظم(موسی بن جعفر) او امام جواد (محمد بن علي) مدفون دي په دې وجه ورته کاظمین وایي.

**سامرا:** دا د عراق څلورم مقدس ښار ده. په دې ښار کې د شیعه ګانو دوه امامان هر یو امام هادي او امام حسن عسکري دفن دي، همدارنګه نرګس چې د امام مهدي مور، سامانه د امام هادي مور او سوسن د امام حسن عسکري مور دي په سامرا ښار کې دفن دي.

## دریم ایران او افغانستان

**مشهد:** دغه ښار چې امام رضا قبر پکې موجود ده شیعه ګانو لپاره یو له مقدسو ځایونو څخه ده همدارنګه د قم ښار او د افغانستان په بلخ کې روضیه شریفه هم د شیعه ګانو لپاره سپیڅلي او مقدس ځایونه دي او هر کال زرګونه کسان د زیارت کولو لپاره ورته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شیعه ګانو د دین (مذهب) اصول

شیعه ګانو د دین اصول په دریو برخو ویشلي دي:

۱- اعتقادي اصول، ۲- فروع یا عملي کړنې، ۳- اخلاق او انساني فضایل

لومړی: اعتقادي اصول عبارت دي له توحید، نبوت او معاد، شیعه ګان له دغو دریو سربیره دوه نور اصول الهي عدل او امامت د اعتقادي اصولو سره یو ځای کوي همدا رنګه د شیعه ګانو نور عقاید: عصمت،علم غیب ولایت،مهدویت، غیبت، انتظار، ظهور، رجعت او بداء چې تفصیل به یې وروسته وشي.

دوهم: فروع یا عبادي او غیرعبادي احکام عبادي له لمونځ، روژه، زکات خمس، جهاد او حج غیرعبادي لکه امر بالمعروف نهې له منکرڅخه، تولی او تبري..

دریم: اخلاق اوانساني فضایل لکه فضایل او رذائل فضـایل لـکه کظم غیظ سخاوت، توکل او رذائل لکه کبر، ریا، حسد او چغلي..

## لومړی : د اعتقادي اصولو پېژندل:

الف: اصلي اصول

### ۱- توحید

ټول آسماني شرعیتونه د توحید او یو پرستي په اساس ولاړ دي، د ټولو شریعتونو مشترک امر په توحید عقیده لرل دي.

د توحید لغت د «وحد ، یوحد ، توحیدا» له مصدر څخه دی چې لغوي معنی یې افراد (یوازې) دی. د شریعت په اصطلاح کې توحید د الله سبحانه وتعالی افراد او یوازېوالی په هغه څه کې چې رب تبارک و تعالی ته خاص دي کوم چې رب تبارک وتعالی ته خاص دي ربیوبیت ، الوهیت ، اسماء او صفات دي. په لنډ ډول ویلای شو ، توحید په لغت کې افراد (یوازېوالی ) او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اصطلاح کې توحید د الله تعالی افراد په ربوبیت ، الوهیت ، اسماء او صفاتو کې. اصلاً د انسانانو او جنیاتو د پیدایښ هدف دا دی چې یوازې الله سبحانه وتعالی ته عبادت وکړي او د هغه (جل جلاله) سره هیڅ شی شریک نه کړي.

لقوله سبحانه وتعالی: وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ [الذاريات: ۵۶].

ژباړه : او نه مو دي پیدا کړي پیریان او انسانان مګر دا چې عبادت وکړي زما.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي : «حق الله على العباد أن يعبدوه و لا يشر كوا به شيئا» (متفق عليه).

ژباړه : د الله تعالی حق پربنده ګانو دا دی چې د هغه عبادت وکړي او له هغه سره څوک شریک نه کړي.

## ۲- نبوت

نبوت د انسان په ژوند کې هماغه الهي قانون ده چې پیغمبرانو ته یې وحې کړې، تر څو بشریت د خیر، سولې او کمال لوري ته دعوت کړي شیعه ګان په نبوت ایمان لري، دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه حدیث وړاندې کوي چې وايي: الله جل جلاله خلکو ته پیغمبران ولیږل ترڅو د هغوی لپاره غښتلی حجت شي، د الله استازي د ګواه وي. طباطبايي چې یو شیعه عالم ده وايي الله جل جلاله د انبیاؤ د رالیږلو سره د خلکو هدایت د کمال حد ته رسولی ده، کله چې د شریعت لپاره لاربښونې او طرزالعمل نازل شو، شریعت د کمال اخیري حد ته ورسید نو له دې سره د نبوت دوره پای ته ورسیده. لکه څنګه چې قران وايي: اسلام وروستی او پوره دین دی محمد صلی الله علیه وسلم وروستی پیغمبر دی. حلي چې یو شیعه مذهبه عالم ده وايي، انبیاء له فرښتو غوره دي ځکه پیغمبران د تعارض په عقلي قوې سمبال دي او کولی شي چې هغوی عقل ته تسلیمې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۳- معاد او قیامت

وروسته له دې چې کله ځمکه له مینځه لاړه شي یعنې شپیلۍ پوه کړل شي مړي به را ژوندي شي او د الهي مختته به وړاندې شي تر څو نیکانو او بدکارانو ته د خپل عمل سزا او جزا ورکړې.

### ۴- امامت

امامت د نبوت په تعقیب سره چې د الهي احکامو تبلیغ او تعلیم ده، د شیعه ګانو په باور الله جل جلاله داسې اشخاص د امام په نامه ټاکلي چې هغوی په جامعه کې د ده احکام تطبیق او عملي کړي، د دوی په نظر دولس ائمه چې لومړی یې حضرت علي او وروستی یې امام مهدي ده، د الله جل جلاله په امر د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په واسطه ټاکلې دي.

### ۵- عدل

د شیعه ګانو په اند د الله جل جلاله یو صفت عدل ده، دا چې الله جل جلاله حکیم ذات ده هر کار په ډیره غوره طریقې سرته رسوي، همدارنګه علیم خبیر او غني هم ده، نو د عقل له نظره معلومیږي چې الله جل جلاله په چا باندې په لږه اندازه د ظلم کولو اجازه نه ده ورکړې. په قرآن کې هم په دې اړه په صریح ډول ذکر شوی ده. اهل سنت په دغه اصل کې له شیعه ګانو سره اختلاف لري ځکه د اهل سنت په باور شیعه ګانو د عدل په معنا او ناروا نسبتونه دي چې الله جل جلاله ته شوي دي.

## ب: نور احکام

### ۶- عصمت

عصمت په لغت کې حفظ او ساتلو ته وايي، او د عقایدو د علم په اصطلاح کې د الله جل جلاله هغه لطف او مهرباني ده چې پیغمبر د نیکو کارونو کولو ته هڅوي او له بدو څخه یې ساتي. دا چې عصمت د پیغمبرانو یو صفت ده، شیعه ګان بیا پر دې باور دي چې د دوی ائمه هم له عصمت څخه برخمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷- علم غيب

د شيعه ګانو په باور د امامانو يوه ځانګړنه دا ده چې په غيب خبر دي، د دوی په وينا امام د الله جل جلاله له لوري ټاکل کيږي، کوم غيبي علم يې چې پيغمبر ته ورکړی امام ته يې هم ورکړی ده. وهابيان (اوس وخت کې چې ځانته اهل حديث وايي) په دې وجه په شيعه ګانو د طاغوت تور لګوي، محمد بن عبدالوهاب په دې اړه وايي: (والطواغيت كثيرة ورءوسهم خمسة الاول: الشيطان الداعى الى عبادة غير الله..الرابع:الذى يدعى علم الغيب من دون الله).

ژباړه: طاغوتيان ډير دي خو پنځه يې په سر کې راځي لومړی شيطان ده چې بنده ګان پرته د الله جل جلاله له عبادت کولو څخه د بل چل عبادت ته هڅوي او پنځم يې هغه څوک دي چې د علم غيب دعوه کوي په داسي حال کې چې پرته له الله جل جلاله بل څوک په علم غيب خبر نه دي. نومړی په بل کتاب کې د لاندې آيت په اړه وايي:

تِلْكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ ۖ مَا كُنتَ تَعْلَمُهَا أَنتَ وَلَا قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَٰذَا ۖ فَاصْبِرْ ۖ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ [سُوْرَةُ هُود : ۴۹]

ژباړه: اې پيغمبره داغيبي خبرونه دي چې موږ يې تا ته وحيي کوو. له دې څخه مخکي نه ته ورباندې پوهيدلې، نه ستا قوم، نو صبر وکړه، نتيجه د پرهيزګارانو په ګټه ده. رسولانو په خپله له دغې ادعا انکار کوو چې مونږ سره خزاني او علم غيب نشته، خو د وخت طاغوتيانو بيا دا ادعا کوي چې رسولان علم غيب لري. قفاري چې يو معاصر وهابي عالم دی په خپل کتاب(د شيعه ګانو د مذهب اصول) کې ليکي: وقد نقلت كتب الشيعة نفسها احاديث كثيرة فى هذا المعنى، والله سبحانه امر نبيه ان يقول:

قُل لاَّ اَقُولُ لَكُمْ عِندِى خَزَائِنُ اللهِ وَلاَ اعْلَمُ الْغَيْبَ؛

قُلْ سُبْحَانَ رَبِّى هَل كُنتُ الاَّ بَشَراً رَّسُولا؛

قُلْ انَّما اَنَاْ بَشَرٌ مِثْلُكُمْ...؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهذا هو رسول الهدى وخاتم الانبياء وسيد الاولين والآخرين فكيف بمن دونه

ژباړه: شیعه ګانو په خپلو کتابونو کې د خپلو امامانو د علم غیب په باره کې زیات روایات نقل کړې دي، په داسې حال کې چې الله جل جلاله خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته امر کوي چې ووایې:

اې محمده دوی ته : "زه د خپل ځان لپاره د څه ګټې او زیان واك نلرم هماغه الله جل جلاله چې څه غواړي، هغه کیږي؛

زه دا نه وایم چې د الله جل جلاله خزانې زما سره دي، او په علم غیب هم نه پوهیږم؛

دوی ته ووایه زما پروردګار سپېڅلی ده! ایا زه له یو پیغام راوړونکي انسان "څخه پرته بل څه یم؟

اې محمده ورته ووایه: "زه خو ستاسې په څیر یو انسان یم...؛

دا رسول چې لاربنود او د ټولو انبیاؤ لومړی او وروستنی ده وایي زه په علم غیب نه پوهیږم. نو څنګه به هغو خلکو ته علم غیب وي چې له ده څخه لاندې دي.

اهل تشیع علماء د قفاري دې مسئلې ته داسې غبرګون ښیی:

لومړی: قفاري چې کوم آیتونه ذکر کړي دي له هغو آیتونو سره ربط نلري چې شیعه ګان پرې د علم غیب علم ثابتوي.

دوهم: په قرآن کې نور آیتونه هم شته چې د پیغمبرانو او امامانو علم غیب پرې اثباتیږي.

شیعه ګان وایي چې د قرآن په هغو آیتونو کې چې د علم غیب په باره کې راغلي په څو برخو ویشل شوي دي:

لومړی: یواځې الله جل جلاله ته د علم غیب انحصارول:

هغه آیتونه چې یواځې د الله جل جلا له د علم غیب پورې پیوست دي او له هغه پرته بل څوک په علم غیب نه پوهیږي په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَ يَقُولُونَ لَوْ لا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ فَقُلْ اِنَّمَا الْغَيْبُ لِلّهِ فَانْتَظِرُوا اِنِّى مَعَكُمْ مِنَ الْمُنْتَظِرِينَ؛ [سُوْرَةُ يُونس : ٢٠]

ژباړه: او دا چې هغوی وايي، چې پر دې پيغمبر باندې د ده د رب له لوري څخه کومه نښانه ولې نازله نشوه. نو دوی ته ووايه: "د غېبو څښتن او واکمن خو يوازې الله جل جلاله دی، ښه دی، سترګي په لاره اوسئ، زه هم ستاسي سره منتظر يم.

په دې آيت شريف کې الله جل جلاله خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته وايي: چې کفارو ته ووايه معجزه يا کومه نښه چې تاسو غواړی له غيبي چارو څخه ده او له غيبي چارو څخه يواځې الله جل جلاله خبر ده.

قُلْ لا يَعْلَمُ مَنْ فِى السَّماواتِ وَ الْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلاَّ اللَّهُ وَ ما يَشْعُرُونَ اَيَّانَ يُبْعَثُونَ.[سورت النمل: ۶۵].

ژباړه: ووايه کوم کسان چې په ځمکه او آسمانو کې دي په غيب نه پوهيږي پرته له الله جل جلاله څخه او نه پوهيږي چې څه وخت به را ژوندي کيږي. په دې آيت کې هم د (الا الله) په تعبير سره علم غيب يواځې الله جل جلاله ته شوی ده.

دوهم: هغه آيتونه چې پيغمبرانو هم په علم غيب خبر دي:

د شيعه ګانو په اند الله جل جلاله په دې آيت سره وايي چې د هغه رالیږل شوي استازي(انبياء) په علم غيب خبر دي:

١ـ مَّا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ ۗ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِى مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُ ۖ فَـَٔامِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۚ وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ.[سورت آل عمران: ۱۷۹]

ژباړه: الله جل جلاله به مؤمنان په دې حالت کې هيڅکله پرېنږدي چې تاسې اوس په کې ياست؛ هغه به سپېڅلي خلك له ناپاکو خلکو څخه بېل کړي؛ خو د الله جل جلاله داسې عادت نه دی چې تاسې په غيبو خبر کړي؛ د پټو خبرو د ښوونې لپاره چې د هغه له خپلو رسولانو څخه چا ته خوښه شي، ټاکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې. له دې امله (د پټو چارو په اړه) پر الله جل جلاله او پيغمبر صلی الله عليه وسلم ايمان ولرئ. که تاسې د ايمان او له خدايه د وېرېدو چلن غوره کړئ، نو لوی اجر به در په برخه شي.

همدارنگه د شيعه گانو په باور يو بل آيت هم په دې دلالت کوي چې پيغمبران د علم غيب څخه خبر دي:

۲- عَٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا. إِلَّا مَنِ ارْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا. لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصَىٰ كُلَّ شَىْءٍ عَدَدًۢا.[سورت الجن:۲۶،۲۷،۲۸]

ژباړه: هغه په غيبو عالم دی، په خپلو غيبو باندې څوك نه خبروي، پرته له هغه استازي څخه چې الله جل جلاله څني راضي وي (او د غيبو د څه علم ورکولو لپاره يې غوره کړي وي)، نو په يقيني توگه، د هغه (پيغمبر صلی الله عليه وسلم) مخکې او شا ته الله جل جلاله ساتونکي او څارونکي ټاکي. تر څو معلومه کړي چې هغوی د خپل رب پيغامونه ورسول. او الله جل جلاله د هغو ټول چاپيريال احاطه کړی دی؛ او هر يو شی يې په شمار شمېرلی ايښی دی. داسې او دې ته ورته نور آيتونه هم شته چې د شيعه گا نو په اند د انبياؤ د علم غيب اثبات پرې رسېدلی ده.

۳- وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَنِّى قَدْ جِئْتُكُم بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ أَنِّىٓ أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًۢا بِإِذْنِ اللَّهِ ۖ وَأُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ وَأُحْىِ الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ اللَّهِ ۖ وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِى بُيُوتِكُمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ. [سُوْرَةُ آل عِمرَان : ۴۹]

ژباړه: او بني اسرائيلو ته به يې د خپل پيغمبر په توگه وټاکي." - ( او کله چې هغه د پيغمبر په توگه بني اسرائيلو ته ورغی، نو ويې ويل) "دا يو حقيقت دی چې زه ستاسې د رب له خوا له نښانې سره درته راغلی يم، زه ستاسې په مخ کې له خټې څخه د مرغۍ د شکل يوه مجسمه جوړوم او په هغې کې پوکی کوم، هغه د الله جل جلاله په امر الوتونکی جوړېږي؛ زه د الله جل جلاله په امر مور زاده ړوند او پيس روغوم؛ او مړي ژوندي کوم؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه تاسي ته ښیم چي تاسې څه خورئ او څه په خپلو کورونو کې زېرمه کوئ. په دې کې تاسي ته پوره نښانه ده، که تاسي ایمان راوړونکي یاست.

دریم: په آیاتو باندې د ائمو د علم غیب اثبات.

شیعه ګان وایي کوم آیتونه چې د پیغمبرانو د علم غیب د اثبات لپاره راغلي د ائمو لپاره هم علم غیب اثباتوي.

د دوی په اند الله جل جلاله چې له چا څخه چې راضي وي هغه ته علم غیب ورکوي. دا خبره دوی د دې آیت په اساس کوي.

عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا. إِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا. لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا رِسٰلٰتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصٰى كُلَّ شَىْءٍ عَدَدًۢا.[سورت الجن:۲۶،۲۷،۲۸].

ژباړه: هغه په غیبو عالم دی، په خپلو غیبو باندي څوك نه خبروي، پرته له هغه استازي څخه چې الله جل جلاله څني راضي وي (او د غیبو د څه علم ورکولو لپاره یې غوره کړي وي)، نو په یقیني توګه، د هغه (پیغمبر صلی الله علیه وسلم) مخکې او شا ته الله جل جلاله ساتونکي او څارونکي ټاکي. تر څو معلومه کړي چې هغوی د خپل رب پیغامونه ورسول. او الله جل جلاله د هغو ټول چاپېریال احاطه کړی دی؛ او هر یو شی یې په شمار شمېرلی ایښی دی.

د دې آیتونو په تفسیر کې وایي. د آیتونو په لومړي سر کې علم غیب یواځې الله جل جلاله ته منسوبوي او له نورو څخه نفې کوي. خو د «اِلاَّ مَنِ ارْتَضى مِنْ رَسُولٍ» استثنائي جملې په واسطه یې خاصو اشخاصو لکه رسولانو ته هم علم غیب ثابت شو او دا جمله د اولې جملې خاصوالی ماتوي.

د دې آیت په تفسیر کې شیعه علماء وایي چې: دا چې الله جل جلاله علم غیب خپلو خاصو بنده ګانو ته هم ور نه کړ، په دې دلالت کوي چې پرته له هغه بل څوک علم غیب نلري، خو وروسته یې خپل رسولان استثنی کړل او علم غیب یې ورکړ. هرڅه یې چې غوښتل د وحې په واسطه یې ورکړل، د دوی علم غیب د الله جل جلاله په اجازت او اذن سره ؤ نه په خپلواک صورت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیعه ګانو په اند امام هم د الله جل جلاله لخوا غوره کیږي، نو له دې ځایه ثابته شوه چې الله جل جلاله خپل استازي(پیغمبران او ائمه) د علم غیب څخه هم برخمن کړي.

## ۸ـ ولایت

ولایت په عربي ژبه کې د سرپرست یا حکومت په مانا ده. ولایة د اولیا له له کلمې سره اړیکه لري او د ولي کلمه له قران څخه اخیستل شوې ده. د اسلام په دین کې یو رایجه مفهوم ده، د شیعه ګانو په ډله کې خورا دا کلمه ډیره استعمالیږي ځکه چې د امامت رول او ماهیت ته په کې اشاره ده.

د ولي کلمه د اسلام په معنوي ژوند کې ځانګړی اهمیت لري او د مختلفو ماناو لپاره استعمالیږي، لکه نږدې خپلوان، ملګری، ملاتړی. د شیعه ګانو په باور په اسلام کې کې د ولی الله کلمې اشاره هغه چاته کیږي چې د الله جل جلاله له لوري ټاکل شوی وي. او د ولایت اختیار ورکړل شوی وي. دوی د ولایت د اثبات لپاره دا ایت دلیل وړاندې کوي:

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَالَّذِينَ ءَامَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَوٰةَ وَهُمْ رَٰكِعُونَ. [سُوْرَةُ المَائدة : ۵۵]

ژباړه: ستاسي ملګري خو په حقیقت کښې یوازي الله، او د الله پیغمبر او هغه مؤمنان دي چې لمونځونه قائموي، زکات ورکوي او د الله په وړاندې سرټیټوونکي دي.

همدارنګه بل آیت: ذَٰلِكَ الَّذِى يُبَشِّرُ اللَّهُ عِبَادَهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ ۗ قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِى الْقُرْبَىٰ ۗ وَمَن يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُۥ فِيهَا حُسْنًا ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ.[سُوْرَةُ الشّورىٰ :۲۳]

ژباړه: دغه هغه شی دی چې الله د هغه زیری خپلو هغو بندګانو ته ورکوي چې ایمان یې راوړی او نېک عملونه یې وکړل. اې پیغمبره دوی ته ووایه: "زه پر دغه کار باندې ستاسي څخه د څه اُجورې غوښتونکی نه یم. البته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلولۍ مینه هرومرو غواړم." څوك چې د نېکۍ ګټه وکړي، موږ به د هغه لپاره په هغې نېکۍ کې ښه والی زیات کړو. بېشکه الله ښه ښونکی او قدردان دی.

او د غدیر خم حدیث هغه څه دي چې د شیعه ګانو په باور پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ویل شوي دي چې مسلمانانو ته ووایه د امامانو(آل) سره مینه او محبت ولرئ.

د ولایت د اثبات لپاره حدیث هم وړاندې کوي دوی وایي چې رازی له زمخشري څخه نقل کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر څوک چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د آل سره د دوستي په خاطر مړ شي شهید ده، هر څوک چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د آل سره د دوستي په خاطر مړ شي داسې ده لکه د توبې پر وخت چې مړشي، هر څوک چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د آل سره د دوستي په خاطر مړ شي د پوره ایمان سره له دنیا تللی ده او هر څوک چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د آل سره دښمني په خاطر مړ شي، داسې ده لکه چې د کفر په حالت کې مړ شوی وي، هر څوک چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د آل سره د دښمنۍ په خاطر مړ شي، د جنت بوی به يې پزې ته ونه رسيږي.

همدارنګه دوی له خپل امام باقر څخه هم روایت کوي چې ویلي دي: اسلام پر پنځو پایو ولاړ ده لمونځ، زکات، روزه، حج او ولایت او په هیڅ څیز دومره تاکید نه ده شوی لکه پر ولایت.

د شیعه ګانو په باور ولایت نه یواځې د اسلام یو ارکان ده بلکې د اسلام اصلي پایه هم ده. دوی امامت له ولایت سره مقید(تړلی) بولي، یعنې امام به پیژنئ او مینه به ورسره کوی اطاعت به یې کوئ او د هغو له دیني مسایلو او اعمالو به پیروي کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۹- مهدویت

د مهدویت شتوالی په ټولو اسلامي مذاهبو کې شته خو ټول په یو قول نه دي. د شیعه ګانو درې واړه ډلې امامیه، زیدیه او اسماعلیه د امام مهدي په شتوالی کې سره اختلاف لري. امامیه په دې اند دي چې د امام حسن عسکري زوی دولسم امام هغه مهدي چې غیب ده د دوی په اند امام مهدي ده. اسماعلیه ډله محمد مکتوم د اسماعیل زوی چې د امام صادق لمسی ده امام مهدي بولي. زیدیه ډله چې قیام د امامت یو شرط بولي په انتظار او غیب عقیده نلري، دوی هر امام امام مهدي بولي.

### د امام مهدی صاحب ظهور څه وخت او چیرته کیږی؟

امام مهدی صاحب پیغمبر نده کوم ځانګړی کتاب نلری بلکه په قرانکریم باندی به عمل کوی او د نبی علیه السلام له اولادی څخه دی.

د ده ظهور د قیامت له علامو څخه یوه علامه ده.

د امام مهدی صاحب د ظهور په کال به یو څو مهمي نښی ښکاره شی چه هغه په لاندی ډول دی:

۱- په د غه کال به زلزلې ډیري وي.

۲- د سفیاني په نوم یو جابر فاسق ظالم او بالآخره کافر او مُستبد حکمران به د اسرائیلو په اِندر نومي سیمه کي حاکم کیږي.

په احادیثو کي راځی چه د امام مهدي صاحب په خلاف به ډیر غټ لښکرونه جوړکړي چي لښکر به یې په بیدأ سیمه کي په ځمکه کي خسف شي او سفیاني به د امام مهدي په لاس په یوه ډبره (تیږه) باندي له نیولو وروسته د وزې په ډول ذبح کړای شي، په روایاتو کي دا خبره په صراحت موجوده ده چه سفیاني چه عبدالله ابن یزید یا الزهرالکلبي نومیږي د اقتدار موده به یی د امام مهدي سره دجګړې تروخته پوري (۹) نهه میاشتي وي بیابه ختمیږی.

۳- په هغه کال به د سعودي عربستان حکومت نړول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- په هغه کال به د روژې د لومړۍ شپې میاشت تندر ونیسي.

۵- د دغه کال په پنځلسم دروژی به لمر تندر ونیسي چه دا دواړه تندرونه د دنیا له پیدا کیدلو راهیسي ړومبني او خلاف العادة کارونه دي.

۶- دشپي مهال به په روژه کي په آسمان کی د اور ستن را ښکاره شي.

۷- پنځلسم د روژې به دجمعې شپه وي.

۸- په پنځلسم د روژې د جمعې په سهار به یو ډیر ویرونکې اواز (چیغه یا چاودنه) کیږي.

۹- له لمر سره به څو ورځي پرله پسې یوه نښه را ښکاره کیږي.

۱۰- له روژې وروسته به عمومي جګړې او د عربو د قبائلو ډله ایز بغاوت پیل کیږي.

۱۱- دحاجیانو لوټل او وژل به کیږي.

۱۲- حج به له امیر (امام) څخه پرته اداء کیږي.

۱۳- پر ۹ او ۱۰ د ذوالحجې به په مِنْا او عرفات کي جګړه کیږي او همدا وخت به له امام مهدي صاحب سره په مکه مکرمه کي بیعت کیږي.

۱۴- د احادیثو په کتابونو کي راځي چه د امام مهدی دظهور په وخت کی به د شام هیواد دومره کمزوری وي چه که ګیدړ ورباندي برید وکړي نوهم مغلوب به یې کړي (ظهورمهدي ص ۶۶)

۱۵- د امام مهدي صاحب دظهور په کال به په شام باندی سخت سیلاب راځی. (ظهورمهدي ص ۶۷)

۱۶- د فرات سیند به خپله لاره بدله کړی یعنی په بله خوابه روان شی او دسرو زرو غر به پکی را ښکاره شی.

۱۷- په عراق کی به خپلمنځی جګړی شروع شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸- دخراسان لخوا به دتورو کوچنیو بیرغونو والا خلک راشی چه صحی مسلمانان به وی او ظلم کونکی به نه وی نبی علیه السلام فرمایی که تاسو دغه خلک ولیدل نو خامخا یی ملګرتیا وکړی ځکه چه د دوی په مینځ کی د الله جل جلاله خلیفه ده ولو که دوی په یخ او یا د واوری په سر را روان وی. نو له دی څخه به (۷۲) میاشتی یعنی شپږ کاله پس مهدی صاحب ظهور کوی.

**تفصیل:**

د دنیا دا ټولی پریشاني او بد حالت ډیر دوام هم نکوي بلکه ترهغه وختته به وي ترڅو د مسلمان اُمت وروستنۍ تکیه ، پناه ځای ، هیله او آرزو (سیدنا) امام مهدي صاحب ظهور کوي  چه د دوی په اړه نبی علیه السلام داسی فرمائې :

که د دنیا یوه ورځ زندګی پاتی وي نو هم به الله جل چلاله هغه ورځ دومره اوږده کړي چي زما له اهل بیت نه به یو کس پیدا کړي چه نوم او د پلار نوم به یې زما او زما د پلار له نامه سره برابر وي هغه به ځمکه له عدل او انصاف نه داسي ډکه کړي لکه له مخه چي له ظُلم او تعدئ نه ډکه وه.

سنن ابي داوُد (جلد۲ صفحه۵۸۸).

په همدې مبا رک وخت کي به مسلمانان د ارام ساه واخلي ،کفر،ظلم ، او وحشت به خپلي آخرنۍ سلګۍ تر هغه وخته وهي تر څو یې چه عیسی علیه السلام وروستنۍ خبنته هم له بیخه را وکاږي.

د حضرت امام مهدي صاحب په باره کي اهل تشیع هم یو ډول عقیده لري

د دې لپاره چي د دوی د ټبر په فتنو کي اخته نه شو د هغوی د مهدي په اړه هم لنډه خبره واورئ.

اهل تشیع وایی چه د حضرت حسن عسکري زوی امام مهدي دی ،چه دوی مهدي منتظر ورته وايي، دوی وايي د حسن عسکري زوی مړ نه دي هغه د سمارا په غرونو کي په یوه ځای (غار) کي پټ دی اوپه آخر وخت کي به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظهور کوي، د اسلامي اُمت حقاني علماؤ د دې عقيدې ډېر ښه قانع کونکی تردید کړی دی حتی که يې د تشيع پيروان په انصاف سره وګوري نوهم به پر خپله مزخرفه عقيده پيښمانه شي.

**زمونږ داهل سنت عقيده:**

امام مهدی صاحب له مخکی څخه ژوندی ندی بلکه هغه به نوی ماشوم پيدا کيږی او د څلويښتو کالو په عمر به ځان ښکاره کوی.

کله چه د کفارو ظلم او زياتی ډير شی مسلمانان کمزوری شی او څه مسلمانان له کفارو سره متحد شی او دهغوی غلامی شروع کړی اسلامی ملکونه دکفارو تر تسلط څخه لاندی شی نو مسلمانان به بله اسره نلری نو الله جل جلاله ته به دعا وکړی چه مهدی صاحب را وليږه الله جل جلاله به د مسلمانانو دعا قبوله کړی او مهدی صاحب به را ښکاره شی.

د امام مهدي صاحب نوم ،شهرت ،او نسب، د ټولو احاديثو د څيړني او پلټني په رڼا کي په لاندی ډول دی.

نوم : محمد ..او يا احمد

دپلار نوم : عبدالله

قوم : بني هاشم ،عرب ،سادات قُريش

دحضرت فاطمة الزهرأ رضي الله عنها له نسله او د حضرت امام حَسَن رضی الله عنه له اولادی څخه دی دظهور په وخت کی به يې عمر د څلويښتو (۴۰) کالو په شا وخوا کی وي شکل اوصاف قد اوقامت به يی نبی عليه السلام ته ورته وی.

الخليفة المهدي فی الاحاديث الصحيحة (صفحة۳۰، ۵۸۸، ۵۸۹، ۵۹ سنن ابي داؤدجلد ۲) (ترميذي جلد ۲ صفحة ۴۷)

حضرت نُعيم ابن حماد رحمه الله په خپل سند کي له حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت کړی چې فرمائي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه کله لاري بندي شي او د فتنو وخت وي نو له مختلفو سیمو څخه به اووه نفره علماء راووزي، دوی به د ملاقات لپاره وخت نه وي سره ټاکلی، او یو له بله به سره خبر هم نه وی د دوی هر یوه په لاس به تر ۳۱۰ تنو پوری کسانو بیعت کړی وي ، دوی به په مکه مکرمه کي راغونډ شي

کله چه دا اووه کسان لیده او کاته وکړي اویو له بل نه پوښتنه وکړي چه څنګه راغلي یاست ؟

هغه بل به ځواب ورکړی چه دیو داسي کس په لټه کي یم چي د هغه په لاسونو له فتنونه وژغورل شو او د هغه په لاس قسطنطنیه فتح شي.

موږ ته د هغه کس حُلیه ، نوم او د مور او پلار نومونه معلوم دي.

دا اووه کسان به په دې اتفاق شي اوپه لټه کي به ئې شي او په مکه مکرمه کي به یې پیداکړي دوی به ورنه پوښتنه وکړي چي ته د فلان زوی فلان یې؟

مهدی صاحب به ورته ووایي چه هو، زه فلان یم.

بیا به د کعبی شریفی تر څنګ بیعت ور سره وکړی.

امام مهدی صاحب به د عامو مسلمانانو بادشاه وی که هغه عرب وی که عجم، په حدیث شریف کی د عربو ذکر له دی امله شوی چه د هغه د حکومت اغاز به له عربوڅخه وی هغه به په مکه مکرمه اومدینه منوره کی ښکاره کیږی کوم چی دقران کریم تلاوت کوی اوپه عربی ژبه پوهیږی. مرقات المفاتیح شرح مشکوة المصابیح /۵/۱۷۹

کله چه مهدی صاحب سره بیعت وشی نو ډیر خلک به د مقابلی لپاره فوځونه تیار کړی او د هغه مقابلی لپاره به راروان شی چه اول به په هغوئ کی د شام والا یوه ډله وی نو کله چه ذوالحلیفه ته راورسیږی نو دی وخت کی به په ځمکه ننوزی او خسف به شی.

دی خلکو به له ځان سره په زور ډیر مسلمانان هم را روان کړی وی چه راځی د مهدی مقابله کوو ډیر لاروی به هم ورسره وی. خو کله چه عمومی

(c) ketabton.com: The Digital Library

عذاب راشی نو په هغه عذاب کی به ورسره نیکان خلک هم په څمکه ننوزی مګر د هغوئ نیت به غلط نه وی هغوئ به د قیامت په ورځ د خپلو نیتونو مطابق جدا جدا حشر کیږی.

که د چا بده اراده وه نو هغه دنیا کی هم هلاک او اخرت یی هم تباه شو.

او که څوک مجبورا را روان شوی وی نو هغه به د دغو کسانو سره به دنیا کی شریک په څمکه ننوزی لیکن په اخرت کی به یی ځایونه جدا جدا وی....

د بخاری شریف دا حدیث چه عائشی رضي الله عنها نه روایت ده (یخسف باولهم واخرهم ثم یبیغثون علی نیاتهم ).

مهدی صاحب به د ظهور په وخت کی یوازی نه وی بلکه الله تعالی به د مشرق (خُراسان) ډیرخلک له هغه سره مرسته کوونکی جوړ کړی کوم چه د دین اسلام حاملین به وی او دالله تعالی په لارکی به جهاد کوی لکه څنګه چی په یوه حدیث کی راځی.

په اخره زمانه کی چه کله د خلکوحالات خراب شی په دی وخت کی به د خلیفه ګانو له اولاد څخه دری نفره په کعبه او د هغی په خزانو باندی د قبضی کولو لپاره په خپل مینځ کی جنګ وکړی په هغوی کی به هر یو په کعبه شریفه باندی دقبضی کولو غوښتونکی وی مګر یو به هم کامیاب نشی. په عین همدی وخت کی به د مکی په ښارکی مهدی صاحب ظهور وکړي او دا خبره به په خلکوکی عامه شی له کعبی سره نږدی به له مهدی صاحب سره بیعت کوی.

حضرت ثوبان رضی الله عنه وایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی

(یقتل عندکنزکم ثلاثة کلهم ابن خلیفه ثم لایصیرالی واحدمنهم ثم تطلع الرایات السودمن قبل المشرق. فیقتلونکم قتلا لم یقتله قوم ثم ذکرشیالااخفظه فقال. فاذارایتموه فبا یعوه ولوحبوا علی الثلج)

ژباړ : د ستاسو د کعبی د خزانی په سر به دری نفره په خپل مینځ کی جنګ وکړی په دغو دریو کی به هریو د کوم خلیفه زوی وی مګر دا خزانه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ته هم په لاس ورنشی بیا به له مشرق (خراسان) څخه تور بیرغونه راښکاره شی هغه به تاسو په داسی طریقه سره قتل کړی چه مخکی یی هیڅ مثال نه وی.

ثوبان رضي الله عنه وایی بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم بله کومه خبره وکړه چی ماته په یاد نده بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل کله چه تاسو دغه کس (مهدی) ووینی نو له هغه سره بیعت وکړی.

د..کنزکم... په باره کی ویل شوی دی چه له دی څخه مراد د کعبی خزانی دی کومی چه د سرو زرو دی.

علماء وایی چه هغه خزانی د کعبی لاندی ښخی شوی دی.

یو قول دا هم ده چه له هغو خزانو څخه مراد د فرات د سیند خزانی دی یعنی د سرو زرو هغه غر ده چه د فرات په سیند کی به را ښکاره شی.

مهدی صاحب به اول جزیره عرب فتح کړی بیا به بیت المقدس فتح کړی وروسته به فارس او خراسان بیا نوره دنیا...

باالاخره... مهدی صاحب به اووه کاله بادشاهی وکړی چه دا به د مسلمانانو لپاره ترټولو ارام سوکاله او د خوشحالی وخت وی ډیر د برکت وخت به وی اسمان به بارانونه کوی او ځمکه به ګیا شنه کوی مسلمانان به دومره مالدار شی چه هیڅوک به زکات نه اخلی.

په دی اوو کالو کی به دجال هم را پیدا شی بیابه عیسی علیه السلام له اسمان څخه را ښکته شی او دجال به قتل کړی..

د امام مهدي علیه السلام څوک دی؟

د امام مهدي علیه السلام په اړه د اهل سنت والجماعت د تیر څوارلس سوه کلونو راهیسي دا عقیده ده چې دی به قیامت ته نږدې زمانه کې ظهور کوي او د مسلمانانو مشری به کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام مهدي تعرف:

نوم: محمد

لقب: مهدي

پلار نوم: عبدالله

د مور نوم: امنه

نسب: د فاطمة الزهراء په اولاد کې به وي

ځاي د پيدا کيدو: مدينه منوره

بدن: لوړ قد، لوړه پزه، پياوړی بدن

مخ: مخ مبارك به د رسوالله صلی الله عليه وسلم په خير وي

عمر: د څلوېښتو کلونو په عمرکې به وي

ظهور: په مکه مکرمه کې به ظهور وکړي

بيعت: دی مبارك به د حجرلاسود او مقام ابراهيم تر مينځ د مسلمانانو نه بيعت اخلي د بيعت کونکو شمير به د ميدان د صحابه کرامو ۳۱۳ تنو سره برابر وي

مشری: د مسلمانانو مشری به کوي او د کافرانو سره به سخت جنګونه کوي

حکومت: د ځمکي پر مخ به د عدل او انصاف نه ډك اسلامي خلافت قايم کړي

فيصله : فيصلې به په قران او حديث کوي

شتمني : په خلکو به دومره مال (سره زر،سپين زر،روپۍ ....) تقسيم کړي چې اخيستونکي به يې نور نه وي

خلافت مدت : د ۷ او ۹ کلونو تر مينځ به وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مهدي عليه السلام د خلافت په دوران کې به عيسى عليه السلام له اسمانه راکوز شي دده د راتګ تر مخه به دجال راوتلی وي عيسى عليه السلام به دجال ووژني او تر هغه وروسته به د مهدي عليه اسلام جنازه اداء کړي.

**۱۰- غيبت**

د شيعه ګانو په اسلام کې يعني په دې باور او عقيده لرل چې د اخرالزمان منجي يا مهدي چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم له اولادې څخه ده دنيا ته راغلی ، وروسته د خلکو له ديد څخه نادرکه يا پټ شوی ده، يوه ورځ به د عيسى عليه السلام سره راڅرګند شي او نړې کې به عدالت او سوله خپره کړي. د شيعه ګانو ځينې ډلې لکه اسماعليان، نزاري او زيديه په غيبت عقيده نه لري، دوی په دې باور دي چې امام بايد حاضر او خلکو ته لارښونه وکړي.

د شعيه ګانو هغه ډلې چې په غيبت عقيده لري د غايب امام په ځانګړنو او نوم کې سره په يوه نظر نه دي، د دوی لويه ډله چې اماميه ده غايب امام د حجت بن الحسن يا (امام عصر او امام زمان) په نامه يادوي. ياده ډله وايي چې حجت بن الحسن ژوندی ده خو په پټه کې ژوند کوي، دغه عقيده د اخرالزمان د غيبت يا پټ ژوند په نوم پيژندل کيږي.

د شيعه ګانو په ادبياتو کې پټيدل (غيب کېدل) په دوه ډوله دي: صغرا (لنډ مهاله پټېدل) او کبرا (اوږد مهاله پټېدل).

**د صغرا غيبت(۸۷۴-۹۴۰م) (۲۶۰-۳۲۹ق)**

د شيعګانو په باور دا هغه دوره ده چې حجت بن الحسن په پټه کې ژوند کوو او نورو شيعه ګانو سره يې يوازې د څلورو استازو په وسيله اړيکه ساتله. نوموړی امام په شپږکلنۍ کې ځان غايب کړ ځکه د وخت خليفه عباسي معتمد له حجت بن الحسن سره د نورو اړيکه محدوده کړې وه او د خپلو جاسوسانو په وسيله يې تر څار لاندې نيولی ؤ، نو په دې اساس زياتره شيعه ګان له حجت بن الحسن سره نشو لېدلای يوازې د هغو استازو چې د نواب اربعه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

عثمان ابن سعید (متوفی ۲۶۷ ق -۸۸۰میلادی)

محمد بن عثمان (متوفی ۳۰۵ق -۹۲۰م)

حسین ابن روح نوبختی (فوت ۳۲۶ ق -۹۳۷ م)

علی ابن محمد سمری (فوت ۳۲۹ ق -۹۴۱ م)

په وسیله ورسره ملاقات کولی شو چې دوی تاکلي وو. د امامیه ډلې د سرچینو په اساس د دوی یوولسم امام (عسکري) خپل زوی حجت بن الحسن په ښکاره ډول د امامت لپاره انتخاب نکړ ځکه خطر ورته متوجې ؤ، بلکې یواځې په اشاره او ځینو ځانګړنو سره یې معرفي کړ. عباسي معتمد چې د دې د زوی په لټه کې ؤ، هڅه یې کوله چې پیدا یې کړي او زندان ته یې واچوي. په ۲۶۰ قمري کال کې د یوولسم امام له وژل کیدو او ورسره د جنازې لمانځه وروسته ضغرا غیبت پیل او ۳۲۹قمري کاله پورې دوام وکړ.

**د کبرا غیبت:**

د دولس امامه ډلې په اند کله چې علی بن محمد سمری په ۳۲۹ قمري - ۹۴۱ میلادي کال کې ومړ صغرا غیبت پای ته ورسید او کبرا غیبت پیل شو او تر هغه به وي چې کله حجت بن الحسن را څرګند شي.

نزاري اسماعلیان په غیبت عقیده نه لري، دوی وایي چې څلورم آقاخان نهه څلویښتم او د وخت امام ده . دوی په دې عقیده دي چې د وخت امام د لومړی امام حضرت علي رضي الله عنه سره هیڅ توپیر نه لري.

یوه بله ډله چې دروزیان ورته وایي په دې عقیده دي چې امام الحاکم بامر الله په ۴۱۱ هـ.ق (۱۰۲۱ م) غایب شو او وروسته له هغه څلور داعیان د دروزي ډلې (مذهب) جوړ کړ چې د دوی له جملې څخه حمزه بن علی د دې ډلې رهبري او دعوت په لاس کې واخیست، وروسته یې رهبري پنځم داعي بهاءالدین په لاس کې شوه. دروزیان د الحاکم ځایناستی امام نه بولي بلکې یواځې یې د خلیفه په توګه مني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیدیه ډله هم په غیبت عقیده نه لري، د دوی په اند که هرڅوک د حسن یا حسین له نسل څخه وي، کوی شي امامت ته ورسیږي، امام باید د ظلم او بې عدالتۍ پر وړاندې پاڅون وکړي، په ښکاره توګه حکومت وکړي او عدل پلی کړي.

## ۱۱- انتظار

د سترګې په لاره او «فَرَج» د خلاصون په مانا دی. د خلاصون څخه موخه امام مهدي ته چې د امامیه ډلې دولسم امام ده په انتظار دي چې یوه

ورځ به راشي د عدل یو حکومت به په ټوله نړۍ پلې کوي.

شیعه ګان په دې عقیده دي، کوم شخص چې غیب ده او دوی ورته انتظار کوي د دوی دولسم امام د حضرت علي رضي الله عنه له نسل څخه نهم لمسی ده چې حجه بن الحسن (امام مهدی) نومیږي، یوه ورځ به راڅرګندیږ ي د سولې او عدالت حکومت به جوړوي. امام باقر چې د شیعه ګانو پنځم امام ده، د فرج انتظار د دین له اساسي چارو څخه شمارو او په توحید او نبوت باندې د ګواهي سره په قطار کې یې حسابوو.

د شیعه ګانو د ائمو څخه حدیث رانقل دي چې انتظار یو له غوره او بهترینو اعمالو او عبادتاتو څخه شمېرل کیږي او د نورو اعمالو د قبلېدو د دوی په اند یو شرط ګڼل کیږي.

یو بل حدیث له دوی له ائمو څخه را نقل شوی ده چې کوم کس د اولیاو او د هر وخت د نیکو اشخاصو ته په انتظار وي دوی به د قیامت په ورځ له اهل بیت سره یوځای وي او څوک چې د انتظار په حال کې مړ شي داسې ده لکه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره یو ځای د جهاد په میدان کې جنګیږي او دی په شهادت ورسیږي.

د فرج په انتظار باندې د شیعه ګانو دومره تاکید او فضیلت د دې لپاره شوی چې د شیعه ګانو د اتصال حلقه د امامانو سره د دوی د ولایت او امامت د منلو په وجه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشریت د ژغورونکی(مُنجی) د راتلو انتظار یواځې اسلام پورې محدود نه ده بلکې د نورو دینونو پیروان د هغه په انتظار دي. لکه یهود چې ماشیح (مسیح) چې مصداق ترې عُزَیر یا منحاس بن عازر بن هارون او یا داوود ده. مسیحان د عیسی ، زردشتیان د سوشیانت، هندوان د ویشنو او بودایان د میتریه په انتظار دي.

## ۱۲- رجعت

رجعت د بېرته راګرځېدلو په مانا ده، د شیعه ګانو په باور رجعت د امام مهدي په را څرګندیدو سره د ځینو مړو شوو اشخاصو بیا را ژوندي کېدل دي. د شیعه ګانو د عقایدو څخه یو هم رجعت ده چې د اثبات لپاره یې ځینې آیتونه او او روایات وړاندې کوي.

په روایاتو کې رجعت ته د «کرّه»، «ردّ» او «حشر» په اشارې سره استفاده شوې ده.

رجعت د شیعه ګانو له انده:

شیعه ګان رجعت د خپل مذهب ضرورت بولي، د ځینو په اند یې له رجعت څخه انکار له دین څخه نه خارجیږي. شیعه علماؤ د رجعت د اثبات لپاره زیات دلایل وړاندې کړي چې په لنډ ډول اشاره ورته کوو.

- قرآن

د رجعت د اثبات لپاره شیعه ګان د قرآن آیتونه وړاندې کوي:

(وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّن يُكَذِّبُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُمْ يُوزَعُونَ) [سورت النمل: ۸۳]
ژباړه: او هغه ورځ په تصور کې راوله، چې کله موږ له هر اُمّت څخه د هغو کسانو یو بشپړ پوځ محاصره راولو چې زموږ ایتونه یې دروغ ګڼل، بیا به هغوی(د هغو د اقسامو په لحاظ سره درجه په درجه) ترتیب کړل شي.

په دې آیت کې د انسانانو د یوې ډلې د ژوندي کېدو خبره شوې ده، په داسې حال کې چې دا آیت د قیامت د ورځې په یاد کې ده. خو شیعه ګان یې د رجعت لپاره دلیل نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د رجعت په اړه د پخوانیو قومونو ته هم اشاره شوې ده لکه د الیشع په لاس د یو هلک ژوندي کول، الیشع بن شافاط د بني اسرائیلو د یو پیغمبر نوم ده چې وروسته د الیاس علیه السلام څخه په پیغمبری مبعوث شوی ده.

او د ایلیا په لاس د هلک ژوندي کول، ایلیا هم د بني اسرائیلو د یو پیغمبر نوم ده، ځینې بیا په دې باور دي چې ایلیا د خضر علیه السلام اصلي نوم ده.

شیعه ګان وایي د دغو نقلونو او دستانونو څخه ښکاري چې رجعت (یعنې د قیامت له رارسیدو مخکې د مړو ژوندي کېدل) ممکن امر ده او امکان د دې شته چې په دې دنیا کې مړي را ژوندي شي.

- روایتونه: د شیعه ګانو په اند له اویا زیاتو راویانو د رجعت په اړه احادیث را نقل کړي دي.

(محدث جزایری د یوولسمې او دولسمې پیړۍ شیعه عالم) ادعا کړې چې د رجعت په اړه ۶۲۰ حدیثونه لېدل شوي دي. همدارنګه حر عاملی چې د یوولسمه پیړۍ شیعه فقهي ده نږدې۶۰۰ حدیث په خپل کتاب کې ذکر کړي دي او ویلي دي چې دا احادیث تواتر دي. علامه مجلسی محمدباقر مجلسی (۱۰۳۷–۱۱۱۰ هجری قمری) مشهور په علامه مجلسی او مجلسی ثانی، د شاه سلیمان او شاه سلطان حسین صفوی د وخت شیعه فقهي او د بحارالانوار مؤلف.

هم اداعا کړې ده چې دا احادیث متواتر دي، او زیاته کړې ده چې که دا تواتر نه وي نو په هیڅ شي کې د تواتر ادعا امکان نه لري. علامه طباطبایی سید چې اصلي نوم یې محمدحسین طباطبایی د ایران هیواد او شیعه مذهب فیلسوف،اصولی، فقیه، عارف و روحاني ؤ، په دې باور ده چې: د رجعت روایات معنوي تواتر دي او د شیعه ګانو مخالفان له پیل راهیسې دا احادیث د شیعه ګانو او ائمو ته یې ځانګړي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیعه ګان د رجعت د اثبات لپاره د قرآن او حدیث سربیره ځیني دعاوي او زیارت نامې هم دلیل نیسي. زیارت نامې چې په زیارتونو کې د منجاورانو لخوا لوستل کیږي، زیاتره یې دعایي جنبه لري، په زیارت کې چې څوک دفن دي د هغه اوصاف په کې بیانیږي. ځیني زیارت نامې په شیعه مذهب کې ځانګړی اهمیت لري لکه عاشورا زیارت، جامعه کبیره زیارت، امین‌الله زیارت وارث زیارت، آل یاسین زیارت، جامعه ائمة المؤمنین زیارت.

**دعاوي:**

د دوی په باور د رجعت لپاره له سلو زیاتې دعاوي رانقل دي چې د یو څو نومونو به یې د نمونې په شکل ذکر کړو. د عهد دعا، د امام حسین د پیدایښت دعا او د دحوالارض دعا.

د ځینو ائمو په په قبرونو کې زیارت نامې موجودې دي چې په رجعت باور لرل پرې ثابتیږي.په ډیر کمو زیارت نامو کې د رجعت په باره کې څه نښته چې ځیني عبارت دي له: جامعه زیارت، وارث زیارت، اربعین زیارت، آل یاسین زیارت او رجبیه زیارت.

**رجعت کونکي به څوک وي:**

د شیعه ګانو په اند رجعت به هغه څوک کوي چې یا خالص مومنان او یا خالص کافران وي. په زیاتو روایاتو کې د امام حسین، امام علي امام مهدي د رجعت یادونه شوې ده. همدارنګه د ځینو اصحابو په خاص ډول حضرت علی کرم الله وجهه ښځه هم یادونه شوې ده. د دوی په باور په یو حدیث کې د دیارلسو ښځو هم یادونه شوې ده چې له د امام مهدي د را څرګندیدو پر وخت را ژوندی کیږی او امام سره به مرسته کوي چې ځیني یې دا دي.

قنواء د رشید لور، ام ایمن، حبابه والبیه، سمیه د عمار یاسر مور، زبیده، ام خالد احمسیه، ام سعید حنفیه، صیانة ماشطة، ام خالد جهنیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رجعت وخت:

د رجعت په وخت شیعه علماء ټول په یو اتفاق دي، تقریباً چا چې د رجعت د وخت موضوع یاده کړې ده د امام مهدي د ظهور د وخت سره برابره ښودلې ده، خو د دې لپاره يې دوه مرحلې ذکر کړې دي:

لومړی : رجعت د ظهور پر وخت، دا مرحله د امام مهدي له ظهور څه موده مخکې صورت نیسي او د امام مهدي د ملګرو تعداد پرې پوره کیږي. په دغه دوره کې د امام مهدي له ملګرو پرته بل څوک رجعت نه کوي.

دوهمه: د امام مهدي له حکومت وروسته مرحله ده چې په عموم ډول په کې رجعت صورت نیسي.

**شیعه ګانو د رجعت په اړه تر اوسه شل اثرونه لیکلي چې ځینې عبارت دي له:**

۱.الرجعة، اثر میرزا محمد استرآبادی قم، انوارالهدی، ۱۴۱۷ ق

۲.الإیقاظ من الهجعة بالبرهان علی الرجعة، تالیف حرّ عاملی در این کتاب که در سال ۱۰۷۵ ق. تألیف شده است، بیش از ۵۰۰ روایت، ده‌ها آیه و دلایل و قرائن دیگر برای اثبات رجعت اقامه شده است.

۳. الشیعة و الرجعة: اثر ایت الله محمدرضا طبسی نجفی، در این کتاب پس از بیان مباحث مقدماتی، در ضمن چند فصل، جایگاه رجعت در قرآن، ادعیه، زیارات، اجماع فقها و کلمات بزرگان بررسی شده است. در نخستین فصل این کتاب، ۱۷۴ آیه قرآن که در روایات به موضوع رجعت تأویل یا تفسیر شده‌اند، به همراه روایات مربوط ارائه شده است.:

۳. رجعت در عصر ظهور، محسنی دایکندی، محمدعظیم، قم، بنیاد فرهنگی حضرت مهدی موعود، مرکز تخصصی مهدویت، ۱۳۸۹ش.

۴. رجعت یا دولت کریمه خاندان وحی(ع)، محمد خادمی شیرازی, ویراسته علی‌اکبر مهدی پور، چاپ دوم، قم، مؤلف، ۱۴۱۱ ق.

۵. رجعت از دیدگاه عقل، قرآن، حدیث، حسن طارمی، چاپ نهم: قم، دفتر انتشارات اسلامی، ۱۳۸۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶. رجعت یا بازگشت به جهان، محمدرضا ضمیری، چاپ اول: تهران، موعود، ۱۳۷۸.

۷. بازگشت به دنیا در پایان تاریخ، خدامراد سلیمیان، چاپ اوّل: قم، بوستان کتاب، ۱۳۸۴.

## ۱۳- بداء

بداء د ممدوده الف سره د سماء په وزن د (بدا، یبدو) مصدر ده، چې مانا یې د هغه امر ښکاره کولو ته وایي چې له دې مخکې پټ ؤ.

په اصطلاح کې: په ټاکلي وخت کې د هغه تقدیر او برخلیک بدلیدلو ته وایي چې مخکې ورته ټاکل شوی وي. خو کله کله د مصلحت او د انسان د ښو او بدو اعمالو په وجه تغیر کوي. تقدیر یې په تازه مصلحت سره ییښیږي یا هم د پیښیدو وخت یې مخکې او ورسته کیږي.

شیعه ګانو د بداء کلمه د انسان او هم الله جل جلاله لپاره کارولې ده، خو ماناوي سره اساسي توپیر لري.

د الله جل جلاله او انسان په اړه بداء :

بداء د انسان لپاره د د پریکړې د تغیرولو او د نوې رایې وړاندې کولو په مانا کارول شوې ده. د دې لپاره چې د انسان علم محدود ده او تل نشي کولای خپله ګټه او زیان په ښه ډول تشخیص کړي، کله چې د یو کار کولو پریکړه وکړي، خو د کار پر مهال متوجې کیږي چې دا پریکړه د ده په زیان ده، امکان د دې وي چې ټوله هستي یې برباد شي. په دې وجه خپلې پریکړې ته د نوي پوهې او مصلحت په وجه تغیر ورکوي. له دې معلومیږي چې د دې پریکړې د تغیرولو سرمنشا د انسان پریکړه جهل، پوهه او مصلحت ده. خو په الله جل جلاله کې ناپوهي او نا خبري نشته د ټولو راتلونکو او مخکې حالاتو څخه خبر ده. هیڅ څه ترې پټ نه دي، د هر څه ګټه او زیان ورته معلوم ده. دغه ډول بداء د الله جل جلاله لپاره محال (ناممکنه) ده، که څوک د دې ډول بداء نسبت الله جل جلاله ته وکړي د ټولو مسلمانانو په اتفاق کافر کیږي. شیخ صدوق چې پوره نوم یې محمد بن علی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بن بابویه قمی ده، د شیعه مذهب د ځلورمې پیړۍ عالم تیر شوی ده دې باره کې وایي: وعندنا من زعم ان الله (عزّوجلّ) یبدو له الیوم فی شئ لم یعلمه امس فهو کافر والبراءة منه واجبة.

ژباړه: د شیعه ګانو په باور که څوک ووایي چې نن الله جل جلاله په هغه څه پوه شوی چې پرون نه پرې پوهیده، دغه کس کافر شو، نو واجب دی پرتاسو چې له هغه بېزاري وکړي.

د الله جل جلاله لپاره بداء (د هغه مصلحت ښکاره کول دي چې له بنده ګانو پټ دي) په مانا ده. انسان به ګمان کوي چې یو اتفاق به په ټاکلي وخت کې پېښیږي، خو د دوی د انتظار په خلاف الله جل جلاله انسان پوهوي چې له پیل نه یې تصمیم(پریکړه)همدا ؤ.

یا په بل تعبیر الله جل جلاله د شرایطو مطابق او وضعیت ته په کتو برخلیک او تقدیر په (ام الکتاب) کې ټاکي. خو د نویو مصالحو، شرایطو او عواملو چې د انسان په اختیار کې دي برخلیک او تقدیر یې اغیزمن کیږي هغه څه چې یې په برخلیک کې ټاکلي تغیر ورکوي او خلک له نوي تقدیر او برخلیک خبروي. لکه په دې آیت کې:

( يَمْحُوا اللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ ۖ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ الْكِتَٰبِ) [سورت الرعد:۳۹]

ژباړه: د الله چې څه ته خوښه شي له منځه یې وړي. او (څه ته چې یې خوښه شي،) تثبیتوي یې، او ام الکتاب (علم الله یا لوح محفوظ) له هماغه سره دی.

شیعه ګانو په قرآن کې زیات آیتونه د الله جل جلاله په باره کې بداء په اثبات رسولې ده.

مرحوم عیاشی چې شیعه فقهي او مفسر ده او کاشاني چې دی هم یو شیعه عالم ده، د پورتني آیت په تفسیر کې دغه روایت را نقل کړی ده:

وعن الحسین بن زید، عن جعفر بن محمد، عن ابیه، (علیهم‌السّلام) قال: قال رسول الله (صلی‌الله‌علیه‌وآله‌وسلّم): ان المرء لیصل رحمه وما بقی من عمره

(c) ketabton.com: The Digital Library

الا ثلاث سنين، فيمدها الله الى ثلاث وثلاثين سنة وان العبد ليقطع رحمه، وقد بقى من عمره ثلاث وثلاثون سنة فيقصرها الله الى ثلاث سنين او ادنى، قال: وكان جعفر ع يتلو هذه الآية: (يمحوا الله ما يشاء ويثبت وعنده‌ام الكتاب)

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: یو کس چې له دري کلونو يې زيات عمر نه ده پاتې صله رحمي کوي، خو الله جل جلاله يې عمر د صله رحمي په وجه ديرشو کلونو ته اوږدوي، کس صله رحمي قطع کوي د ده عمر درې ديرش کاله پاتې خو الله جل جلاله يې عمر دريو يا له دې څخه کمو کلونو ته را ټيټوي. راوي وايي چې امام صادق وروسته دا آيت وويل«يمحوا الله...

**دوهم آيت:**

د حضرت ابراهيم عليه السلام قيصه چې الله جل جلاله ورته د اسماعيل عليه السلام د قرباني کولو حکم کړی ؤ، خو وروسته له خپل حکم تېر شو د صافات سورت دغې واقعې ته اشاره کړې ده، د بداء مصداق يې الله جل جلاله ته کړی ده.

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَٰبُنَيَّ إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي الْمَنَامِ أَنِّيٓ أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ يَٰٓأَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ اللَّهُ مِنَ الصَّٰبِرِينَ. فَلَمَّآ أَسْلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلْجَبِينِ. وَنَٰدَيْنَٰهُ أَن يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ. قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَآ ۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ. إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْبَلَٰٓؤُا الْمُبِينُ.[سورت الصافات: ۱۰۲-۱۰۶]

ژباړه: کله چې اسماعيل عليه السلام له پلار سره د منډو ترړو کولو عمر ته ورسيدی، نو (يوه ورځ) ابراهيم هغه ته وويل: "زويه! زه په خوب کې وينم چې تا حلالوم؛ اوس ته ووايه چې ستا نظر څه دی؟" - هغه وويل: "پلار جانه! څه چې تا ته حکم کيږي، هغه وکړه، ته به انشاءالله ما له صابرانو څخه ومومې. په پای کې چې کله دغو دواړو (ددغه حکم په مقابل کې) د منني سر ښکته کړ او ابراهيم عليه السلام زوی پړمخې څملاوه، او موږ غږ وکړ: "اې ابراهيمه، تا خوب رښتيا کړ. موږ نېکي کوونکو ته همدغسې غوره مکافات ورکوو. په باوري ډول دا يوه څرګنده ازموينه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بداء په اړه د اهل بیت څخه روایات:

د اهل بیت څخه هم د بداء په اړه ګڼ شمیر روایات نقل شویدي بداء د اهل بیت ائمو ته ډیر زیات اهمیت لري تر دې چې د توحید او شرک سره یې په څنګ کې بللی ده، او د اهل تشیع یو له مهمو عقایدو شمیرل کیږي. شیخ کلیني په خپل کتاب کافي او شیخ صدوق په شریف التوحید کتاب کې حدیث د دوي په وینا صحیح سند سره رانقل کړی ده.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيٍّ مَاجِيلَوَيْهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ أَبِي عُمَيْرٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ سَالِمٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُسْلِمٍ عَنْ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ (علیه‌السلام) قَالَ: مَا بَعَثَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ نَبِيّاً حَتَّى يَأْخُذَ عَلَيْهِ ثَلَاثَ خِصَالٍ الْإِقْرَارَ بِالْعُبُودِيَّةِ وَخَلْعَ الْأَنْدَادِ وَأَنَّ اللَّهَ يُقَدِّمُ مَا يَشَاءُ وَيُؤَخِّ

ژباړه: له امام صادق څخه نقل ده چې، آن حضرت وفرمایل: الله جل جلاله هیڅ پیغمبر نه ده مبعوث کړی، مګر دا چې درې خصلتونه په کې موجود وي، لومړی د الله جل جلاله په بنده ګۍ اعتراف وکړي، دوهم د سست شریکانو او همکارانو څخه ځان وساتئ؛ دریم په دې اعتراف وکړي چې الله جل جلاله هر څه وغواړي مخکې له ټاکل شوې وخت څخه تر سره کوي یا یې ځنډوی.

**بداء د اهل سنت له لید څخه:**

د اهل سنتو په کتابونو کې له بداء څخه هماغه مفهوم اخیستل شوی په کوم چې شیعه ګان قایل دي. په صحیح البخاري کې د دریو نفرو ذکر شوی چې الله جل جلاله ته د دریو بني اسرائیلو په اړه بداء حاصله شوه.

اخبرنا هَمَّامٌ عن إِسْحَاقَ بن عبد اللَّهِ قال اخبرنی عبد الرحمن بن ابی عَمْرَةَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رضی الله عنه حدثه أَنَّهُ سمع رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم یقول إِنَّ ثَلَاثَةً فی بَنِی إِسْرَائِيلَ أَبْرَصَ وَأَقْرَعَ وَأَعْمَی بَدَا لِلَّهِ أَنْ يَبْتَلِيَهُمْ فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ مَلَكًا فَأَتَی الْأَبْرَصَ فقال أَیُّ شَیْءٍ أَحَبُّ إِلَيْکَ قال لَوْنٌ حَسَنٌ وَجِلْدٌ حَسَنٌ قد قَذِرَنِی الناس قال فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ عنه فَأُعْطِیَ لَوْنًا حَسَنًا وَجِلْدًا حَسَنًا...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: په بني اسرائيلو کې درې نفره په درېو مرضونو  اخته ؤ چې يو يې پيس، بل مور ذاتی کوڼ او درېيم يې ړوند ؤ، الله جل جلاله ته بداء حاصله شوه چې دوی وآزمويي، ملائکه يې ورته راولېږله، په پيس مرض اخته کس څخه يې وپوښتل، تر ټولو د څه شی سره زياته مينه لرې؟ وويل ښه پوستکی او رنګ، ځکه چې خلک ما ناپاک او پليد ګڼي، نو ملائکې د هغه پر بدن لاس کېښود دهغه پيس مرض له منځه لاړ او هغه ته يې ښه رنګ ورکړ.

## دوهم فروع پېژندل:

الف: عبادي احکام

### ۱- لمونځ ۳- زکات ۲- روژه ۴- جهاد ۵- حج ۶- خمس

دا چې مونږ مسلمانان د لمانځه، روژې، زکات، حج او جهاد سره پوره آشنايي لرو، نو پر دې اساس د دې پنځو واړو احکامو له تشريح او تفصيل څخه تيرېږو يواځې خمس تر تر تشريح لاندې نيسو.

### ۶- خُمس

خُمس يو پر پنځو ته وايي چې جمع يې خمسة ده.

د شيعه علماؤ په آند خُمس په اصطلاح کې هغه شرعي حق ته وايي، چې ورکول يې واجب دي او د دې مال مستحقين د بني هاشم کورنۍ بولي.

شيعه ګان د خمس د اثبات لپاره قراني آيتونه او امامانو روايتونه دليل نيسي.

(وَاعْلَمُوٓا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَىْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِن كُنتُمْ ءَامَنتُم بِاللَّهِ وَمَآ أَنزَلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ ۗ وَاللَّهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ). [سُوْرَةُ الأنفَال: ۴۱]

ژباړه: او تاسي ته دي معلومه وي چي د ولجې (غنيمت) څه مال چې تاسو په لاس راوړی دی، د هغه پنځمه برخه د الله، د هغه د پيغمبر، د خپلو خپلوانو، د يتيمانو، د مسکينانو او د مسافرانو لپاره ده. که تاسې پر الله او پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه شي ایمان راوړی وي چي د فېصلې په ورځ (یعني د دواړو لښکرو د مخامخ کېدو په ورځ) موږ پر خپل بنده نازل کړی وو (نو دا برخه په خوښۍ سره ادا کړئ). الله په هر څه قادر دی.

د اهل تشیع علماؤ په باور ذکر شوي آیت کې د خمس ورکول یو د ایمان له نښو څخه ده، یعني که چا خمس ورنکړ دا کس بې ایمانه ده.

همدارنګه دوی له خپل یو امام څخه نقل کوي چې ویلې دي: لَعْنَه اللَّهِ والْمَلائِکَه والنَّاسِ أَجْمَعِینَ عَلَی مَنِ اسْتَحَلَّ مِنْ مَالِنَا دِرْهَما...، لَعْنَه اللَّهِ والْمَلائِکَه والنَّاسِ أَجْمَعِینَ عَلَی مَنْ أَکَلَ مِنْ مَالِنَا دِرْهَماً حَرَاماً...

ژباړه: د الله جل جلاله، ملائکو او ټولو انسانانو لعنت دې وي، په هغه چا چې یو درهم زمونږ له مال څخه حلال ګڼي. او د الله جل جلاله، ملائکو او ټولو انسانانو لعنت دې وي، په هغه چا چې زمونږ له مال څخه یو درهم مال خوري په داسې حال کې چې دا ورته حرام ده.

د ذکر شوي آیت سبب نزول:

د دې آیت سبب نزول د یوې ډلې مسلمانانو په باره کې ده چې د بدر له غزا وروسته یې پر غنمتونو یو لړ ستونزې راغلې.

**د خمس د نه ورکولو آثار:**

شیعه علماء د خمس په نه ورکولو ځینې مسائل مطرح کړي دي:

الف: که یو انسان له خپل مال څخه خمس ورنکړ، نشي کولای تصرف پکې وکړي. مثلاً په هغو خواړو کې چې خمس وي نشي کولای چې له دې خوړو څخه څه وخوري.

ب: که چا په پیسو کې خمس ورنکړ یعنې د شرعي حاکم له اجازې پرته یې راکړه ورکړه پرې وکړي، معامله یې باطله ده.

ج: حمام کې په هغو پیسو غسل کول باطل ده چې خمس یې نه وي ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل سنت په اند، خمس یواځې د غنیمت په مال کې واجب ده، خو شیعه ګان بیا خمس په اوو څیزونو کې واجب بولي. چې عبارت دي له:

**۱.** د کسب په منفعت کې: په هغه توکو کې چې د یو انسان او یا کورنۍ له اړتیا څخه زیات وي. لکه خواړه او جامې، د واده مصارف، د کور توکي او داسې نور..

**۲.** معدن: له معدن یا کان څخه چې څه لکه سپین او سره زر، سرب، مس نفت، د ډبرو سکاره، فیروزه، عقیق، او مالګه ترلاسه کړي خمس باید ترې ورکړل شي.

**۳.** ګنج(خزانه): ګنج هغه مال ته وایي چې په ځمکه، غرو، ونو او یا په دیوال کې پټ وي او یو څوک یې پیدا کړي. په هغه صورت کې خمس ورکول کیږي چې د خزانې قیمت د کسر له مخارج وروسته ۱۰۵ مثقاله سپین زر یا ۱۵ مثقال سره زرو ته ورسیږي.

**۴.** په هغه مال کې چې حلال له حرام سره ګډ شي:

په دې کې دوه صورته دي

لومړی: چې د مال صاحب معلوم وي

الف: که د حرام مال اندازه معلومه وي باد خپل څښتن ته دې وسپارل شي.

ب: د حرام مال اندازه معلومه نه ده، باید یو بل راضي کړل شي.

دوهم: چې د مال څښتن معلوم نه وي

الف: که د حرام مال اندازه معلومه وي باید د څښتن په نیت دې صدقه کړي. په دې کې احتیاط واجب ده باید د شرعي حاکم څخه اجازه واخلي.

ب: که د حرام مال اندازه نا معلومه وي د ټول مال خمس باید ورکړل شي او پاتې یې ورته حلال ده.

**۵.** هغه جواهر چې د غواص (غوټې) په واسطه لاس راځي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه صورت کې خمس پرې واجب ده چې د لاسته راوړل شوي څیز قیمت ۱۸ نخوده سره زرو ته ورسیږي.

**۶.** غنیمت: د شیعه علماؤ په اصطلاح غنیمت هغه څه ته وایي چې له کفارو څخه نیول کیږي، که پرته له قتال څخه وي "فیء" او که قتال پکې وي غنیمت ورته وایي.

غنیمت چې جمعې مغانم ده په اصل کې "غُنم" ده، چې مانا یې ګټې ته رسېدل دي. یعنې هر هغه څه چې د جنګ له لارې له دښمن یا غیر دښمن څخه لاسته راځي، غنیمت ورته ویل کیږي.

د شیعه ګانو په باور "ما غَنِمْتُمْ مِنْ شَیْءٍ" جنګي غنائمو ته خاص نه ده بلکې "ما" یکې موصوله ده د عمومیت د پاره، "مِنْ شَیْءٍ" قرینه ده د خاص د پاره، یعنې هر حلال منفعت چې لاسته راځي غنیمت شمیرل کیږي. او خمس په کې واجب کیږي. د ایت نزول که خاص ده خو د خاص په باره کې نه ده، ټول غنایم چې د تجارت، معادن او نورو څخه لاسته راځي یکې شامل دي، ځکه د دوی په آند د آیت لغوي مانا په نظر کې نیول کیږي، نه اصطلاحي مانا چې خاص جنګي غنایمو ته کارول کیږي. لکه څنګه چې په بل آیت کې د غنایمو لپاره عامه مانا کارول شوې ده.: «إِذَا انْطَلَقْتُ إِلى مَغانِمَ لِتَأْخُذُوها» او «وَ مَغانِمَ کَثِیرَةً یَأْخُذُونَها»؛

**۷.** په هغه ځمکه کې خمس واجب ده چې ذمي کافر یې له مسلمان څخه واخلي.

**د شیعه ګانو په باور په لاندې توکو کې خمس نشته:**

- د میراث مال
- د هبې مال
- د جایزې مال
- د اختر مبارکۍ مال
- په هغه مال کې چې یو چا ته د خمس او یا زکات څخه په لاس ورغلی وي.
- د ښځې مهریه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خمس باید چاته ورکړل شي!**

دا چې خمس چاته ورکړل شي په آیت شریف کې د شپږو کسانو یادونه شوې. درې برخې د الله، رسول او ذی القربی(د پیغمبر خپلوان) چې شیعه ګان یې د امام برخه بولي او درې برخې نورې د یتیمانو، مسکینانو او مسافرو دي چې د سادات د برخې په نامه یې یادوي.

## ب: غیر عبادي

### ۱. امر بالمعروف او نهې له منکر څخه

د الأمر بالمعروف او نهی عن المنکر معنی

الأمر بالمعروف : په الله تعالی او د هغه په رسول باندې ایمان راوړلو او په اسلامي شریعت عمل کولو باندې امر کول.

النهی عن المنکر : د الله تعالی سره شریک نیول او د هغه د رسول درواغ ګڼلو او ټولو هغو اعمالو چې په اسلامي شریعت کې حرام دي منع کولو ته وایي.

د الأمر بالمعروف والنهي عن المنکر حکم:

الأمر بالمعروف والنهي عن المنکر د اسلامي شریعت له سترو فرضیاتو څخه دی چې په فرضیت باندې یې قرآن او سنت دلالت کوي ، لقوله سبحانه وتعالی:

(كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْراً لَّهُم مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ) [آل عمران: ۱۱۰].

ژباړه : تاسې غوره امت یاست چې د خلکو د پاره راویستل شوي یاست ، ځکه چې د نیکی په لور بلنه کوئ او د بدی مخه نیسئ او په الله ایمان لرئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که اهل کتاب ایمان راوړی وای ډیره ورته غوره وه ځینې یې مؤمنان دي خو زیاته برخه یې فاسقان دي.

او په دې عمل باندې تأکید دی ، قوله سبحانه تعالی:

(وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ) [آل عمران: ۱۰۴].

ژباړه : او باید له تاسې څخه یو ډله وي چې د نیکۍ په لورې بلنه کوي او له بدۍ څخه منع کوي او همدغه خلک کامیاب دي.

ضیعه د (وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ) چې صیغه د وجوب ده چې په حکم او امر کولو باندې دلالت کوي.

د الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر حکم په اصل کې په اجماع د امت فرض کفایي دی ، که د امت ځني خلک د هغه قیام وکړي نو د نورو غاړه به ور باندې خلاصه شي او که ټولو پرېښود نو ټول ګناهکاره دي.

هغه صورتونه چې الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر فرض عین ګرځي:

اول صورت : په هغو کسانو باندې چې اسلامي حکومت د الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر د پاره ټاکلي وي پر هغوی باندې الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر فرض عین دی.

دوهم صورت : په هغه صورت چې په یو شرعي مسئله کې چا ته علم وي لکن نورو ته علم نه وي یا نورو ته هغه معروف او منکر عمل نه وي څرګند نو په دې صورت کې په دغه کس باندې الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر فرض عین ګرځي، دا کس مسئول دی چې نور به ورباندې خبروي.

دریم : کله چې الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر علمي دلیل او مناقشې ته ضرورت پیدا کړي نو بیا دغه الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر او د هغه د پاره شرعي دلیل او مناقشه پر هغو کسانو چې ددې صلاحیت لري فرض عین ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلورم : کله چې یو کس په الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر بانديْ قادر وي او نور د هغه قیام نشي کولای نو پر دغه کس بانديْ الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر فرض عین دي ، لکه د کور اصلاح ،کله چې سړی په کور کې منکر ويني په خپله ښځه او اولاد کې هغوی به له منکر نه منع کوي دغه د کور اصلاح د کور په سرپرست بانديْ فرض ده ځکه چې بل څوک د هغه په کور کې مداخله نشي کولای.

پنځم : کله چې منکرات زیات شي ، جهل او ناپوهي غالبه شي او داعیان کم شي د الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر څانګه نه وي او د هغوی د توان څخه ووځي ، نو په دې صورت کې پر ټولو بانديْ د خپل توان موافق الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر فرض عین دی . نن چې مسلمانان د کوم حالت سره مخ دي دا همدغه صورت دی.

کله چې منکرات او فساد زیات شي الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر ځکه فرض عین کرځي چې جهاد له باب د الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر څخه دی کله چې د مسلمانانو په ملک بانديْ کفار یرغل وکړي جهاد فرض عین ګرځي ، همدارنګه د فساد او منکراتو د زیادت په وخت الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر هم فرض عین ګرځي.

## ۲. تولی تبري

تولي او تبري ترکیبي کلمې د الله جل جلاله او د هغه د ملګرو(پیغمبران، ائمه او مومنان) سره د مینې محبت او له دښمنانو سره يې د دښمني. یا د الله جل جلاله لپاره د مینې او دښمني کولو په مانا دي.

په قران کې د تولي او تبري یوځایوالی:

تولي او تبري کلمې په قران کې سره یوځای نه دي راغلي، خو د ولي کلمه د (ولي) په مادې سره د دوستي، سرپرستي، او د تبري کلمه د بیزازي او جلاوالي په ماناو سره راغلي دي.

الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَلَيْهِمُ الْخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَٰلَ الَّتِى كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ فَالَّذِينَ ءَامَنُوا بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِىٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ ۙ أُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ).
[سُوْرَةُ الأعرَاف :١٥٧]

ژباړه: نو نن دا رحمت د هغه چا په برخه دی چي ددې نبي اُمي پیغمبر پیروي غوره کړي، چي د هغه یادونه هغوی په تورات او انجیل کښي خپلي مخي ته لیکلې مومي. هغه دوی ته د نېکۍ حُکم کوي او له بدۍ څخه یې منع کوي. د دوی لپاره پاك شیان حلال او ناپاکه شیان حراموي. او له دوی څخه هغه پېټي کوزوي چي پر دوی درووند شوی ؤ او هغه بندیزونه ماتوي چي په هغه کښي دوی کلك تړل شوي ول. نو کوم کسان چي پر ده محمد صلی الله علیه وسلم ایمان راوړي او دده ملاتړ او مرسته وکړي او د هغې روښنایۍ پیروۍ غوره کړي چي له ده سره نازله شوېده، هماغوی بری موندونکي دي.

ځینو مفسرینو په دې آیت کې «عَزَّروهُ» د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له دښمنانو سره تبري او «نَصَروهُ» د تولي په مانا کارولي دي.

## دریم: اخلاق او انساني فضایل او رزایل

### الف: فضایل

### ۱- کَظْمِ غَیْظْ (غوسه زغمونکی)

غَیْظْ تر ټولو هغه ستره غوسې او حرارت ته وایي چې د انسان وینه په جوش راولي.

کظم د خپل نفس ساتلو په مانا ده، نو ویلی شو چې کظم غیظ یوه اخلاقي کلمه ده چې د غوسې د کنټرول او نه ښکاره کولو ته وایي. هغه کس ته چې غوسه زغمونکی وي کاظم ورته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قران کې هم کظم غيظ د پرهيزګارانو د يوې ځانګړنې په حيث ياد کړې ده. (الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِى السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ وَالْكَٰظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ).[ سُوْرَةُ آل عِمرَان: ۱۳۴]

ژباړه: د هغو لپاره چې د بډايۍ او بېوزلۍ په دواړو حالاتو کې مال مصرفوي، د غوسې زغمونکي دي او د نورو لنډ پاري بخښي. داسې نېکان خلك د خدای ډېر خوښ دي؛

شيعه ګان د پيغمبر صلی الله عليه وسلم او خپلو ائمو نه د کظم غيظ په باره کې روايات را نقلوي. د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه روايت ده چې فرمايي: هر چا چې خپله غوسه وخوړه يعنې کنټرول کړه الله جل جلاله به عذاب ترې لرې کړي.

همدا شان د امامانو څخه روايت کوي چې امام سجاد څخه روايت ده چې ويلي دي: الله جل جلاله ته تر ټولو محبوبترينه صبر هغه ده چې د غم او مصيبت پر وخت يې وکړي.

د غوسې د کنټرولو لارې چارې:

فيض کاشانی د غوسې څخه د خلاصون لارې چارې بيان کړي، نوموړی وايي که چيرې د غوسې پر مهال ولاړ وي ناسته دې وکړي، که ناست وي تکيه يا هم سملاسته دې وکړي.

همدارنګه په ځينو روايتونو کې راغلي چې غوسه د اور په څير ده، اور يواځې اوبه وژلی شي، نو څوک چې غوسه شو اودس دې وکړي. در سول الله صلی الله عليه وسلم څخه ځينې روايات دي چې فرمايي: هر څوک چې په غوسه شو خپل مخ دې پر ځمکه ولګوي، يعنې سجده دې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲- سخاوت

سخاوت(بخشش) یا ځوانمردي د شیعه مذهب د اخلاقي فضایلو د اصولو څخه شمیرل کیږي او د خپل مذهب له مهمو ځانګړنو او د شرعي وجوهاتو لومړی مرتبه یې بولي.

دوی وایي شیعه ګان باید د خپل دیني ورونو پر وړاندې سخي او عطا بخش وي، له خپل امام صادق څخه را نقلوي چې ویلې دي: شیعه ګان زمونږ دیني ورونه یواځې نه پریږدي او تل په خپلو کې سره سخاوت څرګندوي، تر څو له بیوزلۍ څخه وژغورل شي او ارامه نسبي ژوند ولري. انبیاء او اولیاء سخاوتمند اشخاص ؤ. نومونړی زیاتوي: الله جل جلاله ته تر سپین ږیري بخیل عابد هغه ځوان غوره ده چې سخي او د نورو په فکر کې وي.

## ۳- توکل

د شیعه ګانو په اند توکل الله جل جلاله ته د چارو سپارل او اعتماد پرې کول، حدیثو د ایمان ارکان په توګه معرفي کړی ده، د توکل لوړه درجه دا ده چې انسان د ټولو چارو واک او اختیار الله جل جلاله ته وسپاري، د خپلې ارادې څخه ورته د الله جل جلاله اراده لومړیتوب ولري، هغه څه چې یې ورکړي دي ورته د منلو وي، د یوکس د توکل اندازه د هغه ایمان پورې مربوطه ده.

توکل په یو کار کې د ناتواني د اظهار او په بل کس باور کولو په معنی ده.

یا په دیني فرهنګ کې توکل هغه څه ته وایي چې انسان یواځې الله جل جلاله په موجوداتو کې د تاثیرګذاره جهت په توګه ومني.

د علامه طباطبایي په اند توکل په چارو کې یواځې الله جل جلاله اغیزمن لوری بللی ده.

شیخ صدوق په معانی الاخبار کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه یو حدیث را نقلوي چې پکې ویلې یې دي: توکل هغه ته وایي چې یو انسان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې پوه شي چې نور مخلوقات ورته هيڅ ګټه او تاوان نشي روسولی، یواځې الله جل جلاله ته هيله مند وي او له هغه پرته له بل چا څخه ويره ونه لري.

په قران کې د توکل او مشتقاتو يې اويا ځلې يادونه شويده، په زياتو موارد کې توکل د ايمان سره يوځای ذکر شوی ده.

د شيعه ګانو په اند د ايمان لپاره توکل لازمي ده. د نمونې په شکل الانفال سورت کې مسلمان هغه څوک معرفي شويده چې يواځې په الله جل جلاله توکل کوي. په نورو آيتونو کې هم د دې تعبير شوی ده لکه «و عَلی اللّهِ فَلْيَتَوَکَلِ المُؤمنون..

په حديثو کې هم د توکل يادونه شوېده. د شيعه ګانو په اند له حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت ده چې وفرمايل: توکل، تفويض، په الهي قضاء رضا، او تسليم د اوامرو په وړاندې د ايمان څلور ارکانه دي. د امام رضا څخه هم نقل ده چې ويلې دي: په خدای توکل د يقين له اجزاوو څخه ده. توکل د قوت او ضعف په لحاظ په دريو درجو ويشل شوی ده.

لومړی ضعيف ترينه درجه: يوڅوک په الله جل جلاله داسې باور لري لکه څنګه يې چې په وکيل لري.

دوهمه مخصوص خواص درجه: توکل کونکی لکه د ماشوم په څير ده چې له خپل مور پرته بل څوک نه پيژني.

دريمه لوړترينه درجه: لکه د ابراهيم عليه السلام توکل چې کله نمرود اور ته اچوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب: رذائل

### ۱- تکبر

تکبر یا کِبر د خپل ځان د لوی ښودلو په مانا ده، کبر یو نفسي حالت ده چې متکبر شخص نورو ته په ټیټه سترګه کوري، دا حالت په خبرو او اعمالو کې ښکاره کیږي.

ځینو تکبر د رذایلو سرمنشأ او د شرک سره په یوه مرتبه کې بللی ده.

تَکَبُّر یا کِبر (غرور) چې د رذایلو اخلاقي صفاتو څخه او د الهي غضب له اسبابو څخه شمیرل کیږي د قران په آیتونو کې په ډیر ناخوښ صفاتو شمیرلی ده.

د الله جل جلاله پر وړاندې، د پیغمبرانو همدارنګه د نورو انسانانو پر وړاندې د تکبرډولونه دي. د الله جل جلاله پر وړاندې غرور چې سرمنشأ یې ناپوهي او ګمراهي ده تر نورو بدترین ډول شمیرل کیږي. لکه فرعون او نمرود.

له پیغمبرانو سره تکبر یعنې ایمان پرې نه راوړل لکه د قریشو کفار چې د پیغمبرصلی الله علیه وسلم پر وړاندې تکبر کوو،.ځینو به یې پیغمبري منله خو د تکبر د غلبې په وجه نشو کولای اقرار وکړي.

په دیني متنونو کې د بل انسان پر وړاندې تکبر او غرور یو قبیح عمل یاد کړی ده. یو مسلمان د کافر پر وړاندې باید غرور ونکړي، ځکه امکان دې ولري چې په مسلمان او کافر کې ایمان د تل لپاره پاتې نشي، کیدای شي په راتلونکې کې د دو دواړو ځایونه یو له بل سره تغیر شي.

الله جل جلاله په قرآن کې فرمایي: (وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ). [سُوْرَةُ لقمَان : ١٨]

ژباړه: او له خلکو سره په مخ اړولو خبرې مه کوه، پر ځمکه په خیال (په غرور) مه ځه، الله هیڅ یو، په ځان مین او ویاړ ښکاره کوونکی انسان نه خوښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن تکبر یو قبیح عمل یاد کړی ده: (إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا). [سورت النساء: ۳۶]

ژباړه: الله داسي څوك نه خوښوي چي په خپله انګېرنه مغرور وي او په خپله لوړتیا وياړي؛

(قِيلَ ادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ) [ سُوْرَةُ الزُّمَر: ۷۲]

ژباړه: وبه ویل شي، د دوزخ په دروازو ننوځئ، دلته اوس ستاسي همېشنۍ استوګنه ده، دا د متکبرانو (لپاره) ډېر بد استوګنځی دی.

په دې سورت کې د عذاب فرښتې د انسان د ټولو رذایلو څخه د دوزخیانو په تکبر باندې ټینګار کوي. نو له دې څخه جوتیږي چې د ګناهونو اصلي سرچشمه تکبر او حق ته نه تسلیمي ده.

الله جل جلاله په قرآن کې د «الْمُتَكَبِّرُ» په صفت یو ځل یاد شوی ده چې په تفسیر کې یې ویل شوي دي. انسان ته نه ښاي چې غرور وکړي، غرور او تکبر یواځې له الله جل جلاله سره ښایي.

حضرت علي رضي الله عنه وایي چې شیطان ځکه د الله جل جلاله دښمن شو، چې د ده د عظمت او لویوالي د صفت پر سر یې ورسره نزاع (جروبحث) وکړ.

شیعه ګانو د تکبر په باره کې له خپلو ائمو څخه زیات روایتونه را نقل کړې دي، چې یواځې د یو روایت یادونه به یې وکړو.

د نهج البلاغې په ۲۱۱ پاڼه کې د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت ده چې فرمایلې دي:

(فَاعْتَبِروا بِمَا كَانَ مِنْ فِعْلِ اللهِ بِإِبْلِيسَ، إِذْ أَحْبَطَ عَمَلَهُ الطَّوِيلَ، وَجَهْدَهُ الْجَهِيدَ، وَكَانَ قَدْ عَبَدَ اللهَ سِتَّةَ آلاَفِ سَنَة، لاَ يُدْرَى أمِنْ سِنِى الدُّنْيَا أَمْ مِنْ سِنِى الأَخِرَةِ، عَنْ كِبْرِ سَاعَة وَاحِدَة)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: له هغه څه پند واخلي چې الله جل جلاله له شیطان سره څه وکړل، د ډیرې مودې هڅه یې بې ثمره او د ډیر عمر عملونه یې باطل کړل، شپږ زره کاله یې د الله جل جلاله عبادت وکړ معلومه نه ده چې دا کالونه د آخرت ؤ یا د دنیا خو کله یې چې په یوه شیبه کې تکبر وکړ الله جل جلاله له جنت څخه وشړو.

**د تکبر مرتبې:**

لومړی هغه چې کبر په زړه کې ولري او په خبرو او اعمالو کې یې هم ښکاره شي.

دوهم هغه چې کبر په ژبه یې ظاهر نشي خو په کړنو کې معلوم وي. دا د لومړی مرتبې څخه خفیف ده.

دریمه مرتبه هغه ده چې کبر یې په زړه کې وي، خو نشي کولی ځان ترې خلاص کړي، خو هڅه کوي چې په خبرو او کړنو کې تکبر ترې ونشي. په داسې حالت کې د متکبر ګناه ډیره کمه ده.

**د تکبر لاملونه او اسباب:**

د یو انسان د تکبر لامل د خپلې حقیقي مرتبې څخه ناخبري او ځانته د کمالي صفتونو منسوبول دي. دغه نسبت په نفسي خواهشاتو کې له افراط کولو پیدا کیږي.

د تکبر اسباب: په علم، عمل، عبادت، نسب، ښایست، مالي او جسمي قدرت هغه څه دي چې یو انسان پرې مغروریږي. د تکبر د ښکاره اسبابو څخه کینه، حسد ریا او د عُجب یادونه هم شوې ده.

**۲- ریا**

د نیک عمل ښکاره کولو په مانا ده، پرته له دې چې څوک د یو عمل کولو قصد ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عبادت کې ریا دې ته وایي چې د الله جل جلاله پرته بل چاته د ځان ښودنې په قصد عبادت وشي. یا ریا هغه حرام عمل ته وایي چې د یو عمل د باطلولو لامل کیږي.

(إِنَّ الْمُنٰفِقِينَ يُخٰدِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خٰدِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوٓا إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوا كُسَالٰى يُرَآءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلاً). [سورت النساء: ۱۴۲:]

ژباړه: دا منافقان له الله سره د غولوني کار کوي؛ په حقیقت کې الله هغوی په غولېدنه کې غورځولي دي. کله چې دوی لمانځه ته پاځیږي نو یوازې خلکو ته د ځان ښووني لپاره مړ ژواندي پاځیږي او خدای ډېر لږ یادوي.

ریا په اصطلاح کې دې ته وایي چې یو انسان خلکو ته د نمایش او ښودلو په نیت ښه عمل کوي ، نه د خدای لپاره. ریا په عبادې اعمالو لکه لمونځ او غیر عبادي لکه صدقه ورکولو کې کیږي.

**د ریا حکم:**

ریا حکم: د عبادت شرط اخلاص ده او ریا په کې حرامه ده او د عمل د بطلان لامل کیږي.

**په انفاق (صدقې) کې ریا:**

(يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقٰتِكُم بِالْمَنِّ وَالْأَذٰى كَالَّذِى يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْءَاخِرِ). [سُوْرَةُ البَقَرَة : ۲۶۴]

ژباړه: اې مؤمنانو! خپل خیراتونه په احسان بارولو او ازار رسولو، د هغه چا په څېر مه خاوري کوئ، چې خپل مال محضې خلکو ته د ښودلو لپاره لګوي او نه يې پر خدای ایمان وي او نه پر اخرت.

**په جهاد کې ریا:**

(وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِن دِيٰرِهِم بَطَرًا وَرِئَآءَ النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ).[ سُوْرَةُ الأنفَال: ۴۷]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: او تاسي د هغو خلکو غوندي مه کېږئ، چي له خپلو کورونو څخه وياړلي او خلکو ته د ښودني لپاره را ووتل. او کړنلاره يې دا ده چي (خلك) د الله له لاري څخه منع کوي.

الله جل جلاله په دې آيت کې غرور او ريا د جګړې په ميدان کې د قدرت د زوال سره حساب کړي دي.

**په عباداتو کې ريا:**

ريا د عبادت د بطلان لامل ګرځي، توپير نه کوي که ريا د عبادت په ټولو برخو کې وي يا ځينو برخو کې.

**د عبادت په مقدماتو کې ريا:**

يو څوک که د عبادت په شروع کې ريا وکړي خو هغه عمل چې د عبادت له ماهيت څخه خارج وي د عبادت د بطلان لامل نه کيږي. لکه يو څوک جومات ته په رياکارانه شکل ځي خو لمونځ بيا په اخلاص سره کوي، په دې صورت کې يې لمونځ نه باطليږي.

که يو څوک په عبادت کې اخلاص وکړي خو د هماغه عبادت په يوه برخه کې ريا وکړي، ځيني علماء وايي چې ټول عبادت يې باطل کيږي خو د ځينو په آند نه باطليږي. مثلاً يو څوک په ريا سره لمونځ په جماعت يا خشوع او طمأنيې(آرام) سره وکړي.

**ريا په ايمان کې:**

يعني په ښکاره د شهادت کلمه ويل خو په زړه کې ترې انکار کول او دروغ يې ګڼل، چې دې ته د کفر او نفاق ريا وايي.

ريا ته خفي شرک هم وايي: (كُلُّ رئاءٍ شِرْكٌ إنَّه مَنْ عَمِلَ لِلنّاسِ كان ثَوابُهُ عَلَى النّاسِ و من عَمِلَ للهِ كان ثوابُهُ عَلَى اللهِ)

ژباړه: له امام صادق څخه روايت را نقل ده چې ويلې دي: هر ډول ريا شرک ده، هرڅوک چې د خلکو لپاره کار کوي نو بدله يې د خلکو سره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که څوک د الله جل جلاله لپاره څه عمل کوي ثواب يې د الله جل جلاله سره ده.

**د ريا څخه د خلاصون لارې چارې:**

- د ريا په وجه د الهي غضب ته متوجې کېدل.
- دا په ياد ساتل چې د بنده له بدلې او هڅونې د الله جل جلاله بدله غوره او ګټوره ده.
- د الله جل جلاله دې قدرت ته متوجې کېدل چې د ټولو په زړونو خبردار ده.
- دا په ياد ساتل چې الله جل جلاله رياکاره انسان د ريا په وجه يوه ورځ خامخا رسوا کوي.
- په ياد ساتل چې ريا د اخروي اعمالو له منځه تلو لامل کيږي.
- نيک اعمال په پټه او يواځيتوب کې کول خپل عادت ګرځول.

په ځينو وختونو کې د يو عمل په ښکاره توګه کول ريا نه حسابيږي بلکې د توصې په شکل به وي. لکه په ښکاره د يو نيک عمل په دې نيت ترسره کول چې نور وهڅوي، يا د دين د تبليغ په خاطر او يا هم د شيطان د وسوسې سره د مقابلې په وجه.

## ۳- حسد(کينه)

په انسان کې له ټيو خوډېرو خطرناکو ناروغيو څخه يوه يې کينه ده، چې په عربي ژبه کې ورته په لږ توپير سره د حسد ، حقد او غِل توري کارول کيږي، او يا په بل عبارت، کينه د هغه پيچلي منفي نفسياتي حالت نوم دی چې لرونکی يې له نورو خلکو سره د بيلابيلو عواملو پر بنسټ عُقده اخلي، کرکه يې ورسره پيدا کيږي او د رخې له يوه ځورونکي حالت سره مخامخ کيږي. کينه پر بل چا باندې د الله تعالی د نعمتونو نه لورېينې، د هغو د زوال غوښتنې اود حاسد له لوري د هغو د زوال هڅو ته ويل کيږي. حاسد د همدغه حسد او کينې په پايله کې دا ډول نعمتونه يواځې د خپل ځان حق بولي. کينه دزړه او باطن د ناروغيو څخه هغه رذيله ناروغي ده چې دافرادو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لاري په ټولنه کې د ناوړو اغېزو د ښندلو له امله يې پايله د الهي نعمت له ښتنتانو سره دښمني، په هغوي باندي نه لورينه ،هغوي ته ازار او ځور رسول، او ډېرى مهال له حق څخه د مخ اړولو اوپه الهي ارشاداتو اونبوي فرموداتو د عمل نه كولو سبب او لامل هم ګرځي.

کوم کسان چې د ځان غوښتني او يواځي له خپل ځان سره د ميني لرلو په ناروغۍ ككړ وي بيا له هغه چا سره چې الله تعالی خپل نعمتونه پرې پېرزو کړي وي په كينه اخته كيږي. کينه ګرکه له يوې خوا له نورو خلکو سره د رخې له لارې د خپل ايمان نيمګړتيا په ډاګه کوي، نو له بل پلوه نوموړى د خپل دې ناوړه عمل له مخې په خدايي حکمت باندې نيوکه کول غواړي. ځکه چې د الله تعالی هېڅ کړه له حکمته تش نه وي، نو دا چې الله تعالی يوڅوک په علم ، شتنمۍ ، ښايست، اولادونو او خپلو نورو نعمتونو نازوي نو ارو مرو به يي يوڅه حكمت پكې نغښتی وي . خو حسود او كينه ګر د خپلې كينې له مخې له نوموړي څخه د نعمتونو ازاله او خپل ځانته يې تر لاسه كول غواړي . نو دا په حقيقت كې له الهي حكمت سره جګړه كول دي او پدې جګړه کې کينه ګر په هرحال او له هري روا او ناروا لارې ځان بريا ته رسول غواړي . ځکه نوکينه ګر د خپلې كينې له امله د هغه چا پرخلاف د دښمنۍ او عداوت اور په سينه کې ګرزوي چې الله تعالی وربانديې خپل فضل او لورېينه کړي وي او د نعمتونو له پلوه تر خپلو سيالانو مخکي وي او غواړي چې دغه نعمت لرونکی او هوسا کس په اور کې وسوزوي. همدا لامل دی چې رسول الله صلی الله عليه فرمايلي: كل ذي نعمةٍ محسود.

ژباړه: هر نعمت لرونکی سړی د کينه ګرو د کينې ښکار دی.

**د کينې نښي:**

ځکه نوکينه ګر د نعمت په ښتنتن پسې دروغ، بهتان، پروپاګند او بې ځايه خبري تړي او په خپلو ناستو کې دهغه غيبت کوي، خلکو ته يي په دروغو چغلي کوي، د خلکو تر مخ په هغه کې بد وايي، او له هرې لارې د نوموړي سپکاوى کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه چې کينه په افرادو، کورنيو او ټولنې کې لوی اخلاقي ناورين رامنځته کوي ځکه نو پالونکي څښتن جل جلاله په خپل سپېڅلي کلام او پاک رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپلو مبارکو احاديثو کې ځاي پر ځای د کينې قباحت اوبدي بيان کړيده.

په قرآنکريم کې الله تعالی جل جلاله فرمايي:

وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ.[سورت البقره: ١٠٩].

ژباړه: ډير اهل کتاب دا خوښوي چې که وتوانيږي چې تاسې له ايمان راوړلو وروسته بېرته کافران کړي، او دوي دا کار د هغې کينې له امله کوي چې د ځان له لورې يې له تاسې سره لري، او حقيقت دا دی چې دوي دا هر څه وروسته له دې کوي چې حق ورته ښه له ورايه څرګند شوی دی.

په بل ځای کې الله تعالی فرمايي:

أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَى مَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ فَقَدْ آتَيْنَآ آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُم مُّلْكًا عَظِيمًا. [سورت النساء: ۵۴].

ژباړه: ايا کينه کوي دغه (يهودان) له خلکو سره په هغه څه کې چې ور کړی دی دوی ته الله (تعالی) له خپله فضله، نو په تحقيق ورکړی دی موږ اولاد د ابراهيم ته کتاب او حکمت او ورکړي ده مونږ دوی ته لويه پاچايي.

په پورته مبارکو اياتونو کې الله تعالی د يهودو د سرکشي او تمرد لامل حسد ګڼلی، اهل کتاب سره له دې چې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم اسلام او قرآنکريم په حقانيت ښه پوهېدل خو بيا يې هم په هغو باندې له ايمان راوړلو انکار وکړ، ځکه چې يهودانو ځانونه د بنو اسحاق اولادونه ګڼل او هيله مند وو، چې د تل په څېر به نبي له دوي څخه ټاکل کيږي نوله همدې امله يي په بنو اسماعيل (عربو) کې د نبي ټاکل نه لوربېدل.

همدغه رخه، نه لوربينه او ځان د ټولو نعمتونو مستحق ګڼل وو چې دوي يې بالآخره کفر ته سوق کړل. رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه

(c) ketabton.com: The Digital Library

كرامو ته يي له هېڅ ډول ځور او کړاو ور رسولو ډډه نه کوله، دهمدې کينې له امله يي ځانونه د دوزخ کندې ته په لوی لاس ور وغورځول.

## غِبطه چې له حسد سره بايد مغالطه نشي:

خو دلته دا خبره هم د يادوني وړ ده چې مورږ په نصوصو کې دغبطې په نامه يو بل عمل هم لرو چې له کينې سره ښکه په ښکه کاريدلی دی خو اُصولاً له کينې سره په توپير کی دی او هغه داسې چې يوڅوک د نعمت ښتن ووينې نو ووايي چې ده ته دې الله تعالی نور هم ورکړي خو زه هم ځانته له خدايه دا ډول نعمتونه غواړم .ياني له بله د نعمتونو د لري کېدو هيله نه کوي اوعين همداسې نعمتونه د ځان لپاره هم غواړي. دې عمل ته غبطه ويل کيږي. په شريعت کې د چا په حال باندي غبطه کول او دهغه د نعمتونو په څېر نعمتونه ځانته غوښتل روا دي.

د چا په نعمتونو باندی دغبطې کولو لپاره هم د لاندي دوو خبرو په پام کې نيول خورا اړين دي.

لومړی: دا چې دغه نعمت (چې غبطه پرې کيږي) به د نعمت د ښتن ځانګړتيا نه وي چې په انساني هڅو او کړنو به لاسته نه راځې ، لکه نبي ته په کتو سره د نبوت غوښتنه.

څکه چې نبوت هغه ځانګړتيا ده چې پاک خدای جل جلاله خپل ځيني بندګان ورته غوره کړي دي، او په تر لاسه کېدو کې يي هېڅ انساني کردار نشته. نو که اوس يو څوک را ولاړيږي او د نبي په نبوت باندې د غبطې له امله ځانته هم د نبوت تر لاسه کېدو په هيله کينې، ښکاره خبره ده چې دا هيله به يي هيڅکله هم پوره نشي، نو دغسې کسان بيا د دروغو په کچې سپاره شي او د نبوت کاذبه او دروغژنه دعوه وکړي، او يا لکه ځيني هغه ناپوهه او جاهله صوفيان چې د ولايت او کراماتو په کيسو کې دومره ننوځي چې ځان ورته سم دم ولي ښکاره شي او تر بدو يې بتره دا چې بيا دعوه هم کوي چې ولايت تر نبوت لوړه درجه ده اعاذناالله من ذلک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يا لکه هغه کسان چې د ځينوهغو فطري کمالاتو د ترلاسه کېدو تمه لري کوم چې ترانساني اکتسابه پوري هېڅ تړاو نلري، لکه ښايست اوښکلا څواکمن کېدل، ذکاوت، د ژبې فصاحت او داسي نور. څنګه چې دا شيان هم په انساني هڅو لاس ته نه راځي نو غوښتونکې کسان يې په ټولنه کې د تکبُّر، شتمني، څوکۍ، قوم او قبيلې، او آن دغيبي ناولتياوو لکه جادو او کهانت له لاري ځان پر مخ بيول غواړي. نو له دې امله انسان په دروغو اخته، په ځمکه باندي د شر اوفساد جوړولو، نورو ته د ضرر او تکليف ور رسولو له کبله په ګناه ککړ شي.

دوهم : دغه نعمت به د انساني هڅو په لاس ته راوړني سر ښېره داسي څه وي چې انسان ته دآخرت ګټه ولري.

له شرعي او عقلي پلوه چې د دُنيوي ژوند د ښايست لپاره مونږ ته کوم نعمتونه راکړل شوي دي، دا په ټولنه کې د انساني ژوند لپاره يوه الهي ازموينه ده، چې ايا دغه بنده زما پدې نعمتونو شکر باسي او که دسرکشي او نافرماني لار خپلوي؟

نو اوس که يو څوک راولاړيږي اودغه نعمت په ګناه کې وکاروي نو دا خو بيا د ده لپاره نعمت نه بلکې مصيبت شو. نوکه څه هم له ټولنيز پلوه به دا نعمت يو لوی شی ښکاري خو خبره داده چې هوښيار سړی هېڅکله له ازمويونکو او په مصيبت باندي له اخته کسانو سره حسد او کينه نه کوي.

د کينې ممانعت په نبوي حديثونو کې:

عن الزبير رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: دب اليكم داء الامم قبلکم الحسد والبغضاء ،هي الحالقة لا اقول تحلق الشعر ولکن تحلق الدين.[جامع الترمذي:۹۵۹۵]

ژباړه :تاسي ته هم د تېرو امتونو ناروغي در ورسېده، چې هغه کينه او کرکه کول دي. او دا غوڅوونکې ده، زه دا نه وايم چې دا وېښتان غوڅوي بلکې دين غوڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه بل روایت کې راغلي:

ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال : لاتقاطعوا ، ولاتدابروا ،ولا تباغضوا ولا تحاسدوا وکونوا عبادالله اخوانا.[مسلم: ۲۵۶۴].

ژباړه : تاسي خپلوي مه شکوئ، په یوه او بل پسي پس شا خبري مه کوئ له یوه او بل سره کینه او کرکه مه کوئ، د الله تعالی بندگان او وروڼه و اوسیږئ.

له پورتنیو حدیثونوڅخه جوته شوه چې کینه انسان له دینه جلا کوي، ځکه خوهم رسول الله صلی الله علیه وسلم د نورو گناوو په ترڅ کې خپل امتیان د کینې له کولو هم را گرځولي دي.

## ۴- چغلي

چغلي د یو کس خبري بل ته په دې نیت کول چې د ملگرتیا اړیکې یې سره پرې شي. چغلي د کبیره گناهونو له جملې څخه شمیرل کیږي. نوموړې گناه د ژبې په وسیله تر سره کیږي، یواځې په خبرو پورې محدود نه ده، بلکې په لیکنې بڼه او اشارې سره هم گناه حسابیږي. په قرآن او روایاتو کې په یو بد او قبیح کار ترې یادونه شوې ده. چغلي غالباً د نورو اخلاقي رذایلو لکه غیبت، تهمت، حسادت، دروغ او نفاق سره په یو ځای کې قرار لري. چې ترسره کونکی به یې په دې دنیا کې د خواري او ذلت سره مخ کیږي او په آخرت کې به له جنت څخه محروم شي.

## په ملائکو د شیعه گانو ایمان

دوی په ملائکو عقیده د ایمان یوه برخه بولي، د الله جل جلاله غیبي، نوراني جوهري او معنوي موجوداتو څخه یې شمیري، او د بنده او خالق ترمنځ یې واسطه بولي، فرښتې د ماهیت له نظره غوره دي خو له انسان څخه غوره نشي کیدای. د دوی په اند ملائکې د انسان عملونه ذخیره کوي د الله جل جلاله له دستور څخه اطاعت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عزالدین کاشانی په اند ملایکې په درجه او غوره والي کې سره توپیرلري ځینې یې د خلقت(آسمان او ځمکې) چارې اداره کوي. اسرافیل د قیامت په ورځ د شپیلۍ په پوکولو سره جسدونو او روحونو یوځای کوي. جبرائیل وحې راوړي، عزارائیل د مرګ فرښته ده یعنې روحونه اخلي، کروبیان (الکروبیون) یواځې د الله جل جلاله عبادت کوي. داوو آسمانونو ملائکې د ساتنې ملایکې او نکیر منکر چې په قبرونو له مړي سوالونه کوي.

## زیارت او شیعه ګان

زیارت کول یو دیني عمل ده چې د خپلو بزرګانو قبرونه ته ورتګ په دې خاطر چې له هغوی سره مینه محبت او تکریم وښایي او معنوي برکات لاسته راوړي په مانا ده. د شیعه ګانو په اند د ائمو زیارت کول له خپلو امامانو او علماؤ د تاریخ له اوایلو څخه توصیه شوی ده. هغه ځایونه چې د شیعه ګانو لپاره ډیر غوره او محبوب دي عبارت دي له نجف او کربلا په عراق، قم او مشهد په ایران کې سیده زینب په سوریه کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تقیه

تَقیه له دیني یا دنیایي تاوانه د بچ کېدو په خاطر د عقېدې پټ ساتل یا د مخالفانو په وړاندې د زړه د عقېدې په خلاف د یو کار ترسره کول دي. تقیه، له دیني یا دنیایي تاوانه د بچ کېدو په خاطر د مخالفانو په وړاندې د حق او د حق د عقېدې پټول دي. په بله ژبه، د یو بل کس له لوري له هغه سره په وینا او عمل کې د غېرملتیا له لارې له تاوان یا نقصانه د ځان یا نورو ساتل دي. شعیه ګان د نورو اسلامي مذهبونو تر پیروانو زیات د تقیې په طریقه په عمل کولو مشهور دي. د دغه ګروهنې سبب ډول ډول سیاسي، ټولنیز، فرهنګي، اقتصادي او... فشارونه ګڼل شوې دي چې په تاریخ کې، همېشه د مخالفانو له خوا په هغوي راوستل کېدل.

تقیه مختلف ډولونه لري اوشیعه فقیهانو د قرآن ایتونو او د امامانو روا یتونو ته په پام سره د هغه لپاره تکلیفي او وضعي احکام بیان کړې دي. د هغوي له نظره، چیرته چې د مخالفانو په نزد د عقیدې ښکاره کول د یو کس یا کسانو د سر، مال او عزت لپاره تاوان ولري، په هغه اندازه چې ضرر دفعه کیږي، تقیه واجبه ده. تقیه همداراز په ځینو مواردو کې او خاصو شرایطو ته په پام سره مستحبه، مکروه، مباح او حرامه کېدلی شي.

ویل کیږي چې اکثره اهل سنت فقیهان هم تقیه په هغه ځایونو کې چې د سر او حتی مال د تاوان د رسېدو وېره موجوده وي، د ضرر د دفع کولو په اندازه جایزه ګڼي. په اسلامي مذهبونو کې زیدیه او وهابیت د تقیې مخالف دي.

تقیه په لغت کې د «وقی» له مادې راوتلې او له ځورونې او ازاره په امان پاتې کېدو لپاره د خوندي ساتلو، او پټولو په معنا ده.

د شیعه ګانو په اند تقیه له هغو موضوګانو ده چې د فقې په علم کې جاجول کیږي او د طهارت، لمونځ، روژې، حج او امر بالمعروف او نهي عن المنکر په فقهي بابونو کې یې په اړه خبرې شوې دي. په فقهي قواعدو پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړوندو کتابونو کې هغه د یوې قاعدې په توګه یاده شوې او ځینې فقیهانو یې په هکله پوره پوره رسالې لیکلې دي.

سره له دې چې د تقیې لفظ په قرآن کې نه دی راغلی، مسلمان عالمان باوري دي چې ځینې ایتونه د هغې محتوا ته اشاره لري او د تقیې د مشروعیت د ثابتولو لپاره په هغو استناد کوي. د شیعه په روایي سرچینو کې، له امامانو ډېر روایتونه د تقیې په اړه نقل شوي دي.

شیعه محدث کلیني په الکافي کتاب کې یوه برخه د «باب التقیه» په نامه رایتونو ته ځانګړې کړې او ۲۳ روایتونه یې راغونډ کړې دي. حر عاملي هم په وسائل الشیعه کتاب کې په دولسو بابونو کې ۱۴۶ ایتونه د تقیې په احکامو پورې اړوند راغونډ کړې دي. همداراز د اهل سنتو په ځینو روایي سرچینو کې د تقیې په اړه خواره واره روایتونه نقل شوې دي.

**په شیعه مذهب کې تقیه:**

ویل کیږي چې تقیه د شیعه له کلامي فقهي معتقداتو او یو مهم عامل دی چې شیعیانو د هغې په وسیله کړی شوي د تاریخ په اوږدو کې د خپلو عقیدو او مذهب له ساتلو سره مرسته وکړي. د تاریخي سرچینو په ګواهی، تشیع مذهب د خپل ژوند په اوږدو کې، له مختلفو ټولنیزو، فرهنګي او سیاسي اړخونو په ډېرې تنګسیا او سختۍ کې و؛ په دې ډول چې همېشه په تاریخ کې، د مخالفانو په مینځ کې د خپلې عقیدې اظهار د هغوي لپاره د سر او مال ډېر تاوانونه لرلې دي. له همدې امله شیعه امامانو د خپل ځان او شیعیانو د سر حفاظت، او د شیعه ټولنې د تیتوالي او کمزورۍ د مخنیوي لپاره، تقیه لازمه ګڼله.

په ځینو شیعه سرچینو کې، ځینې روایتونه په دې عبارت سره «لا دینَ لِمَن لا تَقِیَّةَ لَه؛ څوک چې تقیه نه لري، دین نه لري» نقل شوې دي چې د امامانو او د هغوي د پیروانو په نزد د تقیې د اهمیت ښودنه کوي.

د شیعه د تقلید مرجع ایت الله مکارم شیرازي په وینا، تقیه یوازې په شیعه مذهب پورې محدوده نه ده. هغه په دې باور دی چې هر کس یا ډله کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرې تاريخي دورې کې يا د نړۍ په هر ځای کې چې له متعصبو دښمنانو او مخالفانو سره مخ وي، په دې ډول چې د عقيدې ښکاره کول د هغې يا يې خواوشا کسانو لپاره د سر او مال تاوانونه ولري او د عقيدې د دغه ځرګندولو اهميت د ځان او د ساتلو تر اهميته کم وي، د فطرت په حکم تقيه کوي او خپله عقيده پټوي.

په ځينو روايتونو کې چې له شيعه امامانو نقل شوي، په تقيې عمل د اسلام له پيغمبر صلی الله عليه وسلم نه مخکې ځينو الهي پيغمبرانو لکه شيث ابراهيم، يوسف اوهمدا راز اصحاب کهف ته هم نسبت ورکړل شوی دی.

په شپږمه قمري پېړۍ کې شيعه فقيه شهيد اول، له امامانو نقل شوې حديثونه د تقيې له بياناتو ډک ګڼلي او تقيه يې د حديثونو د اختلاف يو مهم لامل ګڼلې ده. له دې امله ويل کيږي چې په روايتونو کې د تقيې په مواردو پوهېدل د شرعي مسايلو او احکامو په لا ځېر استنباط کې د پام وړ رول لري.

**د تقيې ډولونه:**

تقيه د تقيه کوونکو د مقصد او محرک له نظره په دوو ډولونو وېشل کيږي:

خوفي تقيه: د مخالفانو په وړاندې تقيه کول، په هغه ځای کې چې د سر، مال يا عزت د تاوان د رسېدلو وېره موجوده وي. خوفي تقيه هم يا اکراهي ده چې پکې، يو کس په ګواښ سره اکراه کوي او مجبوروي يې چې د خپلې عقېدې په خلاف لکه د کفر خبره په خوله جاري کړي. يا داسې پېتول دي چې پکې يو کس د خپل ځان يا خواوشا کسانو د سر د حفاظت لپاره مجبورېږي چې خپلې عقيدې پټې کړي. د خپل سر د ژغورلو لپاره د قريشو مشرکانو په وړاندې د عمار ياسر تقيه، يې اکراهي تقيه او د فرعونيانو په وړاندې د مؤمن آل فرعون تقيه او د اصحاب کهف تقيه چې د خپل ځان د ژغورنې لپاره يې خپلې عقېدې پټې کړې وې د کتماني (پټوونکي) تقيې له قسمونو ګڼل شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مداراتي تقيه: دا ډول تقيه چې ورته تحبيبي تقيه هم وايي: د ځينو مصلحتونو لکه د وحدت د ساتلو، د دوستۍ او مينې د جلبولو او د کينې او دښمنۍ د رفع کولو او د هغو ټولو چارو لپاره د خپلو عقيدو پټول دي چې اهميت يې د عقايدو تر ښکاره کولو زيات دی. ځينو شيعه فقيهانو، د معصومو امامانو په ځينو روايتونو په استناد سره د اهل سنتو په مجالسو کې شرکت کول(د سر د حفاظت لپاره نه) لکه له هغوي سره د جماعت په لمانځه کې برخه اخستل (په تېره بيا د حج په ورځو کې) د هغوي د ناروغانو پوښتنه کول، د هغوي د جنازې په دستورو کې ګډون کول او دغه شان نورې ټولنيزې چارې چې د مسلمانانو د عزت او شان د زياتېدو او د وحدت د پياوړې کېدو او د بدګمانيو او تربګنيو د ختمېدو سبب کيږي، د مداراتي يا تحبيبي تقيې ځينې بېلګې ګڼلي دي.

د تقيې لپاره نور تقسيمات هم ذکر شوي دي. امام خميني[1] د « تقيه کوونکی کس» «هغه کس چې د هغه په مقابل کې تقيه کيږي» او« د تقيې د موضوع» په اعتبار د تقيې لپاره نور تقسيمات هم ذکر کړي دي.

ځينو بيا تقيه د تقيه کوونکي د موقعيت او شرايطو په اساس په درې ډوله سياسي تقيه (د واکمنو سياسي حکومتونو په وړاندې تقيه) فقهي تقيه (د احکامو په بيان کې تقيه) او اجتماعي تقيه ( د خلکو په وړاندې په ټولنه کې او له هغوي سره په ناسته پاسته کې په تقيه) تقسيم کړې ده.

شيعه فقيهانو د ځينو دليلونو لکه قرآن او سنت په استناد، د تقيې لپاره ځينې احکام ذکر کړي چې په دې ډول دي:

**تکليفي حکم:**

تقيه د تکليفي حکم په اساس په پينځو ډولونو وېشل کيږي.

واجبه تقيه: د شيعه فقيهانو له نظره که د عقيدې ښکاره کول د مخالفانو په نزد د ځان يا بل کس د سر، مال او عزت لپاره تاوان لري او انسان د دغه ضرر

---

۱ـ د ايران د اسلامي انقلاب (جمهوريت) جوړونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په رسېدو علم یا حتی ګمان لري، نو په هغه اندازه چې ضرر لرې شي تقیه واجبه ده. په واجبې تقیې کې معیار دا دی چې هغه څه چې د تقیې په وسیله یې ساتنه کیږي، د هغې ساتنه واجبه او ضایع کول یې حرام وي.

مستحبه تقیه: هغه ځای ده چې د تقیې پرېښودل د فوري نقصان رسېدلو سبب نه کیږي، خو د دې وېره وي چې په راتلونکي کې او تدریجا ضرر حاصل شي. د ځینو شیعه فقیهانو له نظره، مداراتي تقیه، د مستحبې تقیې له مصداقونو څخه ده. شیخ انصاري (وفات ۱۲۸۱ق) په مستحبې تقیې کې یوازې هغه موارد شامل ګڼلي چې په روایتونو کې پرې تصریح شوې ده؛ لکه له اهل سنتو سره معاشرت، د هغوي د ناروغانو پوښتنه کول، د هغوي په جوماتونو کې لمونځ او په جنازو کې یې شرکت کول، خو نور امور چې د روایتونو له محدودې بهر دي لکه له هغوي سره د دوستۍ جوړولو لپاره د شیعه بزرګانو غندنه او داسې نور کارونه جایز نه دي.

مکروه تقیه: هغه تقیه ده چې پرېښودل یې او تاوان زغمل، تر تقیې زیات ښه وي.د شهید اول په وینا، مکروه تقیه په مستحب کار کې تقیه ده چې کول یې نه سملاسي تاوان لري او نه په راتلونکي کې په هغې څه ضرر رسیږي.
مباح تقیه: هغه تقیه ده چې پرېښودل یا کول یې هیڅ فرق نه لري. د شیخ انصاري په وینا هغه تقیه ده چې په هغې داسې ضرر دفع کیږي چې شتون او نه شتون یې د شارع له نظره برابر دی.

حرامه تقیه: په هغه ځای کې ده چې د تقیې پرېښودل، هیڅ ضرر( نه فوري او نه په راتلونکي کې ضرر) ونه لري.د حرامې تقیې ځیني مصداقونه د شیعه فقیهانو له نظره دا دي:

هغه ځای چې تقیه په دین کې د فساد او پکې د بدعت د داخلېدو سبب شي.

د شیعه فقیهانو د مشهور نظر په اساس هغه ځای چې د نورو د وینه بهېدو سبب شي؛ لکه هغه وخت چې یو کس مجبوره کړي چې یو مومن ووژنی، که نه وي په خپله به ووژل شي. په دې بڼه کې د تقیې په پلمه او د ځان د حفاظت لپاره د هغه کس وژل جایز نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وضعي حکم:**

یوه مسله چې فقیهانو د تقیې د وضعي حکم په اړه جاجولې دا ده چې آیا که یو عبادت د تقیې له مخې وشي، نو د تقیې له موقعیته له وتلو وروسته باید هغه عمل دوباره وکړی شي. د مثال په توګه په تَکَتُّف (په لمانځه کې د لاس لپاسه لاس کېښودل) عمل د اهل سنتو په نزد مستحب او د شیعه په نزد جایز نه دی. که مکلف، د تقیې له مخې، په لمانځه کې داسې عمل وکړي، ایا کله چې له تقیې ووځي باید دغه لمونځ دوباره وکړي؟

د شیعه فقیهانو د نظر په اساس په تقیې په عمل سره د شارع حکم ترسره شوی دی او نور یې دوباره کولو ته ضرورت نیشته. البته په لسمې پېړۍ کې شیعه فقیه محقق کرکي باوري دی چې یوازې د هغه عملونو د بیا کولو ضرورت نیشته چې د تقیې په روایتونو کې یې په صراحت سره نوم راغلی دی؛ لکه په تَکَتُّف سره لمونځ یا په اودس کې د پښو وینځل.

ادله او مستندات:

شیعه فقیهان د تقیې د جواز د ثابتولو لپاره په څلورو دلیلونو قران، روایتونه، اجماع او عقل استناد کوي:

**قرآن:**

تر ټولو مهم ایت چې فقیهانو د تقیې لپاره په هغه استناد کړی دی، د نحل سورې ۱۰۶ ایت دی: په دې ایت کې راغلي دي.

هغوي چې له اسلام راوړلو وروسته په خدای کافران شي او په خوښه او ګروهنې سره بې دیني په غېږ کې واخلي د خدای په قهر اخته او سخت عذاب یې په نصیب کیږي؛ خو د خدای قهر او عذاب هغوي ته نه رسیږي چې زړه یې په ایمان ټینګ وي؛ خو د شکنجې تر فشار لاندې یې مجبوره کړي چې په ژبه یو څه ووایي.

ډېرو شیعه او اهل سنتو مفسرانو د دغه ایت د شان نزول په اړه ویلي چې د عمار بن یاسر په اړه نازل شوی دی. عمار بن یاسر د مشرکانو تر شکنجې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې مجبوره شو ځيني خبرې له اسلام او پيغمبره په برائت او بېزارۍ کې په خولې جاري کړي. ځينو ګمان وکړ چې عمار کافر شوی دی. کله چې د عمار کيسه پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته ورسيده، وې فرمايل عمار له سر تر پښو په ايمان خړوب دی او توحيد يې له غوښې او وينې سره اخښلی دی. وروسته له دې چې عمار په ژړا پيغمبر ته راغی، پيغمبر ورته تسلي ورکړه او ورته يې سپارښتنه وکړه چې که بيا هم داسې سخت ګېر شو کولی شي د برائت او بېزارۍ څرګندونه وکړي.

فقيهانو همداراز د تقيې د جواز لپاره د غافر سورې په ۲۸ او د آل عمران سورې په ۲۸ ايتونو استناد کړی دی.

**روايات:**

د سيد محمدصادق روحانی او ناصر مکارم شيرازي په وينا هغه روايتونه چې په تقيې د عمل په جواز دلالت کوي متواتر دي.

دغه روايتونو په څو برخو وېشل کيږي:

هغه روايتونه چې دلالت کوي په دې چې تقيه د مومن ډال او ساتونکې ده؛

هغه روايتونه چې د لا دينَ لِمَن لا تَقِيَّةَ لَه څوک چې تقيه نه لري، دين نه لري» په شان وارد شوې دي؛

هغه روايتونه چې پکې تقيه له لويو فرايضو او د خدای او وليانو په نزد يې د ډېر محبوب او خوښ شي په توګه ګڼل شوې ده.

هغه روايتونه چې د دې ښودنه کوي چې ځينو تېرو الهي پيغمبرانو هم په تقيې عمل کړی دی.

پر دغو روايتونو سربېره، فقيهانو له ځينو روايتونو لکه لاضرر روايتونو، د برائت او سب له روايتونو ( هغه روايتونه چې د تقيې او د ځان د حفاظت لپاره له پيغمبرصلی الله عليه وسلم امامانوڅخه د برائت او کرکې د اظهار او ورته بد ويلو په اړه راغلي) او رفع حديث د تقيې د مشروعيت او پرې د عمل د جايزوالي لپاره استفاده کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اجماع:**

محقق کَرَکی ویلي دي چې شیعه فقیهــان، په تقیې د عمـل په جایزوا لي اجماع لري.

**عقل:**

په عقلي دلیل د فقیهانو استناد په دې شکل دی چې تقیه پر مهم شي د لا ډېر مهم شي د مخکې کولو له موردونو څخه ده. پر مهم شي د لا ډېر مهم شي مخکې کول عقلا ضروري دي؛ په دې بیان چې کله مکلف په یو وخت کې په دوو تکلیفونو او فریضو کې ګېر وي او دواړه په یو وخت نه شي ترسره کولی، نو د عقل په حکم باید هغه عمل وکړي چې اهمیت او مصلحت یې زیات وي. د ضرر دفع کول او د سر او ځان حفاظت له هغو تکالیفو او فرایضو دی چې عقلا د عقیدې د ښکاره کولو په شان چارو باندې رجحان لري. نو تقیه د سر د حفاظت او د ضرر د دفع کولو لپاره عقلا واجبه ده.

**له توریې سره د تقیې اړیکي:**

د توریې مطلب دا دی چې ویونکی د یو لفظ له ویلو داسې معنا اراده کړي چې که څه هم له حقیقت سره مطابق ده، خو هدف یې د دغه لفظ له ویلو دا دی چې اورېدونکی یې د هغه معنې خلاف پوه شي. کله کله تقیه د توریې په چوکاټ کې ترسره کیږي او ویل کیږي چې دا تر ټولو ښه تقیه ده او تر څو چې امکان لري، ښه ده چې تقیه کوونکی توریه وکړي.

د بېلګې په توګه د حضرت یوسف د ورونو په کیسې کې چې کله د غنمو اخستلو لپاره هغه ته ورغلي وو، د قرآن د ایتونو له مخې، کله چې یوسف د هغوي بارونه وتړل، د دې لپاره چې بنیامین له ځان سره ایسار کړي، د دربار یو جام یې په پټه د هغوي په بار کې کېښوده او خپل ویندویي ته یې وویل: چغه کړي چې ای قافلې والو تاسو غله یئ. د ځینو روایتونو له مخې او په همدې اساس، د مفسرانو په باور، یوسف دلته یو مصلحت ته د رسېدلو لپاره تقیه وکړه او له توریې یې کار واخیست؛ په دې معنا چې د هغه مطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نه و چې پیمانه او جام مو غلا کړی دی؛ بلکې دا و چې تاسو ورونو، یوسف له خپل پلاره پټ کړی او کوهي ته مو غورځولی دی.

د اهل سنتو نظر:

په الموسوعة الفقهية الكويتية كتاب (هغه موسوعه چې د اهل سنتو په فقه کې په ۴۵ ټوکو) کې داسې راغلي دي چې د اکثره اهل سنتو عالمانو له نظره، د ضرورت په موقعو کې؛ یعنې په هغه وخت کې چې د ژول کېدو یا د ازار او ځورېدو او په کلي توګه د زیات ضرر وېره موجوده وي، د ضرر او تاوان د دفع کولو په اندازه تقیه جایزه ده.

هغوي د تقیې د جواز او مشروعیت د اثبات لپاره د آل عمران سورې په اتم او د نحل سورې په ۱۰۶ایتونو سربېره په روایتونو هم استناد کړی دی.

## د تقیې مخالف اسلامي مذهبونه

د اهل سنتو په مذهبونو کې وهابیان په تقیې د عمل کولو مخالفان او اعتراض کوونکي دي او شیعیان د تقیې د منلو او پرې عمل کولو په وجه ملامتوي. په شیعه مذهبونو کې هم زیدیه فرقه د تقیې مخالفه ده.

په تقیې باندې د ابن تیمیه او د هغه په پیروۍ د وهابیانو یو اعتراض دا دی چې تقیه یو ډول دروغ ویل او نفاق دی. په دې اعتراض په ځواب کې ویل شوي چې د تقیې معنا د نفاق له معنې سره پوره په تضاد کې او بل شان ده؛ ځکه چې نفاق د کفر او باطل پټول او د ایمان ښکاره کول دي؛ په داسې حال کې چې تقیه د ایمان پټول او د کفر ښکاره کول دي.

هغه رسالې او کتابونه چې په جدا توګه د تقیې په موضوع کې لیکل شوې دي ځینې یې دا دي:

- رسالةٌ فی التَّقیّة: د محقق کرکي لنډ شان اثر دی، د تقیې د فقهي حکم په اړه چې د رسائل المحقق الکرکي په نوم یو کتاب کې برابر شوی دی، درې ټوکه دی او د تقیې رساله یې په دوهم ټوک کې چاپ شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- رسالةٌ فی التَّقیه: د تقيې د حکم په باره کې د شيخ انصاري ليکنه ده. دا رساله له شيخ انصاري د ځو نورو رسالو سره د رسائل فقيه په نوم کتاب کې چاپ شوې ده.
- التقية: د امام خميني په قلم د تقيې د فقهې احکامو په بيان کې يوه رساله ده. د دغه رسالې ليکوال د هغه له تدريسه وروسته، په ۱۳۷۳ ق کال کې ليکلې ده. دغه رساله له ځو نورو رسالو سره د الرَّسائلُ العَشرة په نامه په يو ټوک کې چاپ شوې ده.
- تقيه از ديدگاه مذاهب و فرقه‌های اسلامی غيرشيعی: دا کتاب په عربۍ ژبه د ثامر هاشم العميدي کتاب دی چې محمد صادق عارف په فارسۍ ژبه ژباړلی دی. په دې کې د تقيې په اړه د اهل سنتو د څلورګونو مذهبونو د مشهورو فقيهانو نظرونه جاجول شوې دي. د کتاب ليکوال په دې نظر دی چې اهل سنتو فقيهانو هم تقيه جايزه ګڼلې او د هغې د جواز لپاره يې د قرآن او سنت په ځينو دليلونو استناد کړی دی.
- تقيه سپری برای مبارزه عميق‌تر: دا کتاب ناصر مکارم شيرازي ليکلی دی. د دغه کتاب چورليزونه دا دي: د تقيې د فقهي او اخلاقي اړخونو جاجول او موجودو پوښتنو او شبهو ته ځواب، د تقيې د لغوي او اصطلاحي معنا بيان، په بشري دينونو او د الهي انبياوو په سيرت کې يې مخينه، د تقيې هدف او قرآني، روايي، کلامي، اخلاقي او فقهي اړخونه يې، او په دې اړه متداولو او دودو پوښتنو ته ځواب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قَمه زَنی

قمه د تورې په څېر د جنګي آلاتو څخه ده چې دواړه خواوې یې تیرې او نرۍ دي. قمه زني د شیعه ګانو د ماتمونو له جملې څخه شمېرل کیږي چې د عاشورا د ورځې په سهار د سور رنګه بیرغ په پورته کولو د تپلې او یو ډول ساز په غږولو د حیدر حیدر نعرې په کولو سره د تورې او چاقو (قمې) په وسیله په خپل بدن ګوزارونه کوي تر څو یې له وجود څخه وینې وبهیږي، دوی دا کار د امام حسین رضي الله عنه لپاره کوي. دا ډول کړنه ځینو خرافات او په شیعه مذهب کې یو ډول توهین بللې ده، قمه زني له لسمې پیړۍ څخه په دې مذهب کې رایج شوې ده چې په ځینو هیوادونو لکه عراق، لبنان، هند ،ایران، افغانستان... کې ترسره کیږي. ځیني یې بیا د عاشورا د ورځې د شعائر یه توګه پېژني او وایي چې دا کړنه د مذهب د لا مستحکم او غښتلی کیدو لپاره کوي. خو د دوی په مقابل کې ځینو په دې وجه حرام بللی چې بدن ته په کې ضرر رسیږي او بدن ته ضرر رسول نامشروع عمل دی.

## سینه زنی(د سینې وهل)

په شیعه مذهب کې دا کړنه د نوحه( هغه څه چې د ماتم په مراسمو کې ویل کیږي) په ویلو سره د خپلو لاسونو په واسطه په سینې ګوزارونه کوي،د شیعه ګانو په باور د سینې وهل د اسلام له پیل څخه رواج ده، دوی نقل کوي چې ځینو مسلمانو ښځو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له رحلت څخه وروسته په سر او سینې یې ګوزارونه کول. د امام حسین له شهادت څخه وروسته زیاتې کړنې دود شوې چې یو له هغه څخه سینه وهل ده.

د دوی په نظر سینه وهل د ماتم او عزا سربیره یو ډول غم شریکي ده چې له امام حسین رضي الله عنه سره یې کوي. سینه وهل په عربو کې دود وه، ایران کې د شیعه مذهب د رسمي کیدلو سره د صفویانو پر وخت پرمختګ وکړ. سینه وهل مختلف ډولونه لري لومړی: په آرامه سره قوي ګوزار چې په څو ثانیو کې یو ځل کیږي، دوهم: متوسط چې قوي ګوزار ده خو دمه یکې کمه ده، دریم: ګوزار یې آرامه ده خو پرلپسې وهل کیږي یعنې دمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکې نشته او څلورم ډول یې دوه ضربه درې ضربه او څلور ضربه یې چې د هرې دمې ترمنځ یې وخت لږ ده خو ګوزار یې قوي ده.

یاده کړنه په مختلفو ځایونو کې په مختلفو طریقو سره تر سره کیږي، لکه د ایران په جنوب کې سینه وهونکی یوه حلقه جوړوي خپل چپ لاس د څنګ ملګري په ملا کې نیسي او په آرامه د نوحې ویلو سره خپله سینه وهي. همدارنګه د ایران په لارستان کې  قطاري سینه وهل په خوزستان کې د سه سنګ او نورو ځایو کې په مختلف ډول سره سینه زني کوي.

یوه ډله شیعه علماء د کړنه مستحب عمل او  ځیني حرام بولي. آیت الله خامنه ای او آیت الله شیرازي یې په هغه صورت کې صحیح نه بولي چې ځانونه پکې بربنډ کیږي په ځانګړې توګه په عامو ځایو کې او د ښځو په شتون کې ځکه دا بربنډتیا په ماتمونو کې مناسب او سم کار نه ده.

## د شیعه ګانو مهمې پیښې او ورځې

شیعه ګان د کال په لړ کې داسې ورځې لري چې په ځینو کې ویر او ځینو کې خوښي کوي. دا واقعې او ورځې عبارت دي له عاشورا، تاسوعا، اربعین، د زهراء اختر، د مباهله آیت، د فاطمیې ورځې، د محرم ویر، د شعبان نیمایي، همایش شیرخوارګان حسینی، د نهروان، صفین او جمل جګړه. رمضان د غدیر خم پیښه، د برات، جمعې او قدر شپې، عام الفیل او عام الحزن، د مکې فتحه، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم میلاد، معراج او هجرت چې د ځینو پیښو او ورځو یادونه به ترې په لنډه توګه وکړو:

### د محرم ویر

شیعه ګان د محرم میاشتې ماتم(ویر) د دې لپاره کوي چې په دې میاشت کې حضرت حسین او د هغه ملګري د هجري قمري په یوشپیتم کال په کربلا کې په شهادت ورسېدل. دا ماتم د محرم په لومړی ورځ پیل کیږي او د عاشورا د ورځې په غرمه کې چې د محرم لسمه ده اوج (لوړې درجې) ته رسیږي، د دې ورځې په ماښام کې دا مراسم د شام غریبان یعني د بېوزلو ماښام په نوم دوام پیداکوي. د محرم په ۱۲ دا مراسم د «سوم امام حسین»

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نامه ترسره کیږي. همداشان یاد مراسم د د دې میاشتې په ۱۶ مه «هفتم امام حسین» په نامه او شلمه یې د اربعین په نامه ترسره کیږي.

## د فاطمیې ورځې

هغه ورځې دي؛ چې شیعه ګان د بي بي فاطمې د شهادت (وفات)په مناسبت کی ماتم او ویر کوي. د بي بي فاطمې رضي الله عنها د شهادت په اړه د جماديالاول ۱۳ او جماديالثاني ۳ دوه خبرې ډيرې مشهورې دي. د جمادي الاول له يوولسمي تر ديارلسمي ورځې پورې، لومړی فاطميه او د جمادي الثاني له دريمي څخه تر پنځمي ورځې پورې دوهم فاطميه بلل کيږي. د فاطميې ورځې په جريان کې، په ځينو هيــوادونو لکه ايــران،عراق پاکستان او آذربايجان کې به ويرى(ماتم) غونډې جوړيږي.

## اربعين

اربعين چې لفظي معنی يې څلويښتمه ده، د شيعه مذهب هغه مراسم دي چې د عاشورا څخه څلويښت ورځې وروسته د صفر مياشتې په شلمه ترسره کيږي. کله چې حسين رضي الله عنه او د هغه ۷۱ تنه ملګري د کربلا په جګړه کې د عبيدالله بن زياد د پوځ له خوا شهيدان شول. اوس د هماغه وخت راهيسې څلويښت ورځې وروسته(د صفر په شلمې نيټې) يو لوی شمير شيعه ګان کربلا ته ځي او په نړۍ کې د تګ راتګ ترټولو لوی مراسم جوړوي. د اربعين باره کې د ايران مذهبي مشر علي خامنه اي وايي: په دې وروستيو کلونو کې يوه بې مخينه او بې ساري پديده هم راڅرګنده شوې ده او هغه کربلا ته پياده تلل دي. دا حرکت د مينې او ايمان حرکت دی. مونږ هم دغه حرکت ته له لرې څخه ګورو او له هغو کسانو سره غبطه(د هغو سره خوښي) کوو چې دا بريا يې وموندله او دا حرکت يې ترسره کړ. په دغې پياده تګ کې د برخه اخيستونکو شمير، احصايې له مخې ۱۲ تر ۲۰ مليون ترمنځ کې دي. صدام حسين واکمنۍ پرمهال، په اربعين مراسمو باندې بنديزونه ولګول شول، خو په ۲۰۰۳ ميلادي کال کې د بعث ګوند په سقوط سره، دغه مراسم بيرته را ژوندی شول او هرکال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عراقي شيعه ګانو سربيره، د نورو هيوادونو شيعه ګان، په ځانګړي توګه د ايران خلک هم د اربعين په لاريون کې برخه اخلي.

## تاسوعا

د محرم د مياشتې نهمه د تاسوعا په نوم ياديږي. په دې ورځ د عبيدالله ابن زياد په مشرئ يو سمبال لښکر له کوفې څخه کربلا ته داخل او شمرد ابن زياد ليك له ځان سره راووړ. د شام لښکر حسين عليه سلام کمزوری وګاڼه او دا سې يې وګڼله، چې عراقيان به ورسره مرسته ونه کړي. په دې ورځ حسين رضي الله عنه او ملګري يې په کربلا کې کلابند او د شام لښکر د هغه د وژلو لپار راغونډ شول. پر حضرت حسين او يارانو يې اوبه او خوراکي توکي بند شول او پوهيده، چې نور؛ نو ژوندي نه پاتې کيږي، د دښمن له لښکر څخه يې يوه ورځ نور وخت هم وغوښت. عمر بن سعد د امام حسين رضي الله غوښتنه ومنله او هغه ته يې پيغام ورکړ، چې يوه شپه وخت يې ورکړی، خو که سبا يې د امير اطاعت ونه کړ؛ نو ښه به درته نه وي. د همدې ورځې په مازيګر امام حسين د يوې خطبې په لوستلو له ملګرو سره خپله وفاداري اعلان او تر سهاره پورې يې تولو عبادت او صبر څرګند کړ.

## عاشورا

د ګران رسول داحاديثو او د اسلامي پوهانو د ليکنو پر بنسټ د عاشورا ورځ يوه مبارکه ورځ ده، چې له اسلام نه مخکې د جاهليت عربو او د يهود يانو په نزد هم د يوې سپيڅلې ورځې په نوم پيژندل کېدله او دوی به په دې ورځ کې روژه نيوله . د لغت پوهانو د تحليل پر بنسټ د عاشورا کلمه له (عشر) نه لکه څرنګه، چې د تاسوعا کلمه له (تسع) څخه مشتق دی، اخيستل شوې او مانا يې (لسمه ) ده، چې له هغه نه مراد د محرم د مياشتې لسمه نېټه ده، شيعه ګانو ته دا ورځ ځکه مهمه ده چې په کې حضرت امام حسين او د هغه نور ۷۲ تنه ملګري د کربلا په دښته کې د يزيديانو له خوا په مظلومانه توګه، په شهادت ورسېدل. د رواياتو له مخې، په دې ورځ حضرت نوح عليه السلام له سيلاب نه خلاصون وموند، همدا را ز حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابراهيم علیه السلام خدای تعالی د نمرودیانو له اور نه بچ کړ. د یو بل روایت له مخې، د حضرت یعقوب علیه السلام د سترګو ړوندوالی هم په همدې ورځ لېرې او هغه د حضرت یوسف علیه السلام وصال ته ورسېد. لوی خدای حل جلاله حضرت ایوب علیه السلام ته، هم په همدې ورځ، چې ډېر سخت ناروغ و، روغتیا ورپه برخه کړه، تر ټولو مهمه پېښه، چې په هکله یې ډېر روایتونه راغلي، هغه د فرعون له شره او ضرره د حضرت موسی علیه السلام او د هغه د قوم بني اسراییلو خلاصون دی، چې په ترڅ کې یې لوی خدای فرعون د نیل په سیند کې ډوب او بشریت یې د تل لپاره له بدیو او ناراوو نه و ژغوره، له دې نه اخوا حضرت عیسی علیه السلام هم په همدې ورځ آسمان ته پورته شو او عروج یې وکړ.

### د مباهلې آیت

د نجران له مسیحیانو سره د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مباهله د اسلام د لومړیو وختونو له پېښو څخه ده چې د پېغمبرصلی الله علیه وسلم د بلنې د حقانیت نښه ګڼل کیږي. دا پېښه همداراز په مباهلې کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د هغه د ملګرو حضرت علي رضي الله عنه، بي بي فاطمه رضي الله عنها او حسنینو رضي الله عنهما په فضیلت دلالت کوي. د آل عمران سورې ۶۱ ایت د مباهلې د پېښې خبره کړې او د مباهلې په ایت مشهور دی. شیعیان باوري دي چې د مباهلې په ایت کې حضرت علي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د نفس او ځان په توګه ګڼل شوی او له دې امله دا ایت د حضرت علي رضي الله عنه له فضایلو ګڼي. دا پېښه په شیعه او سني کتابونو کې نقل شوې ده. د سرچینو له مخې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د نجران له مسیحیانو سره له مناظرې او د هغوی د ایمان له نه راوړلو وروسته، د مباهلې وړاندیز وکړ او هغوی ومانه؛ خو په ټاکلې ورځ مسیحیانو د دې خبرې له کتلو وروسته چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپل د کورنۍ غړي له ځان سره راوستي دي، له مباهلې ډډه وکړه. مباهله د حقانیت د اثبات لپاره له خدایه د لعن او ښېرو غوښتنه ده او د دوو لورو تر مینځ کیږي چې هر یو یې د حقانیت ادعا لري. د دغه پېښې د واقع کېدو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځې او کال په اړه مختلف نظرونه موجود دي. مشهور تاريخ ليکونکي هغه لسم قمري کال ګڼي.

**د پېښې شرحه:**

د مباهلې په پېښه کې نجران د مسيحيانو لوي پاپ « که محمد په حقه نه وای، له خپلو ډېرو خوږو او نږدې کسانو سره به نه راتله او که له مونږ سره مباهله وکړي مخکې له دې چې کال تېر شي په ځمکه به يو نصراني هم پاتې نه شي.»په بل روايت، زه داسې مخونه وينم چې که له خدايه وغواړي چې يو غر له ځايه لرې کړي، ضرور به لرې شي. نو مباهله مه کوئ ګڼي هلاک به شئ او يو نصراني به هم د ځمکې په مخ پاتې نه شي.«
د اسلام پيغمبرصلی الله عليه وسلم د نړۍ د حکومتونو له مشرانو سره له خط و کتابت سره په يو وخت، د نجران اسقف (پاپ) ته يو ليک وليکه او د نجران استوګن يې د اسلام دين منلو ته وبلل. يو شمېر کسان د نجران د مسيحيانو په استازېتوب مدينې ته لاړل او په مسجد النبي کې يې له پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم سره کتنه وکړه. پيغمبر د ځان له معرفي کولو وروسته حضرت عيسی عليه السلام د خدای يو بنده وباله. هغوي ونه منل او له پلاره پرته د عيسی عليه السلام زېږېدل يې د هغه په خدايوالي دليل وګاڼه. د خپلو عقيدو په حقانيت د دواړو لورو له ټينګاره وروسته، فيصله دا وشوه چې مساله د مباهلې له لارې ختمه کړي. له دې امله وټاکل شوه چې د هغه ورځې په سبا، ټول د مدينې له ښاره بهر په صحرا کې د مباهلې لپاره تيار شي. د مباهلې د ورځې په سهار، پيغمبر صلی الله عليه وسلم له حضرت علي رضي الله عنه، بي بي فاطمه رضي الله عنها او حسنينو رضي الله عنهما سره له مدينې ووته. کله چې مسيحيانو وليدل چې پيغمبر له خپلو ډېرو خوږو او نږدې کسانو سره د مباهلې لپاره راغلی او د پيغمبرانو په شان د مباهلې لپاره په دوو زنګنونو ناست دی، له مباهلې تېر شول او د مصالحې غوښتنه يې وکړه. پيغمبر هم د جزيې د ورکولو په شرط د هغوي له غوښتنې سره موافقه وکړه. نجران ته د نصاراو له ستنېدو وروسته، د استول شوي پلاوي دوه مشران له ډاليو سره پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته ورغلل او مسلمان شول. اهل سنت مفسر فخر رازي (وفات ۶۰۶ق) ويلي دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفسران او محدثان په دې پېښه يو نظر لري. د مباهلې ايت د آل عمران سورې ۶۱ ايت دی چې د مباهلې واقعې ته اشاره لري: (فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَآءَنَا وَأَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَٰذِبِينَ).[سُوْرَةُ آل عِمرَان:۶۱]

ژباړه: تا ته ددې علم له راتګ څخه وروسته، که اوس څوك پدې باب ستا سره جګړه وکړي نو [اې محمده! ] ورته ووايه: "راځئ! هم به موږ او تاسې په خپله راشو؛ او هم به خپلې کورنۍ (زامن، لونې او ښځې) راولو او د خدای په وړاندې به دُعا وکړو چې که هر څوك درواغجن وي، پر هغه دې د خدای لعنت وي.

د شيعه عالم قاضي نور الله شوشتري په وينا، مفسران د نظر اتفاق لري چې د مباهلې په ايت کې «ابنائنا» (خپل بچيان) حسن او حسين «نسائنا» فاطمه ته اشاره او « انفسنا» حضرت علي ته اشاره شوې ده. همداراز علامه مجلسي هغه حديثونه چې په دې دلالت کوي چې د مباهلې آيت د ال عباس په شان کې نازل شوی، متواتر ګڼلې دي. په احقاق الحق کتاب کې (تاليف ۱۰۱۴ق) د اهل سنتو کابو شپېته سرچينې ذکر شوي دا جوتوي چې مباهله ايت د دغه کسانو په باره کې نازل شوی دی. پيغمبر صلی الله عليه وسلم :« قسم په هغه خدای چې زما ځان يې د قدرت په ولکه کې دی، چې د اهل نجران هلاکت نزدې شوی و او که له ما سره يې مباهله کړې وای، ټول به په شادوګانو او خنزيرانو مسخ شوې وو او دا ټوله وادي به ورته اور شوې وه او سوزېدلې به وو او حق تعالی به ټول اهل نجران تباه کړې وو او حتی د دوی په ونې به يو مارغه هم نه و پاتې شوی او ټول نصارا به په يو کال کې مړه شوې وو.

## عيدالزهراء(د زهراء اختر)

دغه ورځ چې د ربيع الاول نهمه ده، شيعه ګان ورته عيدالزهراء(د زهراء اختر) وايي د عمر رضي الله عنه د شهادت په مناسبت يې ترسره کوي، ياد جشن د صفويانو له واکمنۍ څخه پيل شو، خو کله چې په ايران کې اسلامي انقلاب راغی د روح الله خميني له لورې يې مخه ونيول شوه، د شيعه ګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځينو ځايونو کې په خاص ډول ترسره کيږي، په دې وروستيو کلونو کې د ځينو مراجعو له لورې يې په ښکاره ډول د ترسره کيدو مخنيوی شوی ده، ځيني شيعه ګان د دې اختر د ترسره کيدو مخالف او ځيني يې موافق دي.

## د شعبان نيمايي (نيمه شعبان)

د شعبان مياشتې پنځلسمه شپه چې مونږ ورته د برات شپه وايو د شيعه ګانو د دولسم امام (مهدي) د پيدايښت شپه ده، د دوی په اند ياده شپه د قدر له شپې وروسته له قدرمنو شپو څخه حسابيږي، په دې شپه کې ډول ډول مذهبي کړنې ترسره کوي لکه غسل، لمونځونه او دعاوې کول او داسې نور.. په ايران کې د جمکران جومات او په عراق کې کربلا هغه ځايونو دي چې په دې شپه کې سره شيعه ګان يکې را ټوليږي، د ۱۳۵۷ش کال له انقلاب وروسته د شعبان ۱۵ ورځ په ايران کې رسمي رخصتي اعلان شوه.

## همايش شيرخوارگان حسينی( د حسيني ماشومانو راټوليدنه)

دا مراسم دي د هغو ماشومانو په ياد کې ترسره کيږي چې د عاشورا په ورځ ووژل شول، د افغانستان په شمول ايران، هند، پاکستان، عراق، بحرين کې د محرم مياشت په لومړی هفته ترسره کيږي.

## افغانستان ته د شيعه مذهب راتګ

په افغانستان کې د شيعه مذهب د راتګ او د هغې د خپريدو په اړه اختلاف شته او دلته يې په اړه دوه اساسي نظريې ذکر کوو:

**لومړی:** د صفويانو په دوره کې د شيعه مذهب راتګ: ځيني په دې اند دي چې شيعه مذهب افغانستان ته د صفوي واکمنۍ په دوره کې او په تيره بيا د شاه عباس د واکمنۍ پر مهال داخل شو. دا نظريه لومړی ځل په ۱۹۹۵ ميلادي کال کې د وامبرې[۱] لخوا وړاندې شوه. هغه د هزاره ګانو د شيعه کيدو په اړه داسې وايي: "شاه عباس دوی مجبور کړل چې شيعه مذهب ومني." څه موده وروسته شرمين[۲] هم ورته نظريه وړاندې کړه:

۱- انګريز تاريخپوه
۲- ايرانی تاريخپوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

«شیعه مذهب یوازې د لویدیځ له لارې هزاره ګانو ته داخلیدلی شي، له ایران څخه چې په اسلامي نړۍ کې یوازینی مهم شیعه ملت دی. هزاره ګان لکه د پارسیانو په څیر دولس شیعه ګان دي... تر هغه وخته پورې چې د صفویانو تر ظهور پورې شیعه د دولت مذهب نه و جوړ شوی او ایرانیانو هم په بشپړ ډول هغه نه دی منلی... په دې توګه دې نتیجې ته رسیږو چې شیعه مذهب لږ وروسته د صفویانو ظهور، یعنی د شپاړسمې پیړۍ په شاوخوا کې یا له هغه وروسته، د زریزې په منځ کې یې لاره پیدا کړه.

داسې دلایل شته چې پر بنسټ یې ویلای شو: شیعه په ایران کې له رسمي کېدو مخکې په افغانستان کې د پام وړ شتون درلود، که څه هم په ایران کې د صفوي سلطنت ظهور بې له شکه د هغې په پراختیا کې رول درلود:

شیخ صدوق ابن بابویه چې د قم له سترو شیعه عالمانو څخه دی، په شیعه ګانو باندې د حکومت د سخت فشار له امله په قم کې ژوند کول ورته ستونزمن شول او د بلخ ولایت یوه کلي ته هجرت وکړ. د هغه ځای اوسیدونکي ټول شیعه وو، او شیعه ګانو د هغه تود هرکلی وکړ او له هغه څخه یې وغوښتل چې د فقهې کتاب ولیکي. په همدې کلي کې یې خپل مهم او مشهور کتاب من لا یحضرة الفقیه هم لیکلی دی.

د شاه عباس د زماني یو له معتبرو تاریخي اثارو څخه د عباسي واکمنانو د تاریخ کتاب دی چې د اسکندر بیګ ترکمن له خوا لیکل شوی دی چې په افغانستان کې د صفویانو له دورې مخکې شیعه ګان موجود وو. هزاره ګان د شاه عباس له وخته مخکې شیعه وو. د دین محمد خان ازبک تر قوماندې لاندې دوه یا درې زره هزاره پوځیان د شاه عباس د پوځ پر ضد جنګېدل.

**دوهم:** ځینې شیعه ګان په دې اند دي چې افغانستان ته شیعه مذهب د اسلام د راتګ سره یو ځای راغلی ده.

د دې نظریې له مخې په هزاره جات کې د شیعه ګانو ظهور د حضرت علي کرم الله وجه له پاچاهۍ سره تړاو لري. د ده د خلافت په زمانه کې د غور خلکو (په هزاره جاتو) اسلام قبول کړ او حضرت علي رضي الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غور مشر ته بیرغ ور واستاوه او هغه یې د همدې غره د امیر په توګه وساتلو. په دې توګه د غور د خلکو په زړونو کې د پیغمبراکرم د کورنۍ مینه ټینګه شوه.

## په افغانستان کې شیعه مذهب

د افغانستان شیعه ګان د نفوسو له نظره د افغانستان د خلکو دوهم مذهب ګڼل کیږي او د افغانستان شیعه ګان لکه څرنګه مو چې مخکې یادونه ترې وکړه په دوو فرقو ویشل شوي: دي:

- ✓ جعفري شیعه مذهب
- ✓ د اسماعیلیه شیعه مذهب

اسماعیلي شیعه ګان ډېر لږ دي او په "بدخشان" کې ژوند کوي. د شیعه ګانو اصلي نفوس له دولس امامیه شیعه ګانو څخه دی چې له هزاره، قزالباش، سیدانو، څخه جوړ شوي دي. شیعه ګان په فارسي ژبه خبرې کوي او د شیعه ګانو اصلي نفوس هزاره ګان دي، له همدې امله په افغانستان کې شیعه د هزاره مترادف دی.

د شیعه نفوس په اړه، ډیرې نظرونه شتون لري. د دې لامل د یوه ځواکمن مرکزي حکومت نشتوالی دی چې وکولای شي له قومي او نژادي فشارونو او نفوذ څخه په خپلواکه توګه عمل وکړي او هم د دې کار لپاره روزل شوي پرسونل او اړین تجهیزات چمتو کړي.

د افغانستان شیعه ګان چې د دې هېواد لس سلنه برخه جوړوي د پرله پسې جګړو او سیاسي بې ثباتۍ له امله د دې کار زمینه نه ده برابره شوې. دا د دې لامل شوې چې جعلي او پخپله جوړ شوي احصایې سره ډلې په قصدي ډول د شیعه مذهب د نفوس احصایې بدل کړي او شرایط د دوی په ګټه بدل کړي.

دا چې د شیعه ګانو ځینې مشران لکه محقق، خلیلي او دانش... د واک او دولت ترې دي. شیعه (هزاره) نړۍ ته د یو مظلوم او د دولت له امتیازاتو څخه محروم قوم ور معرفي کړي او له غربیانو په ځانګړي ډول امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخه امتيازات ترلاسه کړي، له ريښتيا او حقيقت ښخه لري په ډول ډول تبليغاتو او پروپاګندو لاس پورې کړ.

دوی وايي چې په ۲۰۱۱ ميلادي کال کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د آريانا دايره المعارف بيا کتنه او بيا چاپ کړه، چې په هغه کې د شيعه مذهب د وګړو سلنه په قصدي ډول د کوم معقول دليل له ذکر کولو پرته ډېره کمه شوې وه. په افغانستان کې په ۱۲۷۲ هجري شمسي کال کې د شيعه ګانو له لوی نسل وژنې مخکې، هزاره ګان په افغانستان کې يو له سترو توکميزو او مذهبي ډلو ښخه وو، چې تر ۱۹مې پيړۍ پورې د هېواد د ټول نفوس نږدې ٪۶۷ برخه جوړوي. مګر په ۱۸۹۳ ميلادي کال کې د دوی نيمايي نفوس په ډله ايزه توګه ووژل شو. د افغانستان د ډيموګرافي په اړه د خپلواکي او هر اړخيزې ښيرنې له مخې چې له ۲۰۰۶ کال راهيسې د کولمبيا پوهنتون د نړيوالو اړيکو په پوهنځي کې ترسره شوې ده، د افغانستان ۲۵ سلنه نفوس جعفري شيعه ګان او ۴,۵ سلنه اسماعيليه شيعه ګان دي.

چې دا له حقيقت ښخه لرې يا په عامه اصطلاح هوايي خبرې دي. د شيعه يا هزاره ډلې اصلي او دقيق شمير په افغانستان کې ٪۱۰ ده.

هزاره ګان په افغانستـــــان کې د شيعه ګانو تر ټولو لوی نفوس تشکيلوي قزلباش، سادات همدارنګه بلوچ، تاجک او پښتانه اقليتونه هم د شيعه مذهب پيروي کوي.

په افغانستان کې شيعه مذهب هيڅکله په اساسي قانون کې نه دی پيژندل شوی او د هيواد يوازينی رسمي دين حنفي دی.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**